
ناول
د دوندز
لیوان
لیکوال: احمدضیا سیامک هروی
ژباړن: علم ګل سحر
د دوندز لیوان

# د دوندر لیوان

**لیکوال:احمدضیا سیامک هیروی**

**ژباړن: علم گل سحر**

**۱۳۹۲**

**کتاب پیژندنه:**

**د کتاب نوم: د دوندر لیوان**

**لیکوال: احمدضیا سیامک هیروی**

**ژباړن: علم گل سحر**

**برښنالیک**:sahar.roshaan@gmail.com

**خپروونکی:**

**چاپځای:**

**شمیره:**

**د چاپ کال: ۱۳۹۲**

۱

پښه دې زما له ټټره ايسته که! پښتۍ دې راماتې کړې، هډوکي مې ماتيږي، نور يې نه شم زغملی. پښه دې زما له ټټره ايسته که! نور دې دخيرنې پښې د زغملو طاقت نه لرم.

پريږده چې ساه وباسم، ځه! نور مې سترګې د تا د ليدلو توان نه لري نو نه شم کولی ستا د بڼو په اشاره منډې کړم، ځه! نور ستا غلام نه يم، هغه ورځې هيرې کړه چې ستا ټوپک وم، دلاس لرګی دې وم، ډبره دې وم، ويل به دې ووهه، وبه مې وهل ، ويل به دې ووژنه، وبه مې وژل ، ودې ويل ژوندي ښخ کړه، ومې کړل، ودې ويل غاړبوجن يې کړه و کړل، ودې ويل ويې ژغوره، ومې ژغورل، ودې ويل لوټ يې کړه ، کړل مې.

پښه دې زما له ټټره ايسته که! نور يې نه شم زغملی، پښتۍ مې ماتيږي، ساه مې بنديږي، ته مسلمان يې؟ يه، ته مسلمان نه يې.ته دين نه لرې، خدای نه لرې، انسان هم نه يې، نو ته څوک يې؟ولې غواړې ما وځوروې؟ ما دا ډول مه وژنه! ټوپک دې را واخله په يوه ګولۍ مې مړ کړه! د بدن بند بند مې خوږيږي، هډوکي مې سوځي، دحرکت توان نه لرم. پښه دې زما له ټټره ايسته که! ساه مې بنديږي. د ملا د هډوکو د ماتيدو غږ مې اورم.

پر ما رحم وکړه. ما ته زرځله له مرګه ژغورلی يې. زر واره د تا په مخ کې ډال شوم، ته احسان هيرونکی يې، ته نامرده يې! پښه دې زما له ټټره ايسته که...نامرده! سينه مې د درد يو دوزخ دی.

در په ياد کړه! کله دې چې پر مټ ګولۍ ولګيده. درپه ياد کړه! کله چې دښمنې ډلې ونيولې. در په يادکړه! کله چې له خپله آسه ولويدې او پښه دې ماته شوه، څنګه مې د تا لپاره قرباني ورکړه او ته مې له مرګه وژغورلې. ته څومره احسان هيرونکی وې او زه څومره ناپوه. ته څومره ټيټ وې او زه څومره جاهل. ته څومره نمک حرامه وې او زه څومره کم عقل، ته څومره رزيل وې او زه څومره ساده زړی.

پښه دې زما له ټټره ايسته که!نور طاقت نه لرم، نور يې نه شم زغملی، ما ووژنه، په يوه مرمۍ مې خلاص که، خو ځوروه مې مه! پوهيږم ته څومره بې رحمه يې. پوهيږم ستا زړه د ډبرې دی، پوهيږم چې د آدم زات وينه تاته کوم ارزښت نه لري. زه له ځواني څخه ستا مزدور وم، په نوکر او چاکر دې رحم وکړه، يوه ګولۍ مې ووله، خلاص، يوازې يوه ګولۍ. په يوه بې ارزښته ګولۍ مې ارام کړه، هيله کوم، زارۍ کوم ما نور مه ځوروه.

پوهيږم ته نه دوستي لري نه ملګرتيا.پوهيږم چې له نامرده دمردې هيله کوم. پوهيږم چې پريکړه دې څه ده. ته غواړې ما تباه کړې، غواړې د کب غوندې چې له اوبو څخه يې نيسې، وتپيږم او ته خوند واخلې.

زه نور ستا په کار نه یم، ناتوانه شوم، لاس مې ماشې ته نه ورځي، زړه مې نور قتلونه نه غواړي، جرآت نه لرم، ټوپک مې ایسته وغورځاوو. له ما څه غواړې؟ پښه دې زما له ټټره ایسته که! پریږده یو څلور ورځې نورې د سرې غوندې ژوند وکړم. پریږده یو څلور ورځې نور خپل زوی ته چې د سروې غوندې جګیږي، وګورم. پریږده نور بې له دې چې وینې تویې کړم، داسې خلکو ته وګورم چې خوشحاله ژوند کوي او غواړي چې تیر هیر کړي.

پښه دې زما له ټټره ایسته که! زه نور ستا په درد نه خورم، زه خلاص یم. زه مړیم نور کوم کار کولی نه شم، ولاړ شه یوبل سړي وژونکی درته پیدا کړه، سبحان مړ شو، تا وواژه.دهغه له مړي څه غواړې؟

تا ژوند ترې واخیست. سبحان مړ شوی، خو ته تر اوسه غواړې چې زوی یې ټوپک واخلي او ستا په مخ کې ډال شي او ستا دښمنان له مخې لیرې کړي، لکه د تیرو کلونو په شان، لکه هغه وخت چې پلار یې لکه ونه د هر توفان مخې ته ولاړ و، لکه هغه وخت چې پلار یې ځوان و.لکه د ((لو)) د ورځو غوندې چې له څلورو خواوو دې خپل دښمنان ریبل. اوس هغه وخت نه دی، هغه وختونه تور غوایي وخوړل، سبحان مړشو، تا هغه وواژه. که داسې خبر وای چې ته دومره نامرده یې مخې ته دې دریدم او ته مې وژلې. په یوه وار مې ستا څلور ښځې کونډې او لس زامن مې دې یتیمان کول. ته اصلاً دکور سړی هم وې.

نه خاوند شوې نه پلار، یوازې دخلکو د ښځو، اولادونو او مال په فکر کې وې. ستا له څلور ښځو څخه دری یې د زور او غلا دي. په یاد دې دي چې ارباب څه درته وویل؟ لیرې مه ځه، دغه نږدې وختونه در په یاد کړه! کله دې یې چې لور دهغه له کوره په زور وایستله او څو قنداغه دې وواهه، په وینو لړلې ږیره یې څه درته وویل؟

که دې هیر وي درته وایم یې، هغه وویل: «ظالم آخر وژل کیږي او ته ظالم یې چې شپاړلس کلنه نجلۍ له خپلې موره جلا کوې. لعنت پرتا لعین.» او اوس پر تا د خدای لانت(لعنت) اوري، ته به ډیر سخت مرګ ولرې، لکه زه چې د کرکې وړ شوی یم او دادی خپله سزا وینم، خو له خدایه غواړم چې سزا مې ستا غوندې نامرده کس په لاس نه وي. ته نامرده یې، ستا لاسونه زما ترلاسو ډیرچټل دي. پر ماشه ما ګوته کیکښله خو دا ته وې چې امر دې کاوه، تا زه په څیرونکي لیوه بدل کړم، له دغه وري تا لیوه جوړ کړ او اوس چې یې دپښیماني او توبې وخت دی لا هم ته یې چې ترې غواړې د لیوه غوندې مړ شي، دا لیوه نور لیوه نه دی. لیوه مړ شو، بې سلګو او بې ساه دی، خو ته یې له مړي څخه هم لاس نه اخلې.

ولاړ شه ما پریږده چې آسوده شم. ما پخپل حال پریږده، پریږده ساه مې جوړه شي تر څو لږ پخپل حال وژاړم، یوڅه اوښکې تویې کړم، یوڅه دهغه لیوه په حال وژاړم چې دګور پر غاړه دی او دپښیمانۍ بوغارې وهي. پښه دې زما له ټټره ایسته که او زوی مې بیرته راکړه!

– سبحانه چای دې وڅښه!سړیږي.

سبحان خپلې میرمنې ته وکتل او د خپلو خیالونو له ژورو راووت:

– چای نه څښم، لږ تریاک راکه!

– دا اوس دې وشکول، تا به ووژني.

– نو بیا چلم تازه کړه!

نجیبه ولاړه، د چلم په څرخانه یې یوڅه تنباکو ودوړول، د دیګدان له ایرو څخه یې په انبور سکروټه را وایسته او پر چلم یې کېښوده، چې هغه یې دخپل خاوند مخې ته ایښوده، ویې ویل:

– ساړه دې نه کیږي؟ راځه تر صندلۍ لاندې ځمله.

سبحان څه ونه ویل خپلې ښځې ته یې وکتل. د ښځې د مخ ګونځو ولړزاوه:

– نجیبې ته ډیره زړه شوې یې!

د نجیبې په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې، څه یې ونه ویل، مخ یې واړاوه، په لړزیدلو ګامونو له دروازې ووتله او په تیاره پخلنځي کې ورکه شوه.

سبحان د چلم دروی په لاس کې ونیو، څو سخت کشه یې وکړل. کوټه له لوګي ډکه شوه او هغې وړانګې چې د کوټې له یوازنۍ چولې څخه کوټه رڼاکوله لوګی سره وپاشه.دلوګي کړۍ خپې خپې د کوټې چت ته پورته کیدې او څو شیبې وروسته ورکې شوې او همداسې دغه پورته تګ او ورک کیدل یوپه بل پسې تکرار شول.

سبحان له څو کشونو وروسته چلم کېښود او ګلدوزي شویو سپینو ټوټو ته چې ده ته مخامخ په دیواله راځړول شوې وې کتل، ټوټه زړه شوې وه او دګلانو رنګ یې تللی و.

تر ګل لاندې لیکل شوي و((مبارک)). دا د ده او نجیبې د کوژدې یادګار و. نجیبې په څه شوق او مینه دا دستمال ګلدوزي کړی و، چې د میړه په کور کې یې پر دیوال را وځړوي او ترې لاندې پر میخ دخپل خاوند جامې راوځړوي. وخت په چټکۍ تیر شوی و، د((معلومه)) کلي سلګونه ځوانان وژل شوي ول او دیرش ژمي یوپه بل پسې تیر شوي ول.

دختو کور یې کنډواله شوی و او هستي ونیستي یې ورسته شوې وه، لکه دوی چې زاړه شوي ول، بې له دې چې پوه شي ژوند څه دی. چې واده یې کړی و، جګړه پیل شوې وه او سبحان یې چې ښه ښکاري و، له ځانه سره غره ته بیولی و.

سبحان غږ وکړ:

– نجیبې!

نجیبه څو شیبې وروسته راننوته، پرمخ یې د اوښکو لارې لوګي تورې کړې وې، برنجي کفګیریې چې رنګ یې سوروالي ته نږدې شوی و، په لاس کې و.

– څه وایې؟

– ورشه د ګنبتي له خاورو څخه زما ټوپک راوباسه!

نجیبې ترخه خندا وکړه ویې ویل:

– زړه ملنډې وهې! ټوپک موپک نسته(کفتار)ستا زوی او ټوپک دواړه یوورل.

هغې دا وویل او یوځل بیا په ژړا شوه، دومره یې وژړل چې سبحان نور زغم له لاسه ورکړ:

–بنځې بس کړه! زه ستا ژړا نه شم لیدلی. زوی دې بیرته راولم. ولاړه شه زما په زخمونو مالگه مه شینده!

نجیبه په سلگوسلگو بیرته پخلنځي ته ولاړه او سبحان بیا په چورت: نامرده تا زما زوی بوت، زما مصطفی دې یرغمل کړ، که دې دیرش کاله زه وغولولم او له ما دې جلاد جوړ کړ، اوس هغه وختونه غوایي خوړلي.

زر افسوسه چې ته مې ناوخته وپیژندې، ته غل او داړه مار وې او زه یو خامه خوله هلک. ټولو ټوپک درلود، چا ددولت په پلوي، ځینوهم دمجاهد په نامه لکه تاغوندې ځناور او کوربل، د غره د کرلیچونو غله و او یوازې یې په برید او ونډه فکر کاوه. غلطه کړې مې وه.

غولیدلی وم، تر څو چې پوهیدم ناوخته شوي و، تر څو مې چې ته پیژندې سل دښمنان مې لرل. ټول زما د وژلو په فکر کې ول، ځکه چې ما وژلي ول. ترڅو چې پوهیدم ته حرام خور او دکرلیچونوغل یې، دبیرته گرځیدو لاره نه وه راته پاته.څومره سخته ده چې یو ښکاري لاره غلطه کړي او دکولیچونو غل شي. زما دپښو ځای د(بند سبزک) دهربوټي او ډبرې په یاد دی. د«دمجو» د هرې ډبرې په ټنډه د وینو هغه ټاپې شته چې ما و تا توییي کړې دي. ناحقه وینې: د مسافر وینه، د عسکر وینه، د شپانه وینه، د ملا وینه، د معلم وینه، د مامور وینه، وینه، وینه، وینه...

له تابه مې پوښتل تر څو به قتلونه کوو؟ تابه خندل ویل به دې: تر څو چې مرمۍ لرو. مرمۍ هم د خلاصیدو نه وې. داسې لکه چې د دنیا ټولې مرمۍ دې وطن ته راوړل شوې وي، هر څومره چې جنگیدو، هر څومره مو چې وژل، هر څومره مرمۍ مو چې ویشتې، نه تمامیدې. هر ورځ صندوق صندوق موږ ته رارسیدې.

د«معلومه»، «چارتاق» او «ارملک» دښتې نورې چولې بیابیان شوې وې د کر او کار لپاره څوک نه ول ، ټولو ټوپک درلود، چا د ځان د ساتنې او چا د داړه ماریواو لارې نیولو لپاره، چا د ولسوالي د ساتنې لپاره او چا هم د جهاد لپاره. ټولو ټوپک درلود، د کوز کلي خلکو د بر کلي خلک وژل، د سرک د ختیځې غاړې خلکو د سرک د لویدیځې غاړې خلک وژل، ټول یو له بل سره لویدلي ول، خو ته ډیرهوشیار وې. دکفتار غوندې په کمین کې غلی وې او کتل دې چې څوک کمزوری دی او څوک پیاوړی دی، څوک څه لري او څوک یې نه لري.

سوکه سوکه کلي تش شول، څوک ووژل شول، څوک ایران ته مهاجر شول، څوک ښار ته ولاړل او ځینې هم تري تم شول او ته د میدان یکه تاز شوې. نور هیڅ موټر له لارې نه تیریده او زموږ ورشو ته نور هیڅ رمه نه راتله او موږ مجبور و پر لیرې کلیو د شپې برید وکړو.

پنځلس کاله زموږ کار همدا و. خو یوه ورځ تمام شول، هرڅه تمام شول. طالبان راغلل، له موږ ټولو یې ټوپک واخیستل او هغوی د میدان یکه تاز شول. هره ورځ مرگ ته سترگې په لاره وو، فکر مو کاوه ډیر ژر به بندیان یا په دار وځړول شو.خو دغو خلکو هرڅه هیر کړي ول. لکه موږ چې د«بند سبزک»، «دمجو» او «مسجد چوبی» د ډبرو پر مخ وینه نه وي توییې کړې، اوبه مو پرې شیندلې وي. لکه چې موږ د خلکو مالونه نه وي لوټ کړي، بلکې هغوی ته مو بخشش ورکړی وي. ټول لاس په سینه و. اصلاً دوی هیر کړي و، چې موږ څوک یو او څه مو کول. د طالبانو امارت هم اوږد عمر نه درلود. امریکایان راغلل او دوی ټول وتښتیدل. څوکاله ښه ارامي وه. خلک ورووړو له نورو ملکونو راغلل. دښتې یوځل بیا شنې شوې او په ویالو کې اوبه روانې شوې. له کرخه تر «ارملکه» پورې

سرک پوخ شو او دموټرو دتګ لارې تر «پهلوانانو» او «ګله بید» پورې ورسیدې. تیره جګړه هیریده او نور له پخوانیو وژنو لړ خبرې کیدې چې ناڅاپه ته راپیدا شوې. بیا دې د لارو نیولو هوډ کړی و. ویل دې ((د کرلیچ د سر غل چې وم، یم. اوس لا غوړې مړۍ دي))سبحان سوړ اسویلی له خولې ویوست. سترګې یې لا پر دیوال په هغه زړه ټوټه کې وې چې کوږ ووږ «مبارک» پرې لیکل شوی و. د ګلدوزي شوې ټوټې پرسر په میخ یې لونګۍ ځړول شوې وه او تر ټوټې لاندې یې زاړه کالي یو پربل ځړول شوي ول چې ټوټه تر هغو لاندې راوتلې وه. دوه زړې او رنګ بایللې توشکې(نیالۍ) د کوټې دوو دوړونو ته هوارې وې. د سبحان سر د بالښت له یوه کونجه ډډې ته کوږ شوی و او تنې یې د کوټې د نازک فرش پرمخ د ځمکې سوړوالی بویاوه. دتریاکو اغیز چې څو شیبې دمخه یې څکولي ول سوکه سوکه کمیده هغې ښیښې چې د کوټې په یوه چوله لګول شوې وه د لمر وړانګې یې په دایروي شکل کوټې ته راوستلې او تر څو دقیقو پورې بالښت ته د سبحان سرته رسیدې. سبحان له ګلدوزي شویو ټوټو څخه د بوټونو په لوري چې د باندې خواته یې مخونه اړولي ول، سترګې واړولې، څو شیبې یې په ځیر ورته وکتل او ناڅاپه یې غږ وکړ:

—نجیبې!

څو شیبې وروسته نجیبه په دروازه کې ودریده او هماغسې چې د ټیکري په پیڅکه یې خپله پوزه پاکوله د خپل میړه امر ته منتظره شوه.

—یوه ګوله ډوډۍ راکړه چې په مصطفی پسې ځم!

نجیبه بې له دې چې کومه خبره وکړي بیرته پخلنځي ته ولاړه او شیبه وروسته یې د سبحان مخې ته دسترخوان هوار کړ او د قروتو کاسه یې په منځ کې کینبوده. د ټیکري له پلو څخه یې دوه پاستې ډوډۍ او یو پیاز راوایستل. پیاز یې میړه ته ورکړ وروسته یې د ډوډۍ پاستې د قروتو د کاسې خواته کینبودل سبحان په سوک پیاز میده کړل له سپینولو وروسته نیم نجیبې ته ورکړ. د کوټې په سړه هواکې د قروتو له لوښي تاو پورته کیده او د ژیړو غوړو بوی په فضا کې تاویده. نجیبه د خپل خاوندې لومړۍ ګولې ته سترګې په لاره وه تر څو یې په ملا پورې نښتی نس په څوګولو(مړیو) ارام شي خو خاوندې د پیازو ټوټه هماغسې په لاس کې نیولې وه او د تلو لپاره په تدبیرونو یې فکر کاوو.

— سبحانه وخوره چې ساړه شول.

سبحان پورته غورځارشو، ویې ویل: بسم الله که!

د خاوند لاس کاسې ته ور اوږد شو او وروسته ښځې په ځنډ ګوله ورپوته کړه. شیبه وروسته د قروتو کاسه تشه او له تند اوتریخ پیازه د هغه له پټوکي پرته څه نه و، پاته. سبحان وروستۍ مړۍ تیره کړه او چې خپل غوړ لاس یې د دسترخوان په پیڅکه پاکاوه، خپلې میرمنې ته یې وویل:

—هر ځای چې وي پیدا کوم یې له غوږه یې نیسم او راولم یې. هیڅوک زما مخه نه شي نیولی.

نجیبې هغه ته وکتل په نهیلۍ یې وویل:

— سبحانه ویریږم. هغه ډیر بد سړی دی. ډاریږم چې ته ورشې تابه هم ورسره وګرځوي.

سبحان په ترخه خندا وویل:

– یه هغه نور بې غاښو لیوه نه غواړي. هغه د مصطفي غونډې ځوانان غواړي. زه نور د هغه له کاره لویدلی یم.
سبحان دا وویل او له ځایه ولاړ شو. د وجود هر بند یې درد کاوو. کوږ ودرید. لاس یې ملا ته ونیو او ځان یې سم کړ. د ملا په سمیدو سره یې د هډوکو د ټکهار آواز واوریدل شو. میرمنې یې تر شونډو لاندې وویل: ویریږم چې د کلي د شا تر کږلیچه به تګ ونه شې کړای.
سبحان سره له دې چې وایې وریدل ښځې یې څه وویل، خو ځان یې ناګاره واچاوه ویې پوښتل چې څه دې وویل؟ ښځې خپله خبره تکرار نه کړه، خو ویې ویل یو څوک درسره بوځه!
سبحان د تاخچې خواته ولاړ او د پردې په ایسته کولو سره یې د میز له سره خپله کمپله واخیسته او په اوږو یې واچوله وروسته یې خپل بوټونه پښو کړل ښځې ته یې وویل: زه پوهیږم چې څه وکړم. ته په پسونو پام کوه، کیدای شي زه دوه درې اوونۍ وروسته راشم. هغه دا وویل او خدای پاماني یې وکړه.
د«معلومه» کلی د کرخ په شمال کې د هغې غونډۍ په زړه کې چې څلورو خواوو ته یې د غنمو فصلونه دي، پروت دی. او له هرې خوا معلومیږي، ښایي له دې خاطره یې نوم پرې «معلومه» ایښی وي.
کله چې د«چارتاق» له غره څخه چې له دې کلي لیرې غځیدلی دغه کلي ته ګورې د خاورې ګونبزې ته ورته دی چې په منځ کې یې لکه د مچیو ځاله څو کورونه له یوبل سره نښتي دي او شاوخوایې بې شمیره کرنیزې ځمکې. سړک د کرخ سیند تر څنګ غځیدلی دی کله چې له سینده پورې وځې باید لاندې ولاړ شې تر څو له لیرې د «معلومې» کلی معلوم شي. دلارې ترڅنګ د غونډۍ سر ته نارسیده د نار په دوه متري کې د یوه ځوان مزار دی چې په مخکې کلونو کې وژل شوی دی. د مزار بیرغونه ریتاړې ریتاړې شوي دي او لمر یې رنګ سپین کړی دی د قبر پر سر د غرڅې کوپړۍ چې ښکرونه یې یوله بل سره اوبدل شوي ول، تر سترګو کیده. دغه کوپړۍ یوې مور چې زوی یې په جګړو کې تری تم شوی و، دلته راوړې ده. تر څو یې د مورنۍ مینې له مخې په خیال کې یو قبر زوی ته په پام کې نیولی وي او ددې کوپړۍ په ایښودلو سره د هغې هوسۍ غونډې چې د زوی لپاره تپیږي، دهغه لپاره وتپیږي او اوښکې تویې کړي. هغه له دې بې خبره وه چې هم غرڅې او هم هغه نامراده ځوان د سبحان له لاسه ګولۍ خوړلې وه.
دځوان له قبره چې تیر شې، پیچومی خلاصیږي او د «معلومه» لاره د داسې مار غونډې درته ښکاري چې کوږ ووږ کلي ته ننوتی وي او کله چې د غونډۍ له سره د شمال خواته ګورې د ولیې ونې چې د«شربت» او «طاهریانو» له کلاوو شروع کیږي د کرخ ولسوالي د ناجو تر ونو پورې رسیږي او له هغه وروسته ډیر لیرې ځمکه له آسمان سره غوټه کیږي او دوړې په شنه آسمان کې ننوځي.
ختیځ ته چې ګورې د«معلومه» لمنې د «دوندر» له غرونو سره تړل کیږي چې لمر د هغو له لوړو څوکو څخه هر سهار هرات رڼا کوي.
د«معلومه» له زړه او د ختینو کورونو له منځه درې لارې یو د ((ژیږ کمر)) بله د ((مودود)) کلا او دریمه د ((خالق)) کلا په لوري جلا کیږي.اود«معلومه تګاب» د کورونو له منځه اوبه چې له آسماني غره څخه سرچینه اخلي ددغه کلي کروندو او کورونو ته جاري کوي.

سبحان له کوره راوتلی و او له څو پس کوڅو څخه له تیریدو وروسته مودود کلا ته رسیده، هوا سړه وه او هغه باد چې له سبزک بند څخه راولاړیده او د معلومه دښتو ته رسیده، د واورې بوی یې له ځانه سره راوړ.د معلومه ځمکې خال خال واوره لرله او په هغو ځایونو کې چې اوبو وړي ول لږ زیاته واوره ښکاریدله.

سبحان له څه مزله وروسته مودود کلا ته ورسید، مودود کلا د څو ختینو کورونو او څو جریبه ځمکې مجموعه وه، چې ځمکې یې له هغه کاریز څخه چې له غره څخه را بهیده او پر لاره یې څو نور واړه کلي هم اوبول، خړوبیدې.

سبحان هغه کورته ورسیده چې مخې ته یې له کاریز څخه رابیله نرۍ ویاله تیریده او«تیلی» ته رسیده چې اوبه پکې زیرمه کیدې.

سبحان د دروازې ځنځیر وشرنګاوه، چې آواز یې له بامه د تازي له غپا سره یو ځای شو، ځنځیر یې نور هم وشرنګاوه او یوه کونج ته د کور د خاوند راتګ ته سترګې په لاره شو، څو شیبې وروسته دروازه خلاصه شوه ، عبدالباقي را ښکاره شو.

شپږ څلویښت کلن عبدالباقي څه موده دمخه له ایرانه راغلی و، دی له ونې لږ ټیټ تیزې ځرځې سترګې او جګه پوزه یې لرله، په دې ورځو کې یې په ږیره کې یو دوه سپین ویښتان هم پیدا سوي ول، او ږیره یې اوس شیناوۍ شوې وه، چې په سبحان یې سترګې ولګیدې د زړه له اخلاصه یې وخندل او د هغه په لاسونو ور پریووت:

– استازه لاره دې غلطه کړې، ته او دا خوا؟

سبحان چې ډیر ستړی و، څه یې ونه ویل عبدالباقي د کور له دالان څخه څلور پله یې لرګینه زینه راواخیسته ، بام ته یې کیښوده او په دې ډول یې هغه کورته را وباله. د عبدالباقي میلمستون د انګړ پر سر جوړ شوی و د ورختلو آسانه لاره، ورته د زینو ایښودل و چې نارینه میلمه نورو ته له مزاحمته پرته هلته ورته.

سبحان په احتیاط په زینه پورته شو او میلمستون ته ننوت. د عبدالباقي میلمستون یوه وړه څلور متره کوټه وه چې دده د مور له خوا په اوبدل شوي ټغر فرش شوی و، او پر هغه سیم چې د کوټې په چت پورې له جنوبه د شمال خواته کښل شوی و، څو انار، بهۍ او کدوان ځړول شوي ول، کړکۍ ته مخامخ ښکاري ټوپک پر میخ را ځړول شوی و.

په میلمستون کې عبدالباقي له سبحان سره د احوال له لنډې پوښتنې وروسته، له دروازې سر ویوست کورنۍ ته یې دچای راوړلو وویل او وروسته سبحان ته مخامخ کیناست، ویې ویل:

– استازه څومره عجیبه دې خواته؟

سبحان چې په بالښت تکیه کوله ویې ویل:

– هغه نامرده زما مصطفی له ځانه سره غره ته بیولی دی.

عبدالباقي چې مصطفی پیژاند او د سبحان ژوند ورته معلوم و، سمدلاسه پوه شو چې خبره څه ده، په ناراحتي یې وویل:

– سبحان کاکا اوس غره ته دپورته کیدو وخت نه دی. هغه کلونه چې جنګ و او خلک غرونو ته پورته کیدل، تیر شول. اوس دا نامرده څه غواړي؟

– هیځ! داړه ماري او غلا. هیله مې داوه چې زما یوازینی زوی زما پر پله پل کینږدي، چې تیر شول عبدالباقي له ماسره مرسته وکړه. زه نه غواړم زوی مې د هغه غوندې داړه مار شي.

عبدالباقي د سبحان شاګرد و او په ځوانۍ کې یې د ښکار هنر ور زده کړی و. دوی دواړه له جګړو دمخه په ښکار کې یو ځای و، د((دوندر)) دغره هره ډبره ورته معلومه وه او د هغه غره هر کږلیچ یې په ذهن کې و. کله چې شورویانو پر افغانستان یرغل وکړ او کرخ هم د هیواد دنورو ځایونو غوندې ناامنه شو، هرچا ټوپک واخیست، د دوی دواړو لاره جلا شوه. عبدالباقي چې نوی ځوان شوی و او پرزنه یې واړه واړه نازک تارونه راشنه شوي و، د سبحان په ټینګار ایران ته ولاړ او کلونه هلته پاتې شو.

عبدالباقي د سبحان له خبرو وروسته غلی شو، نه پوهیده د هغه د خبرو په ځواب کې څه ووایي. هو یا یه، دواړه ورته سخت و. سبحان پوښتنه وکړه:

– باقي خانه په کوم چورت کې ولاړې؟ که له ماسره نه ځې مردانه ووایه چې نه ځم، ولې غلی شوې؟

عبدالباقي وخندل ویې ویل:

– «چای نخورده جنگ نمی‌شود» وروسته به خبرې سره وکړو.

هغه دا وویل او د چای راوړلو لپاره یې اجازه وغوښته. چې له وره ووت سبحان د چلم فرمایش ورکړ عبدالباقي په یوه کلیمه د هغه غوښتنه ومنله: په سترګو.

څو دقیقې وروسته عبدالباقي د چای له پتنوس او چلم سره راغی، په داسې حال کې چې چلم یې د سبحان مخې ته ایښوده وپوښتل:

- استازه څه فکر کوې مصطفی به یې چیرې بیولی وي؟

سبحان هغه ته وکتل له لږ ځنډ وروسته یې وویل:

– هغه ځای ته چې موږ پکې و. «آسمانی» غر، هغه ځای چې د هیچا لاس نه ور رسیږي.

د آسماني غره د نوم په اوریدو سره د عبدالباقي سترګو ته ددغه غره سختې څوکې ودریدې، هغه چې څو ځله دغه غره ته دښکار لپاره تللی و تر هرچا ښه ورته ددغه غره سخت او نه فتح کیدونکي حصارونه او څوکې ورمعلومې وې، هغه په داسې حال کې چې په پیالو کې یې چای اچاوو، سبحان ته وویل:

– استاده! ته هلته تلای شې؟ چې درته ګورم پوهیږم چې د څو کلونو مخکې سبحان نه یې.

سبحان چلم کش کړ ویې ویل:

- ته زما غم مه کوه. ته د خپل ځان په باب ووایه، غواړې له ماسره ولاړ شې که یه؟

عبدالباقي پرته له دې چې د هغه ځواب ورکړي، وویل:

- استازه، ستړی یې، ساه دې وکړه بیا به پرې غږیږو.

عبدالباقي سره له دې چې پرله پسې يې هغه ته له موسکا سره ست کاوه او استاد استاد يې ورته ويل خو په وجود کې دننه په اندېښنه کې و، هغه له سبحانه ويريده، د هغه له بې رحمي او وينې توييولو څخه خبر و. کله چې له ايرانه راغلی و، ورته ويل شوي و چې سبحان په څه وينې څښونکي ځناور بدل شوی دی، ورته ويل شوي و، چې سبحان په هغه وخت کې په خلکو څومره ظلمونه کړي ول، ورته ويلي يې و، چې تر چنګيز کم نه و. ورته ويلي يې و، چې سبحان د کړليچ د غونډۍ د سر غل و او هيڅوک له «دمجو»، «مسجد چوبی» او «خواجه چهارشنبې» او سبزک بند څخه د هغه له ازاره او زيان رسولو پرته نه شوای تيريدلی.

عبدالباقي اوس پوهيده چې دا سړی نه هغه پخوانی نيکنامه ښکاري دی، نه هغه له خدايه نه ويريدونکی د غره وينې څښونکی. عبدالباقي پوهيده چې اوس دا سړی مجبور دی او له هغه څخه يې مرسته غوښتې. خو بيا يې هم اندېښنه لرله او له هغه ډاريده ويل يې: د مړه مار نيش هم وژونکی دی. نه يې غوښتل د هغه ملګرتيا وکړي، دوه زړی و: ولاړ شي، ولاړ نه شي؟ او که هغه ته يه ووايي څه؟ که ووايي چې کار لري، ځواب به يې څه وي؟ پريکړه يې نه شوای کولی.

سبحان چې د هغه په زړه کې په دننه اور پوهيدلی و، وويل:

– عبدالباقي! زما لاس ستا ګريوان. له ما سره د آسماني غره تر نړدې پورې ولاړ شه، او بيا بيرته راوګرځه، زه له تا نوره هيله نه لرم.

عبدالباقي ځواب ور نه کړ لا دوه زړی و، د چلم لوګيو ته يې کتل چې د سبحان له سپږمو راوتل. د سبحان هډوکي راوتلي ول، سترګې يې پکې لويدلې وې او پوزه يې نرۍ او تيره شوې وه.

اوږده بريتونه يې له دواړو خواوو په ږيره ګډوډ راځړيدلي ول، په ږيره کې لږ تور ويښتان پاتې ول او د وزې غوندې ږيرې بيخ يې ژيړبخون شوی و، څيره يې ژيړه او سترې ښکاريده او په څيره کې ترياکي توب بريښيده. د عبدالباقي سترګو هغه د چلم د لوګي له شا تر هغه ډير ستړی او پريشانه ليده چې دی و او له هغه سره ملګرتيا يې د زړه له تله نه غوښته، په وجود کې دننه دوه زړه توب يې وروستي حد ته رسيدلی و، غوښتل يې ځواب ورکړي، ورته ووايي ځه انسان وژونکې، غله، بې رحمه، جنايتکاره زه له تاسره نه ځم. خو سبحان چې پر هغه پوه شوی و، نور يې د سوچ کولو وخت ور نه کړ:

– عبدالباقي! زه ايران ته ستا ترتلو وروسته بد سړی شوم، لاره وهونکی شوم، د ګردنې د سر غل شوم، خلک مې ووژل، خو د تا په حق کې مې ځوانمردي وکړه. ته مې له دې ځايه وشړلې، ومې ليږلې تر څو زما غوندې له چا سره بد ونه کړې، ومې شړلې تر څو لاره وهونکی نه شې، ته مې وشړلې تر څو ولاړ شې او ولاړې، ولاړې کله چې راغلې ټولې اوبه له ورخه تيرې وې. که دلته وای، خدای پوهيږي چې تقدير به دې څه و. اوس د هغو ټولو ښو له خاطره چې له تاسره مې کړي دي، ما هلته ورسوه او بيرته راوګرځه. د شپې په تياره کې ځو تر څو مو څوک ونه ويني.

– تا له ځانه سره ولم، ځکه په رسیدلو ډاډه نه یم. که په لاره مړشوم، ما تر یوه ډبره لاندې خښ کړه او هغه نامرد ته ورشه او ورته ووایه چې سبحان د خپل زوی د بیولو لپاره را روان، خو پر لاره مړشو او بیا بیرته راوګرځه. او که ژوندی ورسیدم، ستا کار خلاصیږي، بیرته راګرځې او خپل زوی او ښځې ته دې راځې.

هغه دا وویل، بې له دې چې عبدالباقي ته وګوري، پر چلم یې خوله کیښوده، د چلم لوګي کړۍ-کړۍ هوا ته پورته شول او د څرخاني سکروټې څلورو خواوو ته باد شوې. عبدالباقي نا ببره پریکړه وکړه چې له هغه سره تر آسماني غره پورې ولاړ شي، سبحان چې هر څوک و او هرڅه شوی و بیا هم دده دښکار د ورځو یار او استاد و، چې عبدالباقي یې په ټینګار سره ایران ته استولی و، تر څو په جګړو کې ونه وژل شي. عبدالباقي وویل:

– سمه ده استاده تا تر آسماني غره پورې رسوم، بیا بیرته راځم چې مور مې ناجوړه ده.

د سبحان زړه لږ آرام شو:

– څه ډول ټوپک لرې؟

– یو روسی امبلیس ټوپک دی. زما دوست عبدالحمید د «کشمیر» له رباطه امانت رالیږلی دی. تر اوسه مې لا ښه ټوپک نه دی پیدا کړی، ګټه مې کمه ده، دکور تر خرڅ نه زیاتیږي.

هغه دا وویل او د دیوال له میخه یې ټوپک راښکته کړ، د هغه د دوړو له پو کولو وروسته یې سبحان ته وویل:

– ډیر وخت کیږي چې ښکار ته نه یم تللی. څو ورځې کیږي چې مور مې ساه لنډي پیدا کړې ده، زړه مې و غره ته ولاړ شم او څو زرکې ښکار کړم، یخني یې کړم چې ویې خوري، سینه یې صافه شي.

سبحان په داسې حال کې چې د هغه له لاسه ټوپک اخیست، وویل:

– خدای دې یې روغه کړي. د بیرته راګرځیدو په وخت کې څو دانې ورته ښکار کړه، راپې وړه.

هغه دا وویل وروسته یې ټوپک لاندې باندې وکوت. د ټوپک ملا یې قات کړه، د میل منځ یې ښه وکوت، وروپې وویل:

– ښه ټوپک دی، ښکار کوي.

او پسې زیاته یې کړه:

– جنګي ټوپک کوم یو لرې؟

عبدالباقي وخندل ویې ویل:

– استاده هیڅ.

سبحان باور ونه کړ ورته ویې ویل چې د ماښام له لمانځه وروسته یې له خاورو راوباسه. عبدالباقي بیا وخندل او ویې ویل:

– استازه رښتیا وایم ټوپک نه لرم. خو که ضرور وي پیدا کوم یې.

– په کار خو ده او ډیر زیات ضرور دی. له لږ چوپتیا وروسته یې وویل: چې چای دې سور کړ د پیدا کولو فکر یې وکړه او تودې جامې هم واغونده چې لاره سخته ده او ساړه هم دي.

عبدالباقي په داسې حال کې چې چای یې سوراوه، وویل:

– پوهیږم استازه، پوهیږم.

سبحان چې په کابل کې دحربي ښوونځي څو ټولګي لوستي و، هرات په رخصت راتلو سره یې تحصیل پرې اینښی و. لیک لوست یې زده و، پر دري سربیره یې لږ لږ انګلیسي هم لوستی شوای. د ټوپک دوړې یې په لاس پاکې کړې له لنډه دقت وروسته یې وویل:

– په نهه لس سوه وشپیته کال کې جوړ شوی، ستا همزولی دی.

عبدالباقي وخندل:

– مهمه داده چې ښه ویشتی شي.

– ښکاري هم مهم دی، که نه ډیر ښه ټوپک لري، خو ښکار که اوښ هم وي، ویشتی یې نه شي.

دواړو وخندل، وروسته سبحان وویل: ځه د تلو تیاری ونیسه، یوساعت وروسته روانیږو.

□

...روان شول. سبحان هغه د تیرو کلونو غوندې چټک نه و. عبدالباقي چې د هغه تګ ته کتل ددغه زاړه ښکاري په ماته یې یقین وشو او له ځانه سره یې ویل چې هغه نور پخوانی تیز او چټک سبحان نه دی چې د «دوندر» غر به یې د غرڅې غوندې په یوه منډه فتح کاوه.

ماښام نږدې و او د لیندۍ میاشتې لمر د ورځې په بهیر کې د کرخ د تودولو هڅه کړې وه، خو زور یې نه و رسیدلی تر څودیخ وهلې واورې لیکې ویلې کړي. هوا سوکه سوکه سړیده او په آسمان کې د تورې وریځې یوه نیمه ټوټه ځای ځای لیدل کیده. له لیرې دې چې دوندر غره ته کتل د غره پر لوړه څوکه د وریځو یوې لویې ټوټې کیږدۍ وهلې وه. ددغې وریځې یو اړخ چې د ماښام بې ساه لمر وړانګه پرې پرته وه سوروالی درلود او دغه سوروالي وریځ لا توره ښکاروله.

هغوی له «سنجور» او «غوریانو» څخه تیر شول او د«پهلوانانو» لمنو ته ورسیدل، هغه ځای چې هره غونډۍ یې دوندر ته رسیدله. په دغو لمنو کې لکه چې سپین دسمالونه یې هر ځای هوار کړي وي، هر لوري ته به دې چې کتل ځمکه له واورې ډکه وه او شاوخوا پولو په هغو کې بخۍ تیرولې او هغه یې سره ګنډله.

سبحان چې له دې ځایه ډیرې خاطرې لرلې او پخوا به یې هر ښکار له دې ځایه پیلیده، عبدالباقي ته یې مخ واړاوه، ویې ویل:

– د دوندر غر د مینې وړ دی، زه پر دوندر مین یم.

عبدالباقي د هغه د خبرې په تایید وویل:

– چې په ایران کې وم داسې شپه نه وه چې تا او بیا دوندر په خوب ونه وینم. اول خدای بیا دې غره، موږ ته ډوډۍ راکړې ده.

– ټوپک دې پیدا نه کړ؟

– استازه دغه امبلیس بس دی. موږ خو څه جنګ ته نه ځو!

– ته هغه نامرد نه پیژنې، د لستوني مار دی.

عبدالباقي وخندل ویې ویل:
– له ماسره چې یې ټوپک دې باید ښکاري وي.
– ښه لړترلړه په دې درو کې چې یو جنګي ټوپک هم ولرو بده نه ده.
– هغه دبادامي قنداغ وال کره بین ټوپک دې په یاد دی؟

سبحان ځای پر ځای ودرید. د بادامي قنداغ وال کره بین ټوپک د نوم په اوریدو سره یې په ذهن کې د ښکار ټولې خاطرې ژوندۍ شوې. د کره بین وچ غږ او وروسته د دوندر د چټکو غرځو اوښتل را اوښتل او په درو کې د هغو د لویدلوآوازونو یې په غوږونو کې انګازې کولې. لکه پرون چې و. دبادامي قنداغ وال کره بین ټوپک ګولۍ خطایي نه لرله.

– استاده ولې ودریدې؟
– بادامي قنداغ وال کره بین چیرته دی؟
– د پهلوانانو په کلي کې، له خسروخان سره دی.
– هی هی څه وختونه و! له دنیا بې خبره و. درې وې، غرځې وې او موږ. نه موږ له چاسره دښمني لرله نه نورو له موږ سره کومه دښمني لرله. کاشکې د دوندر په همدې غرونو کې مړه شوي وای خو پړی مو د نامرده په لاس نه ورتلای.

عبدالباقي څه ونه ویل. ښکاري و او د ښکاري په زړه پوهیده، سبحان چې پر لاره روان و، ویې ویل:
– لکه چې نن شپه په پهلوانانو کې د پاتې کیدو نیت لرې. موږ پاتې کیدای نه شو او باید په شپه کې حرکت وکړو.
– ځو دخسرو خان کور ته. ډوډۍ مو چې وخوړه، یو ساعت ساه کوو، بیا کره بین راسره اخلو، ځو.

سبحان چې له درې ساعته مزله وروسته د استراحت په هیله و د عبدالباقي دغه وړاندیز یې خوښ شو او پخپله چوپتیا سره یې هغه پوه کړ چې لړترلړه د کره بین د اخیستو او لنډ استراحت لپاره یې دده خبره خوښه ده.

د پهلوانانو کلی د دوندر خواته پروت و، یوه لویه خاورینه غونډۍ وه چې لوی کیشپ ته ورته وه، پردې غونډۍ څو کورونه او څوسوه جریبه ځمکه وه چې بې سارې منظره یې لرله. د کلي دریو خواوو ته غر او جر و او د سپیدارو ونې له لیرې ښکاریدې. او هغه لوګي چې دکورونو له بخاریو هوا ته پورته کیده د غره په زړه کې د یوه کلي د ساه ایستلو نښه وه.

هوا تیاره شوې وه چې عبدالباقي او سبحان د پهلونانو کلي ته ورسیدل، هغوی څو شیبې د خسرو په کور کې ساه جوړه کړه او له څه خبرو او خاطرو له یادولو وروسته یې د شپې ډوډۍ وخوړه، کره بین ټوپک یې واخیست او روان شول.

هغوی اووه ساعته اوږده لاره په مخ کې لرله، باید د معلومه تګاب له څنګه تللي وای، ترڅو یې د دغې درې له کږلیچونو وروسته لاره کږه کړې وای او اسماني غره ته رسیدل.

سبحان او عبدالباقي په شپه کې له درى ساعته مزله وروسته «گله‌بيد» ته چې د دغې درې په منځ کې يوازنى کلى و، ورسيدل، او د معلومه څپاند تګاب يې له څنګه تيريده. هغوى ددې لپاره چې ددې ځاى سپي راويښ نه کړي او د ګله بيد د کلي چوپتيا ګډه وډه نه کړي، لاره چپه کړه، د معلومه تګاب له څنګه بلې درې ته وګرځيدل او له هغه ځايه له تيريدو وروسته يې بيا د تګاب له څنګه لاره ونيوله.

عبدالباقي چې د سبحان څيرې ته کتل، ډاډه نه و، چې دا زوړ سړى به منزل ته ورسيږي، له ځانه سره يې ويل: که په لاره ولويد څه او که ناڅاپه له ډبرې لاندې پريووت څه. ځکه يې پرهغه پام و او تل له هغه يو ګام دمخه روان و. خو سبحان د زاړه ليوه غوندې چې له لويدو او مرګه نه ويريږي، ګامونه اخيستل.

سره له دې چې ګامونو يې ورو و، خو دقت يې له لاسه نه ورکاوه. هغه دوه ځله له عبدالباقي څخه پټ د اورلګيت د سر په اندازه ترياک خوړلي و، هغوى چې هرڅومره پورته تلل، واوره پسې زياتيده او ساړه هم زياتيدل.

هغوى لمرڅرک د «ملخوله» ابشار ته ورسيدل، اوس نو د ساه اخيستلو وخت و، د يوې ډبرې لاندې کيناستل عبدالباقي د سترګو په رپ کې دوه تيرې څنګ په څنک سره کيښودې، يوڅه وچ لرګي يې راټول کړل، اور يې بل کړ او چاى يې دم کړ.

د ملخولې آبشار چې کابو دوه سوه متره لوړوالى يې درلود د دوو غرونو په منځ کې و. کله چې د دې آبشار له څنګه پورته کيدې، هغې لارې ته رسيدې چې ته يې د درې پاى ته بيولې، هغه ځاى چې د سبحان سرمنزل و، يوه زرمتري سيمه وه د مچيو داسې ځالې ته ورته وه چې له سترګو نهامه وي.

د اوبو شرهار او د زرکو آواز د درې دوه خواوې سره غوټه کولې او د هر ښکاري زړه يې لړزاوه. سبحان او عبدالباقي د زرکو د آوازونو په اوريدو د تازي سپيو غوندې بې کراره شوي ول او لکه چې په ښکار بنديز وي، ټوپک ته يې لاس نه ور ووړ. عبدالباقي په زړه کې پريکړه کړې وه چې که له کومې ستونزې سره مخ نه شي او په خيرت سره وګرځي، د زرکو په لوري به څو ډزې کوي.

دغه بې سروپايه دره له وحشي پسونو څخه هم ډکه وه نو ځکه يې دا سيمه ملخوله بلله. سبحان او عبدالباقي پخوا څو ځله دلته راغلي ول، هيڅوخت تش لاس نه و، تللي او هر وار يې څو غرڅې او زرکې ښکار کړې وې.

سبحان د چاى څښلو په وخت کې ليرې کتل، وروسته يې عبدالباقي ته وويل:

– دلته يو واقعي ښکارځاى دى. ښايي تر دې سيمې بل هيڅ ځاى زرکې او غرڅې پيدا نه سي، څومره برکتي دره ده، ځکه خو نادر له خپل ګروپ سره دلته قرارګاه جوړه کړې ده. هم له سترګو پټ دى هم په نس موړ دى. دغه نامرده دا سيمه کله پيژنده. دا زه کمبخته وم چې دى مې دې ځاى ته راووست او د لستوني مار مې ترې جوړ کړ.

سبحان يو ځل بيا په غوصه شو. په خيال کې يې نادر تر ستوني نيولى و او غاړبوجن کاوه يې. عبدالباقي د هغه د غاښونو کرچهار اوريده:

– کثيفه، نامرده، ډارنه، بې غيرته.

عبدالباقي د هغه د ارامولو لپاره وويل:

– ډير مه غوريږه! څه چې خداى کوي هغسې به وشي، چاى دې وڅښه!

هغوی دواړه د چای له څښلو وروسته روان شول له ابشاره په تیریدو سره داسې سیمې ته ورسیدل چې د تګاب په دواړو لوریو کې د انسان د لاس هیڅ نښه نه ترسترګو کیده او هیڅ ځمکه د کرنې لپاره نه وه اړول شوې تر څو چې سترګو کار کاوه ونې ښکاریدې چې د ژمي راتلو اوس هغه لوڅې کړې وې.

د یخ وهلې واورې پرسر د دوی د ګامونو آواز پورته کیده او دې آواز د څلورو خواوو زرکې کټولې او پورته تښتیدلې. له سبحان څخه کله کله د زرکو الوت دا هیرول چې د څه او چا لپاره په دې دره کې روان دی تر څو به یې چې زرکه له سترګو الونیا کیده ناڅاپه به یې د نادر څیره را یادیده او وبه لړزید، غاښونه به یې وچیچل او کنځا به یې وکړې.

څه شیبه وروسته نادر او د هغه ډلې ته ورلنډ شول، اوس نو دوی د قرار ګاه څو قدمي ته رسیدلي ول، یوازې د غره یو کږلیچ او د قرارګاه راښکاریدل پاتې و. که هلته نه وي څه؟ ټول زحمتونه یې خاورې کیدل، سبحان په زړه کې دعا کوله چې نادر له خپلو کسانو سره هلته وي تر څو د بند سبزک په نورو درو کې سرګردانه نه شي.

کله چې هغه ځای ته ورسیدل چې نور د نادر ځای ځایگی هرڅه ښکاره کیدای شوای، ودریدل. سبحان عبدالباقي ته وویل چې کیني تر څو یې ساه جوړه شي. دواړه یوې ډبرې ته کیناستل. سبحان کره بین ټوپک له اوږې راښکته کړ او له هغه وروسته چې میل ته یې مرمۍ تیره کړه، ټوپک یې را پورته کړ، لیرې ډبره یې په نښه کړه ویې ویل:

- خپله دی، هیڅ بدل شوی نه دی، مرمۍ یې نه خطا کیږي.

عبدالباقي وخندل ویې ویل:

– استازه لوز دې کړی چې څوک به نه وژنې! زوی دې راخلاصیږي. په حوصله او قناعت خلاصیږي، یوازې ته ماشې ته ګوته مه وروړه.

سبحان څه ونه ویل، لړزیده. لکه چې د تریاک خوړلو وخت یې و. عبدالباقي چې د هغه لړزیدا ته یې پام شوی و، د راتلونکي اندیښنه ورسره پیدا شوه له ځانه سره یې وویل: بده غوټه ده خدای دې یې په خیر خلاصه کړي او هیڅ وینې تویې نه شي. د سبحان لړزیدا پسې زیاتیدله. د درد احساس یې کاوه باید یوڅه تریاک یې خوړلي وای تر څو لږ ارام شوی وای هغه دا ځل له عبدالباقي څخه پټه نه کړه، لاس یې جیب ته یووړ او له پلاستیک څخه یې یوه توره ټوټه راوایسته، لږ یې جلا کړه، خولې ته یې واچوله او هغسې چې تیروله یې عبدالباقي ته یې وویل:

- وګوره! څه وخت کیږي چې زه په دې عمل اخته شوی یم. ټول د هغه له لاسه دي. د نادر نامرده له لاسه، د هغه خایین له لاسه.

د عبدالباقي زړه د هغه په حال وسوځیده، بې له دې چې څه ووایي پلاستیک ته ځیر و او پخپله چوپتیا یې سبحان پوه کړ چې په دې نازک وخت کې د ویلو لپاره څه نه لري.

سبحان له څوشیبو وروسته ارام شو، ناڅاپه یې خپل ټوپک د عبدالباقي ستوني ته ونیو، عبدالباقي ولړزیده او د ټوپک د میل سوړوالی یې پخپله غاړه احساس کړ، په بې باوري یې سبحان ته وکتل او د یخ له لاسه تړلې شونډې یې په سختۍ له یوبله جلا شوې:

- استازه خیرت دی؟
- له ځایه جګ شه!

عبدالباقي سوکه له ځایه پاڅید:

- استازه هسې نه زما د وژلو نیت لرې؟

سبحان په ترخه خندا وویل:

– یه تا نه وژنم. ماوتا سره ویلي و چې آسماني غره ته له رسیدو سره سم به بیرته ګرځې، اوس نو بیرته ځه!

د عبدالباقي لړزا کراره شوه او هغې ویرې چې څوشیبې د مخه یې د هغه ټول بدن نیولی و، کمه وکړه:

– استازه لا مالومه نه ده چې هغوی دلته دي که یه.

سبحان په ملنډو وخندل:

- زه د غرونو سړی یم. چې په تیره غوږ کیږدم، د ژوندیو بنیادمانو غږ اورم.

هغه دا وویل وروسته یې د غره بیخ ته اشاره وکړه:

– د نادر او د هغه د کسانو پلونه دي، وګوره!

عبدالباقي هغې خواته وکتل، د لارې څنګ ته د واورې پر سر د بنیادم پلونه ترسترګوکیدل.

سبحان پسې زیاته کړه:

– ما کلونه کلونه د دغه کثیف په پله پل ایښې او ښه یې پیژنم. که تا دلته ووینې د ده د پټنځای د رسواکیدو له ویرې دې وژني، ځه اوس ولاړ شه! دا چې خپله دنده دې ترسره کړه، خیر یوسې.

عبدالباقي ورو وویل:

- خدای پامان!
- مخې ته دې ښه. د میړنو راز له میړنو سره خوندې وي. له ملخولې چې تیر شوې مور ته دې څو دانې زرکې هم ښکار کړه.

دایې وویل او د ټوپک په خوله عبدالباقي پورې واهه چې حرکت وکړي. عبدالباقي بیا خداپامانې وکړه او روان شو.

سبحان سر په ډبره ولګاوه او د عبدالباقي لیرې کیدو ته منتظر پاتې شو، کله چې عبدالباقي لرې لیرې شو سبحان ته یې وکتل. سبحان په ډیره ارامۍ لاس ورته وښوراوه او بیا یې آسمان ته وکتل. تورې وریځې د آسماني تنګه دره پوښلې وه او د بې حرکته برستنې غوندې وه چې زړه یې اوریدو ته نه کیده.

هغه تورې وریځې او بیا لارې ته وکتل، عبدالباقي تللی و په واوره د پلونو له نښو پرته یې نور څه نه تر سترګو کیدل. له ځایه پاڅید چې څرنګ له کړلیچه را تاو شو، سترګې یې په هغه لوګي ولګیدې چې له ډبرینو خونو هوا ته پورته کیده.

□

مصطفی د یوې ډېرې پرسر ولاړ و. څو دقیقې د مخه د پیرې نوبت ورته رسیدلی و. هغه ځوان و او لکه خپل پلار چې په ځواني کې سړو تودو پرې هیڅ اغیزه نه کوله، سرسخت او اوسپنیز و. لوړ ونه یې هغه برج ته ورته وه، چې خدای د پیرې لپاره جوړ کړی وي.

هیڅ محرک جسم یې له ځیرکو سترګو نه خطا کیده. کله چې سبحان په هغه ځای کې پښنه کیښوده، سترګو یې لکه باز وزر پرانیستل او د یوه پردي په لیدو یې چې وسله وال هم و خپل ماشیندار له اوږو راکوز کړ او د هغه پښو ته د مرمیو د یوې ضربې په ویشتلو یې هغه ته د «دریږش» امر وکړ، سبحان ودریده په هغه واټن کې پیژندل سخت و، سبحان پخپل ټول قوت سره چیغه کړه:

– چې هر څوک یې، فیر مه کوه! خپل یم.

د سترګو په رپ کې په آر پي جي او کلاشینکوفونو سمبال دولس تنه له ډېرینو خونو راووتل. ټولو د هغه په لوري نښان صحیح کړ، خو مصطفی خپل پلار وپیژاند او په بیړه یې غږ وکړ:

– زما پلار دی، فیر مه کوئ.

نادر د دې جملې په اوریدلو په یټکي وخندل خپلو کسانو ته یې امر وکړ چې بیرته راوګرځي وروسته د یوې ډېرې سرته وخوت، لاسونه سترګو ته چترۍ کړل او مصطفی ته یې په کنایه وویل: لعنتي د خپل زوی بیولو ته راغلی دی، په زوړه خندا یې په ټوله دره کې تاو شوه: ها ها ها ...

هغه دا وویل او له مصطفی سره یو ځای د نابلل شوي میلمه مخې ته ورغی. سبحان سوکه سوکه ګام اخیست او په هر ګام کې چې نادر او مصطفی ته ورنږدې کیده د کار د عاقبت په باره کې یې اندیښنه وار په وار زیاتیدله مصطفی خپل ګامونه چټک کړل او د پلار ساړه او بې ساه لاسونه یې ښکل کړل وروسته یې پلار په غیږ کې ونیو او په سترګو کې یې اوښکې ډنډ شوې.

کله یې چې پلار ته غیږ ورکړه پوه شو چې د پلار په بدن کې یې یوازې هډوکي پاتې دي. زړه یې ولویده او وحشت واخیست. خو سبحان لکه د لړګي د ټوټې غوندې نه اوښکې تویې کړې او نه یې خپل زوی ښکل کړ او پخپلو کتلو سره یې نادر ته څرګندوله چې هیڅ بدل شوی نه دی او هغه سخت زړی او سخت سری سبحان چې و، دی.

نادر چې ټیټه ونه لرله او لا د پخوا په څیر غوښن او چاغ و، د خپل سر پر ویښتانو لاس راتیر کړ او بیا یې خپله ګڼه ږیره وخوځوله ویې ویل:

– د پخواني یار قدم دې په خیر وي! ښه راغلې هرکله راشې. ما ویل چې تللې اوبه بیا په ویاله کې راځي تاته سترګې په لار وم، خو نه په دې ساړه موسم کې. فکر مې کاوه په پسرلي زما لیدو ته راځې.

نادر مخته راغی او له سبحان سره معمولي روغبړ وکړ د هغه کره بين ټوپک ته په اشارې سره يې په زوټه وخندل ويې ويل:

– نه چې د غرڅې ښکار ته راغلی يې؟

سبحان د هغه ملنډو ته توجه ونه کړه:

– راغلی يم له تاسره خبرې وکړم. زه ستا سمڅې ته نه ځم دلته تر دې ډبرې لاندې کينه چې خبرې وکړو.

نادر هغه ته وکتل ويې ويل:

– ماته نادر وايي. ته ما ښه پيژنې او پوهيږې چې په دې سيمه زه حکم چلوم او پخپله د خپل ميلمه ميلمه پالنه کوم.

مصطفی د خپل پلار په غوږ کې وويل:

– پلاره راځه چې کوټې ته ولاړ سو. يخ وهلی يې، چای دې چې وڅښه په آرامي له هغه سره وغږيږه!

## ۲

د کرخ پر سر تورې وريځې يو بل ته رسيدې او زړه يې ژړيدو ته کيده. کله کله رڼايي سره د تالندې لړزونکې آواز د«ميرزا بهار» د کلي کورونه لړزول.

د ماښام خوا وه او تورو وريځو د کرخ له نورو ځايونو زيات د «ميرزا بهار» پر سر چې د بادغيس ولايت د لوېې لارې په جنوب کې د يوې غونډې په زړه کې پروت و، څادر هوار کړی و. د کلي خلکو مخکې له دې چې باراني وريځ خپل زړه تش کړي خپل غوايان او پسونه کورونو ته راوستي ول او غوجلو ته يې بيول، ځلوربولو هم لکه چې د ډارونکي توفان راتګ يې حس کړی وي خپل ګامونه ګړندي کړل او خپل پناه ځايونو ته يې بيړه لرله.

مصطفی پر کمند آس سپور د ميرزابهار په لوري په لوړو ولاړ و او له ليرې يې هغه کلي ته چې سوکه سوکه تر وريځو لاندې پټيده، کتل، څو شيبې وروسته ماښام د شپې په خوله کې ننووت تورې وريځې او د ورځې لنډون يوبل ته لاس ورکړي و او د رڼايي د کمولو او خوړلو چاره يې آسانوله.

د مصطفی آس د ډبرې پر سر ناکراره و او پښې يې پر ځمکه دربولې، تر څو يې څښتن مخکې له دې چې آسمان د خپلې وريځې بار تش کړي، دی پريږدي، اجازه ورکړي چې يوځل بيا ورته مخامخ دښته تر پښو لاندې کړي او د هغې په فتح کولو سره خپل د نيکونوآرامځای ته ورسيږي. خو مصطفی بې له کومې بيړې پښې په رکاب د آس ملونې په لاس په تيارو کې د ميرزابهار له ډوبيدو څخه خوند اخيست او په صبر سره د شپې راتلو ته سترګې په لار و.

له لږ انتظار وروسته مصطفی د آس واګې پرينبودې او هغه ته د حرکت امر ورکړ آس له لوړ ځايه څخه په شميرلو ګامونو را کوز شو او هوارې ځمکې ته په رسيدو سره وشښنيده او سرايله شو.

د باران غټو څاڅکو د سترګو په رپ کې د مصطفی بدن لوند کړ او د آس زین یې ومینځه، د میرزابهار سرې خاورې ډېر ژر ختې شوې او د آس تر ګامونو لاندې څلورو خواوو ته الوتې.

کله کله به له تالندې او برښنا سره دښته رڼا شوه او آس به له ویرې وششنیده او ګامونه به یې نور هم تیز کړل، مصطفی داسې په آس پورې نښتی و، لکه چې د باران جنګ ته ځي د باران څاڅکې لکه د ټوپک له خولې څخه ویشتل شوې ګولې دده پرمخ څپېړې اورولې او دده سترګې یې ورپټولې او دده پر غمبورو یې له ځنډه پرته ضربې کولې.

مصطفی میرزابهار ته، ته. چې ملا رمضان غلی راولي او له نګارې سره نکاح وکړي. نګاره د نادر له لومړنۍ ښځې څخه د هغه اتلس کلنه لور وه. د یو نیم کال کیده چې نګاره پر مصطفی مینه وه او ټول له دغې مینې څخه خبر ول. سره له دې چې چا د دغو اړیکو په اړه نادر ته د څه ویلو جرآت نه درلود، خو هغه له هغه اوله په دې مینه پوه و.او ځان یې ناګاره اچولی و، تر څو چې څو ورځې د مخه مصطفی سله زړونه یوکړي و او هغه څخه یې د هغه لور غوښتې وه.

کله چې د مصطفی کمند آس میرزا بهار کلي ته ورسیده، باران کلی مینځلی و او ناوو د کوړونو د بامونو خاورې او دوړې کوڅې ته راوړې وې. هغه ورووړو له هغو ناوو څخه چې لا ترې اوبه بهیدې تیر شو او د نادر د کور دروازې ته ورسیده، سوکه له آسه را کوز شو.

په کلي کې د ناوو له شرشر پرته بل هیڅ آواز نه اوریدل کیده. هغه خپل ټوپک له اوږو را ښکته کړ او ورو یې هغه د دروازې تر چتر لاندې کیښود، وروسته پخپل مخ او سر لاس راتیر کړ زړه یې و، چې د دروازې کړۍ وشرنګوي خو چې څرنګ یې لاس دروازې ته ور اوږد کړ دروازه خلاصه سوه او مخکې له دې چې هغه انګړ ته ننوځي آس د مخه ننوت.

د نادر انګړ لوی و او داسې کلا ته ورته و چې ته به وایې د لا ډیر مصونیت لپاره جوړه شوې ده. د انګړ څلورو خواوو ته، ځان ځانته کوړونه و، چې د هغه د ښځو لپاره جوړ شوي ول. د انګړ په خوله کې میلمستون یوه دیوال له نورو ودانیو څخه جلا کاوه.

□

پروسږکال په پسرلي کې چې د کلي ټولو خلکو خپلې تورې خیمې ورسره وړې وې او غره ته تللي ول، مصطفی نګاره په «کوه‌شصت» کې ترسبزک بند لاندې لیدلې وه.

د نګارې کیږدۍ د درې په زړه کې په لړ پراخه هواره کې د اوبو ترځنګ ولاړه وه. د اوبو شرهار، د زرکو سندرې او کله کله د شپنو هی هی د نوي موسم د راتلو زیری ورکاوه. پسرلی هره خوا ترسترګو کیده، د انځرو په ښاخونو کې، د ولیو او ارغوان په بوټو کې، د سپیلنو په ریښو کې، د پونې او ځیرې د ښاخونو پرمخ، د الوتونکو په غاړو کې، د اوبو په غاړو او خاورو او ډبرو پرمخ. هر ځای پسرلی لیدل کیده. د پسرلي په موسم کې کلیوالو بارونه تړل او درو ته تلل او د تورو خیمو په درولو سره به یې درې له څو میاشتنۍ چوپتیا راایستلې.

ښکلې نګاره چې له وجوده یې د بلوغ لمبې پورته کیدې، د مصطفی له لیدو څخه چې د بوټو له شا یې ورته کتل ناخبره وه، اوبو ته ښکته شوې وه او تر ډېرو لاندې یې کبان نیول. مور او وروڼه یې د درې له یوه کړلیچ ها خوا د بادامتو په کلي کې د خپلو دوستانو لیدو ته تللي ول. مصطفی د نګارې په لیدو کې ورک و او نګارې د مصطفی له دوو شررې سترګو څخه په ناخبرۍ کې خپل کالي لامده کړي ول او د وجود وتلي ځایونه یې له ورایه ښکاریدل.

هغې چې تر ډېرو لاندې کبانو په نیولو کې ورتیا بیدا کړې وه، له ویرې پرته به یې لاس تر ډېرو لاندې کړ او کبان به یې د هغو له پټنځایونو څخه را ایستل کله به چې د ډېرې لاندې ځای ژور و نو دا به اوبو ته ور لویده څو شیبې وروسته به یې کب له اوبو رایوست. مصطفی په حیرانتیا سره هغې ته ځیر و. د نادر لور خومره ښکلې شوې ده، څه صورت څه اندام! خو څو کاله و، چې نه یې وه لیدلې. له هغه وخته چې پلار یې له نادره لیرې شوی و، نوره یې هغه نږدې نه وه لیدلې. د مصطفی زړه د ناکراره مرغه غوندې، د سینې له قفس سره جنګیده.

زړه یې غوښتل دغه کب نیونه تر هغو روانه وي تر څو چې دا دنیا وي. سترګو یې غځونې کولې لکه چې د نګارې تن لمس کوي، خوند یې اخیست او سترګې یې د هغې له لمدو تیو څخه بلې خواته نه اړولې. نګاره اوبو ته له هرځل لویدو او راختو سره نوره هم پسې لوڅیده او پر تن یې نازک لباس لا پسې ننبلیده او پر لوړه غاړه یې اوږدې زلفې د څو مارانو غوندې تاویدې. مصطفی ویلی کیده. دا نګاره د کافر لور خومره ښکلې شوې ده، څه تن او څه اندام لري! زړه یې نه منله چې دا د هغه نګاره وي. هیڅ وخت یې هغه داسې ښکلې نه وه لیدلې. څو کاله د مخه، هغه یوه وشنده کمکۍ نجلۍ وه چې د هیڅ ځوان زړه یې نه شوای لړزولی، خو اوس په یوه لمبه بدله شوې وه چې مصطفی یې سوځاوه.

کله یې چې له مخ او سر څخه اوبه توییدې داسې ښکاریده لکه غزاله چې تر باران لاندې ځان ومینځي او له لمدیدو څخه خوند واخلي، له اوبو هیڅ نه ډاریدله او له یوې ډېرې یې بلې ډېرې ته ټوپونه کول او په چټکتیا یې لاس تر اوبو لاندې وړ. خو دې ننداره ډېر دوام ونه کړ او له قُرق درې څخه دیوه شپانه په هی هی سره نګاره په یوه ټوپ سره له اوبو راووتله، خپل کبان یې راټول کړل او کیږدۍ ته یې منډه کړه.

مصطفی پخپل زړه کې شپانه کنځلې وکړې او دعا یې وکړه چې له دې ځایه د هغه شر کم شي له څو شیبو وروسته د هغه دغه قبوله شوه، شپون ولاړ او نګاره بیا راووتله، دا ځل یې کالي بدل کړي ول او چاړه او کاسه یې له ځانه سره رااخیستي ول د اوبو غاړې ته روانه وه، چې کبان پاک کړي.

مصطفی شول شهید ولاړ و له ځایه نه خوځیده. فکر یې کاوه خوبویني. څو ځله یې خپلې سترګې وموښلې او بیا یې کیږدۍ او نګارې ته وکتل. سترګو یې سم لیدلي ول، رښتیا نګاره وه.

مصطفی خپله رمه هیره کړې وه نور یې له نګارې پرته په بل څه فکر نه کاوه، هغه د زرشک بوټې له شا راووت او پر ډېره کیناست خپل دروی یې له جیبه راویوست او د تولې په وهلو یې پیل وکړ داسې یې توله وهله چې د اوبو د شرهار آواز بند شو، د زرکو غاړې وچې شوې، د درې د ولیو، زرشک او انځر ونې ژوندې شوې او د درې هره ډېره غوږ شوه او چرې د کب غاړه پرې نه کړه. نګارې د تولې د آواز خواته وکتل او د مصطفی په لیدو سره اوچته له ځایه راپورته شوه هغه یې وپیژاند:

– مصطفی یې؟

مصطفی توله له شونډو لیرې کړه:

- مصطفی یم.

- دلته څه کوې؟

- رمه مې راوستې ده.

- له څه وخته دلته یې؟

- څو شیبې د مخه راغلم.

- نو دغه شپانه چې هی هی کول هغه ته وې؟

- هو زه وم.

د مصطفی په دې ځواب سره د نګارې زړه آرام شو او په داسې حال کې چې بیا د اوبو پر غاړه کیناسته او څنګ ته یې د کبانو کاسې ځای پر ځای کولې، ویې ویل:

– څو کاله د مخه هیڅ مالدار کبان نه خوړل، خو اوس موږ ټول ماهي خواره شوي یو.

مصطفی کبانو ته وکتل ویې ویل:

– د دغې درې ماهیان ډیر خوندور دي.

– بیا نو راځه نن شپه زموږ میلمه شه!

مصطفی ځواب ور نه کړ، خو نګارې وویل:

ــ څه وختونه و، ټول سره یو ځای و. تل مې په یاد وې. پلار دې بد سړی دی. ولاړ او خپل دوستان یې هیر کړل.

مصطفی وخندل:

– نګارې ته یو دم پیغله شوې!

نګارې د هغه ځواب ورنه کړ، خو ویې ویل:

– که په دې نږدې ځای کې یې نن شپه حتماً راشه، پلار مې هم راځي. تیر یادونه به تازه کړو.

مصطفی خپل لرګی راواخیست، هغسې یې چې د غره ګردنې ته کتل، ویې ویل:

- پسونه مې نه ښکاري، باید ولاړ شم، که مې وکولی شوای ماښام دې د پلار لیدو ته درځم.

هغه دا وویل او په توله یې شونډو کیښودې یو ځل بیا یې دره په شور راوسته او د نګارې روح یې له ځانه سره یووړ. هغه توله پر شونډو لږ پورته ولاړ رمه یې په ورشو کې پریښوده، خپله یې ډبرې ته ډډه ووهله. د تولې آواز یې پسې پورته شو لکه چې سینه یې له مینې مالامال شوې وي، د تولې آواز نور هم پسې لوړ شو.

زرکې یو ځل بیا غلې شوې سرونه یې راپورته کړل چې که د تولې له کوډو څخه خلاصې شي. محشر جوړ شوی و. ډیر وخت کیده چې هیڅ یوه شپانه همداسې د زړه له تله توله نه وه وهلې. نګارې د اوبو پر غاړه چاړه په لاس سترګې پټې کړې وې او غوږونه یې د اوبو د شرهار او د تولې سره اوبدل شوي آواز ته سپارلي ول.

مصطفی زړه ور ځوان و او نګاره لړزیدلې وه. هغې ډیر غوښتونکي لرل، خو ټول یې په ښکنځلو شړلي ول نادر چې د خپلې لور په خوی وبوی پوه و، دې ته منتظر و چې لور یې یوه ته ښکنځل ونه کړي او په دې توګه دا وښیي چې هغه یې خوښ دی.

□

لمر د شصت غره د ډبرو شاته پټیده چې بیا مصطفی را پیدا شو. نادر هم راغلی و او رمه یې جارګې ته ننویستله. هغه نادر ته سلام واچاوه او ویې ویل:

– نادر کاکا! نابللی میلمه غواړې؟

نادر مصطفی ته وکتل او په ټیکي یې وخندل:

– مصطفی ته یې؟

– هو کاکا جانه!

– زموږ سترګې دې روښانه وي!

– زه ماسپښین راغلی وم، ته نه وې.

– نګارې راته وویل چې راغلی وې. نام د خدای لوی شوی یې!

هغه دا وویل او څو ډبرې یې د جارګې په خوله کې کیښودې ترڅو پسونه ترې راونه وځي، مصطفی ته یې مخ ور واړاوه، ویې پوښت چې پسونه یې چیرې دي؟ مصطفی وویل چې پسونه له هغه ځایه لږ لیرې له یوه بل شپانه سره دي او په اړه یې کومه اندیښنه نه لري. هغه دا وویل او له نادر سره د خیمې په لوري ولاړ. نګارې چې دکیږدۍ له کونجه د مصطفی راتګ ولید، په بیړه یې د خپل سر ویښتان رمنځ کړل، ټیکری یې پرسر کړ، چایجوش یې پر منقل ایښی و تر څو د پلار او میلمه لپاره چای دم کړي.

هغوی دواړه په خبرو خبرو کې کیږدۍ ته ننوتل، نګارې له لیرې سلام وکړ. نادر له علیک ویلو پرته نګارې ته وویل: وینې چې د سبحان خان زوی نام خدای څومره اوچت او تکړه شوی دی. نګارې وخندل ویې ویل چې پلار ته شوی دی، نادر د هغې خبره تایید کړه ویې ویل: لکه کچالو چې په منځ دوه ځایه کړې.

دری واړو وخندل نادر مصطفی ته د کیناستو وویل. مخامخ سره کیناستل نادر په داسې حال کې چې بالښت یې تر خپلې خیټې لاندې سماوه مصطفی ته وویل:

– ښه کیسه وکړه، چې ناځوانه پلار دې په څه لګیا دی؟

مصطفی سوړ اسویلی وکیښ:

– نادر کاکا! د پلار مې خونده نسته، ناروغه دی او له ځانه سره بوخت وي.

نادر په بيړه له بالښته سراپورته کړ، په ناباوري يې پوښتنه وکړه:
– رښتيا وايې؟
– هو نادر کاکا!
– اوه بد خبر مې واورید، پوهيږې چې پلار دې څومره زړه ور سړی و. هغه په دې ملک کې جوړه نه لرله. نښه يې نه خطا کیده، څه زړه ورجګړه ماراو ښکاري سړی و.
مصطفی دهغه دخبرې په تایید وويل:
– هو نادر کاکا! پلار مې پخوا بې سياله ښکاري و.
هغه دا وويل وروسته يې تر سترګو لاندې د کيږدۍ پای ته وکتل. هلته چې نګارې د چای پتنوس چمتو کاوه. چې پر نګاره يې سترګې ولګيدې موسکايې وکړه:
– مصطفی جانه! شين چای څښې که تور؟
– که شين وي ښه دی.
هغه شپه نادر او مصطفی تر ناوخته سره مجلس وکړ. نګارې د خيمې په منځ کې الکين په سيم پورې راځړولی و، پخپله يې لږ هاخوا د ډبرين ديګدان خواته د کيږدۍ ستنې ته تکيه کړې وه او مصطفی ته يې کتل« ځوان شوی دی.څه بريتونه څه پيکی، څه غاړه او اوږې، څه سترګې اوګدې وډې وروځې! پلاره! که ما ودوې، له مصطفی نه تيريږم. خدای د دغه کوه شصت په منځ کې مصطفی ماته رااستولی دی چې هغه خوښ کړم، تر څو د خپلو ټولو خواستګارانو زړه جمع کړم، تر څو مې نور په پلار پسې کلي په کلي او ګردنه په ګردنه ونه ګرځي. قادره! نور زحمت مه کاږه، دا بدرنګه خيره دې نوره مه راښکاروه، نه غواړم نور دې دا تورمخ او کاږه لينګي ووينم. ما ددغه شصت په منځ کې خپل سړی وموند. قادره! خپلې وزې او پسونه دې درباندې مبارک وي! زه د خرڅيدو نه يم. پلار مې پردې پوهيږي. ما چې څوک غوښتل پيدا مې کړ. له هغه پرته به د هيچا لاس زما تن ته ونه رسيږي، ځه نور له ما لاس واخله! نورې تورې او سپينې ږيرې زما پلار ته مه واسطه کوه. هغه کنځلې چې درته شوې وې تر هغه به بدې واورې، زه د ډار لور نه يم. سم صفا به خپل پلار ته ووايم چې که ما ودوې مصطفی ته مې ور واده کړه، زه مصطفی غواړم، يوازې مصطفی.
مصطفی! د خيمې پای ته تر څنګ راوګوره! زه دلته يمه او ستا د تورو سترګو په نيم کتو پسې کباب يم.
کاشکې له خدايه يې تر دې زيات غوښتي وای، مصطفی هماغسې چې د نادر خبرو ته غوږ و، مخ يې وګرځاوه نګارې ته يې وکتل. نګارې په موسکو شونډو ورته وکتل وروسته يې ورنونه راټول کړل دواړه لاسونه يې پرې کيښودل او په لاسونو دسر په ايښودو سره يې خپلې سترګې په مصطفی کې وګنډلې. نادر تر نيمو شپو، مصطفی ته د سبحان د اتلوليو او سرښندنو په باب کيسې وکړې او په پای کې يې هغه ته وويل: مصطفی پوهيږې! له دې شپنې څخه څه نه جوړيږي.
اوس چې نام خدای پخپله سړی شوی يې، غواړم خپل ژوند ولري. غواړم پخپله يو څوک واوسې. غواړم نور د خلکو شپون ونه اوسې. پلار دې ناروغ او پخپل ځای پروت دی او پخپل کار پسې ولاړ. هغه ته ددې لپاره لوی کړی

يې چې يوه ورځ يې ترلاس ونيسې هغه ستا په هيله ناست دى تر څو پخپله پيسې ولري، د هغه درملنه وكړې او كورو اور يې ور آباد كړې. اوس ستا وار دى چې د هغه مټ شې. دغه شپني ګټه مټه نه لري چې هغه او تا كوم ځاى ته ورسوي.

يوازې بايد پريكړه وكړې. پريكړه وكړې چې پخپله يو څه شې. په دې ورځو كې وضعه ښه نه ده. د هرات په لويديځ كې يوه، نيمه ډله پيدا شوې، چې هر څه لري. هم پيسې لري، هم قدرت او هم غيرت. هغوى پيژنم كولى شم له هغو سره اړيكه ونيسم او پخپله سيمه كې بيا نوم ونشان پيدا كړم. يوه ورځ به تا وغواړم چې له ما سره په يوه ښه پريكړه كې مرسته وكړې.

هغه دا وويل وروسته مصطفى ته ځير شو. مصطفى چې د نګارې په لومه كې ګير و، سريې ښكته اچولى و، ويل يې:

- نادر كاكا! زه به څه ووايم هرڅه چې تاسې غواړئ.

مصطفى څه وخت نور هم خپله رمه د شصت په غره ښكته پورته كوله، كله كله نګارې ته هم ورته. تر څو چې يوه ورځ نادر احوال وركړ چې كار يې جوړ كړى او مصطفى كولى شي چې له ده سره يو ځاى شي.

مصطفى چې څنګه خبر شو، رمه يې پريښوده او نادر ته آسماني غره ته ورغى، هغه ځاى چې نادر د خپلو څو پخوانيو انډيوالانو په رابللو سره ډله جوړه كړې وه چې يو ځل بيا د سبزك بند پخپله ځاله بدل كړي.

نادر پخوا هم په دغه غره كې لارې نيولې، ښه بلد و چې خپل كار له كومه ځايه پيل كړي. هغه په لومړي ګام كې هغه شركت ته چې د ارملك – بندسبزك لاره يې جوړوله، خبر وركړ چې خپل ماشينونه او بلدوزرونه ايسته كړي او ولاړ شي. د سبزك بند د خداى لاره ده، د خداى لاره كرير اچولو او پخولو ته اړتيا نه لري. كله چې د لارې جوړولو شركت دغه اخطار جدي ونه باله. دوه اينجنيران يې تري تم شول او څو بلدوزره يې وسوځول شول، مجبور شول خپل سامان يې ټول كړ او ولاړل. لاره نيول شروع شول او نور هيڅوک له دې لارې بې ويرې تير نه شول.

□

د مصطفى ټول فكر د نګارې خواته و او دا چې د هغې پلار ته يې د هغې د نكاح كولو په باره كې قناعت وركړى و، په دنيا كې يې غم نه درلود. هغه تيره شپه سل زرونه يو كړي و او نادر ته يې ويلي و چې نګاره يې خوښه ده. نو مخكې له دې چې څوک هغې ته په بده ستركه وګوري، ښه به داوي چې د هغوى نكاح وتړي.

نادر هم چې تر ده ښه زوم نه ليد ميرزا بهار ته يې د هغه له تلو سره هوكړه وكړه او ورته ويې ويل چې ولاړ شي ملا رمضان ته ووايي چې د دوى نكاح پټه وتړي. هغه د خداى پاماني په وخت كې ويلي و: كبليه! بايد يو كال د مخه دې نګاره غوښتې واى څه اوس هم ناوخته نه دى، څه خداى دې يې نيكه ومباركه كړي! فقط پام دې وي چې مونږ ډير دوستان او دښمنان لرو، په تياره كې ولاړ او په تياره كې راشه. د ورځې دې هم له نګارې پرته بل څوک دربانديې خبر نه وي. درى ورځې وروسته دې دلته غواړم.

باران په اوریدو و او د مصطفی له سر او تنه اوبه رواني وې. کله چې انګړ ته ننوت هرې خواته چوپتیا خوره وه د باران له شرهار او د ناوو له جُوړیدو پرته بل آواز نه اوریدل کیده. د کور سپی هم نه تر سترګو کیده.

هغه کړکیو ته وکتل، هیڅ څراغ نه لګیده. د مصطفی زړه ولړزیده یوه عجیب حس په اندیښنو کې واچاوه. حتماً کومه پیښه شوې ده.

- قلندره! وا قلندره چیرې یې؟

چا ځواب ورنه کړ. هغه په بیړه د نګارې خونې ته منډه کړه. د کوټې ور له ځایه ایستل شوی او څو متره هغې خواته غورځول شوی و. مصطفی په بیړه په کوټو کې وګرځیده، هلته هیڅوک نه ول. مصطفی د کور کالیو او شیانو ته وکتل ټول شیان پرخپل ځای و.

نو څه پیښه شوې ده؟ د نادر اولادونه چیرته ول، نګاره چیرې ده؟ قلندر چیرته دی؟ د نګارې له خونې راووت غوښتل یې د قلندر خونې ته ولاړ شي چې ناڅاپه یې د انګړ په منځ سترګې پر سپي ولګیدې چې مرمۍ یې پرسر لګیدلې وې. په بیړه یې د قلندر د خونې په لوري منډه کړه، چې څرنګ په دروازه ورننوت په تیاره کې یې د کوټې په غولي پر قلندر سترګې ولګیدې چې په رسۍ کلک تړل شوی. په بیړه یې د هغه خوله خلاصه کړه او ویې پوښت:

– څه شوي دي؟

قلندر اوږده ساه واخیسته په توړې ژبه یې وویل:

– بوېږي تله! نګاره یې بوتله...

دغه لنډه جمله د مرمۍ غوندې د مصطفی په زړه ولګیده. پښې یې سستې شوې او د دې لپاره چې ونه لوېږي لاس یې پر دیوال تکیه کړ. باور یې نه کاوه چې نګاره دې چا بیولي وي.

– څه دې وویل؟

مصطفی خانه! درې– څلور ساعته د مخه « زینلیان» راغلل. له ټولو سره ټوپک ول. د نادر ټول اهل وعیال یې راټول کړل ټول یې د انګړ په پیاده خانو کې واچول. زه یې هم دلته وتړلم او نګاره یې بوتله. بوېږي تله مصطفی خانه! نګاره یې بوتله...

قلندر ددغه کور نوکر و چې څلویښت کاله یې د نادر کورنۍ ساتلې وه. هغه دلته لوی شوی و او خپله وفاداري یې تل ثابته کړې وه.

ـــ څوک ول؟ د کوم ځای ول؟

– مصطفی خانه! زنیلان ول.

– پوه شوم چې زنیلیان و، خو مشر یې څوک و؟

– قادر چلاق

مصطفی د قادر د نوم په اوریدو سره د ټپي مار غوندې تاو را تاو شو. وینې یې په جوش راغلې. د ټوپک میل یې په لاس کې ټینګ کړ ګوتې یې وګریدې. له دغه نومه یې کرکه لرله. هر وخت به یې چې د قادر نوم اوریده، لکه چې

سره غوړې په اوږو ورتويي شوي وي، سوځيده به. خبر و چې قادر چلاق څو ځله د نګارې د غوښتلو مرکه استولې وه او ښه پوهيده چې دهغه هم نګاره خوښيږي خو هيڅکله يې دا فکر نه کاوه چې راشي او نګاره وتښتوي.

- نامرده! پيدا کوم دې، د نجلۍ تښتول به در وښييم. تا زما نګاره تښتولې ده! چټله نامرده! سترګې دې په برچه را باسم، وينې به دې وڅښم. په کور کې به دې ژوندي ساري پرې نه ږدم. ميږی چې وزر وکړي ځان ورک کوي! تا وزر کړي او خپلې پښې دې له خپلې شړۍ اوږدې کړې دي، پښې دې ماتوم. درمند ته دې اور اچوم چې له خپلو کړو پښيمانه شې. نامرده چلاقه! کثيفه!

مصطفی له تيکې خپله برچه را وايسته او پر ځمکه د ګوتو په سرو کيناست، د قلندر لاسونه يې خلاص کړل او هغسې چې خپله برچه يې پخپل ځای ايښوده ويې ويل:

- پښې دې پخپله خلاصې کړه.

هغه دا وويل او په چټکتيا يې د آس لوري ته منډه کړه. آس چې نوی اخور ته رسيدلی و سر يې راجګ کړ ، د خپل څښتن په اطاعت سره روان شو او څو شيبې وروسته يې بې له دې چې ساه کړې وي د مصطفی په يوه هی ويلو سره په ځغاسته پيل وکړ. مصطفی د آس يو په بل پسې په متروکه واهه. او پښې يې پرې ښوروليې. د ميرزابهار له کوڅو څخه په بيړه تير شو او ځان يې د کلي شمالي دښتې ته ورساوه. لا په تياره کې باران اوريده. سترګو يې نه ليدل نه کوم پل و او نه هم کومه نښه. لکه چې قادر او د هغه انډيوالان باد او باران له ځانه سره وړي وي. د زينلانو د يرغل او بيرته تلو هيڅ نښه نه تر سترګو کيده. په دې دښته کې د هغوی لټول بې ګټې و. زينلان تللي ول او دلته يې هيڅ نښه نه معلوميده.

مصطفی لټون پريښود نا څاپه يې خپله لاره بدله کړه او د آسماني غره په خوا رهي شو. آسماني غره ته د ژر رسيدو لپاره بايد د بادامتو کلي له څنګه تير شوی، په کوه شصت را تاو شوی وای او هماغسې يې د جربالا سخته لاره د نادر په لوري وهلې وای. د غره په لوړو ځايونو کې د باران پر ځای واوره اوريدله او واورې آس نه پريښود چې مخې ته په آسانۍ سره ګام کيږدي. هغه وخت چې لاره د ډبرو منځ ته رسيده آس سوکه کيده او په ستمي يې مصطفی پوهاوه چې لاره د ډبرو په منځ کې ورکه شوې ده، پريکړه دې وکړه! مصطفی چې خپل آس ښه پيژاند او د هغه له حرکتونو، د هغه په حالت پوهيده په هی ويلو سره به يې مخ ته تګ ته هڅاوه او په دې ډول يې ورته ويل چې د شاته تلو لاره نشته، پرمخ ځه! مصطفی نه په واوره خبر و نه په يخني، له يوه کږليچه بل ته اوښت او آس ته يې لغتې ورکولې او هی ويلو يې غر لړزاوه او هغه وخت چې لاره لږ هواريده، نور يې د آس ښويدو ته پام نه و، له ځانه سره يې نقشه ايستله او د نګارې د ژغورلو فکر يې کاوو.

هغه چې کله قرارګاه ته ورسيد، سهار شوی و. وريځې يوڅه واوره د آسماني غره پر ډبرو شيندلې وه او نور يې اوريدو ته زړه نه کيده. پيره دار له ليرې مصطفی او د هغه آس وپيژندل په بيړه يې نادر خبر کړ. نادر اوچت له ځايه را جګ شو او د مصطفی ژر راستنيدل يې بد فال وباله. هغه خپله کورتۍ په اوږو واچوله په داسې حال کې چې د دروازې له شا يې د لارې تلو لپاره لرګی را اخيست، تر شونډو لاندې يې وويل: خدای دې خير پيښ کړي. حتماً

کومه بده پیښنه شوې ده. هغه دا وویل او له ډبرینې کوټې راووت. د واورې رڼا یې سترګې وبریښولې هغه د خپل همیشني عادت له مخې خپل لاسونه د سترګو پر سر ونیول.

دواړو ښه حالت نه درلود. یو له بله بدتر و، د مصطفی رنګ تور شوی و یخ یې په هډوکو ننوتی و لاسونه یې په ملونو او پښې یې په رکاب کې وچې شوې وې او د حرکت توان یې نه درلود. آس هم که په څو قدمي کې قرارګاه نه وای لیدلې نور یې د مصطفی د رسولو لپاره یو قدم هم مخې ته نه اېښوده.

نادر چې کله د مصطفی آس ته چې سوکه سوکه را روان و، وکتل، سمدلاسه پوه شو چې تمامه شپه یې لار وهلې ده او خپل توان یې له لاسه ورکړی دی. هغه په بیړه د اور د بلولو امر وکړ چې مصطفی راورسیده بې له دې چې څه ورته ووایي هغه یې د اور خواته بوت او لیږ لیږې یې دیوال ته تکیه وکړه، وروسته یې ورته وویل:

– اور او چای دواړه ښه لګیږي. پوهیږم چې بد خبر دې راوړی دی، خو تر څو دې چې چای نه وي څښلی څه مه وایه! نادر د ډبرې له سره چایجوش را واخیست پیا له یې ډکه کړه له ځایه را ولاړ شو هغه یې د مصطفی په یخ وهلو او و[ شویو لاسونو کې ځای پر ځای کړه: واخله چای دې سور کړه! د وجود یخ دې غوړیږي.

مصطفی د چای پیاله د خپلو دواړو لاسونو په منځ کې خولې ته نږدې کړه او چټک چټک یې په څښلو بیل وکړ، غوښتل یې ژر یې یخ وهلې شونډې خلاصې شي او هر څه نادر ته بیان کړي.

– لیونیه! ته په داسې لاره راغلې چې څوک په دوبي کې له هغې د تیریدو جرآت نه لري، فکر دې پر ځای دی؟

مصطفی چې یو څه یې حال ښه شوی و په لړزیدلی انداز شونډې خلاصې کړې:

– نادر کاکا! نګاره زینلیانو تښتولې ...

نادر لکه چې سم نه وي اوریدلي، چیغه کړه:

– څه!؟

– نګاره قادر نامرد وتښتوله!

– څه وخت؟

– زینلیان زما له ور رسیدو د مخه کلا ته راتویي شوي ول، د ټولو لاسونه او پښې یې تړلي او نګاره یې له ځان سره بیولې وه.

نادر له ځایه را ولاړ شو، دروازه یې خلاصه کړه په داسې چیغه چې په ټوله دره کې تاو شوه ظاهر ته غږ کړ. ظاهر چې د ډبرې پر سر پیره کوله د نادر په ناره ځان له واورو لاندې را غورځار کړ او تر څو چې نادر بل غږ کاوه هغه د یوه سرتیري غوندې دده په مخ کې ولاړ ودرید:

– ژر ولاړ شه هلکان را ټول کړه! آسان هم زین کړه! ژر کوه!

هغه د سترګو په رپ کې دباندې منډه کړه او څو دقیقې وروسته یې یو په وسلو سمبال ګروپ له زین شویو آسانو سره د قرارګاه مخې ته په هواره ځمکه د نادر امر ته منتظر ودراوه. نادر له ډبرینې کوټې څخه راووت او د ټوپکوالو مخې ته یې په لاره تلو پیل وکړ. په زینلیانو باندې یرغل چې د کرخ په لویدیځ کې ولسوالي ته نږدې پراته ول، آسانه کار نه و، هرې بیړنۍ پریکړې کیدای شوای بده پایله رامنځ ته کړي. آیا زینلیان به چې نجلۍ یې تښتولې وه، همداسې

لاس تر زنې ناست وي او نادر ته به منتظر وي چې راشي او خپله لور بوځي؟ نه، سپی چې هډوکي خوري له ځانه سره سلاکوي.

هغوی حتماً د دوی یرغل ته تیاری لري. نو څه یې باید کړي وای؟ نادر په ناکرارۍ سره په لاره روان و او تر شونډو لاندې یې څه ویل. د هغه جنګي سړي امر ته سترګې په لاره ول او هغه پخپل ذهن کې نقشه کښله. هغه به چې تل له یوې سختې قضیې سره مخ کیده، ګرځیده راګرځیده به، تر څو به یې چې ناڅاپه غوټه خلاصوله او پریکړه به یې کوله.

– ظاهره!

– بلې نادرخانه!

– د رمضان شمیره لرې؟

– هو لرم یې!

– رُخ یې کړه.

– په سترګو.

ظاهر په یوه ټوپ ډبرې ته ورپورته شو، موبایل یې له جیبه را واایست ویې لګاوه وروسته یې د رمضان شمیره ونیوله. څو شیبې وروسته رمضان بلې وویل.

– رمضان کاکا! یوه دقیقه دې په غوږ کې وي، نادر کاکا غواړي درسره خبرې وکړي.

هغه دا وویل او په بیړه یې نادر ته آواز وکړ. نادر له امسا سره ډبرې ته ورپورته شو موبایل یې واخیست رمضان ته یې وویل:

– رمضانه چیرې یې؟ په میرزابهار کې یې؟

– هو نادر خانه! په کور کې یم.

– له پرون شپې څخه خبر یې؟

– یه نادر خانه! څه شوي دي؟

– زینلیان راغلي، نګاره یې بیولې ده.

– څه وایې نادرخانه؟

– څه دې چې واوریدل. اوس ته یو کار وکړه. ورشه د توت ونې زینلیانو ته. قادرچلاق پیدا کړه. ورته ووایه چې ښه کار یې نه دی کړی. ورته ووایه چې نادر څوک دی او څه یې له لاسه کیږي. ورته ووایه چې نجلې رکه روغه بې له دې چې بل څوک پوه شي د شپې په تیاره کې څنګه دې چې بیولې هماغسې بیرته خپل کورته راوله. که نه نادر ډیر بد سړی کیږي، هرڅه چې ورته ورسیدل له خپله لاسه یې ورته رسیږي. دغه خبرې ښکاره او واضیح ورته وکړه ورته ووایه چې نادر په هیڅا رحم نه کوي.

که دې ولیدل چې من من او خو خوېې وکړل، له خپله موبایله ماته زنګ ووهه تر څو زه له هغه سره خبرې وکړم.
زوی ته دې ووایه چې تا پرخپل موټرسایکل زینلیانو ته ورسوي، زه دلته پر دې ډبره ناست یم تر څو ستا زنګ راشي. څه حرکت وکړه! مه ځنډیږه.

نادر دا وویل او ملفون یې بند کړ. مصطفی هم چې یو څه یې ساه جوړه شوې وه ډبرې ته ور پورته شو او د نادر خبرو ته یې غوږ نیولی و، نادر همدا چې د ظاهر موبایل بیرته ورکاوه مصطفی ته وویل:

– په زینلیانو دحملې تابیا ونیسه! څو آرپي جي، پیکاوې او یو څه هم لاسي بمونه تیار کړه. که نجلۍ یې را نه کړه، نن شپه پرې حمله کوو. د ملا رمضان ټیلیفون ته نه منتظیر کیږو، زه د قادر چلاق په ځواب پوهیږم.

– نادر کاکا! ته په دې معامله کې مداخله مه کوه، زه له هلکانو سره ځم، پوهیږم چې څه وکړم. دغه نامرد زما کوږدنه تښتولې ده، معامله زما او هغه ترمنځ ده. ته دلته اوسه، لور دې بیرته راولم.

– فرض کړه ولاړې، نګاره دې بیرته راوسته، نګاره نوره هغه نګاره نه ده، عزت یې تللی، زموږ آبرو هم تللې ده. پوهیږې دا بریتونه مې نور پر شونډو درندوالی کوي. ته هم تر ما ښه حال نه لرې. له پرونه راهیسې مې چې له نګارې سره د نکاح اجازه درکړې، هغه نور ستا ناموس دی. اوس نو که ټول زینلیان هم تر تیغ تیر کړو د شرم دا خیري نه شو پاکولی.

مصطفی چې نوی د خبرې ژورتیا ته رسیدلی و، زړه یې ولړزیده، سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، سریې د نادر په اوږه کیښود په چیغو چیغو یې وژړل. د نادر اوښکې هم روانې شوې. ظاهر له ډبرې راښکته شو او د خپل قوماندان غم یې له نورو سره وویشه. نورو ته یې کیسه وکړه ورته ویې ویل چې یوه خونړې جنګ ته دې چمتو اوسي.

له غرمې وروسته ټیک دوه بجې وې چې د ظاهر موبایل وشرنګیده. رمضان و، غوښتل یې له نادر سره خبرې وکړي. نادر ټیلیفون واخیست او بلې یې وویل.

– نادرخانه! ما قادرخان ته ستا پیغام ورساوه. دا اوس هم هغه زما ترڅنګ دی او زموږ خبرې اوري. ډیر لیواله دی چې له تا سره خبرې وکړي.

– مخکې له دې چې هغه له ماسره خبرې وکړي ووایه چې هغه زما د خبرې په ځواب کې څه وویل؟

– نادرخانه زه نو اوس د دوو دوستانو په منځ کې څه ووایم، ښه ده چې خپله خبرې وکړي.

– ټیلیفون ورکړه!

– په سترګو.

– بلې!

– قادر یې؟

– هو نادرخانه! غوږی مې له ملا رمضانه واخیست.

– نامرده! په توره شپه کې راځې نجلۍ تښتوې؟

– نادرخانه! ما سل واري نګاره له تا وغوښتله، را دې نه کړه. بله لار مې نه لرله.

– بد دې وکړل بې وجدانه چټله! تا مردار خور ته څوک خپله لور درکوي. تا پخپل دې کار سره هم خپل او هم د زینلیانو ژوند برباد کړ. پوهیږې له چاسره ټانتې چیچې.

– نادرخانه! خپل زوم ته بدرد مه وایه! زه درسره سمې خبرې کوم.

– بد کوې ته کثیف غل. لورمې په عزت سره رمضان ماما ته وسپاره چې کورته یې ورسوي.

– نادرخان! کنځلې مه کوه. لکۍ دې زما ترپښه لاندې ده. د چا چې ښیښه په تخرګ کې وي د تا غوندې تیز نه ځي.

– قادره ګوره! که د نګارې خواته بد وګورې له ځان او ټولې کورنۍ سره دې مخه ښه وکړه.

– نه نادرخانه! هغه ورځې چې تا د کرخ پر خلکو حکمراني کوله، تیرې شوې. اوس ته پخپله د موږک غوندې د حکومتیانو له ډاره له یوه غاره وځې په بل ننوځې. ما هغوی ته ستا پته ورکړې او ورته ویلي مې دي چې د ارملک– سبزک بند د لارې جوړول تا ځنډولي. ورته ویلي مې دي چې هغه غنم چې د بادغیس خلکو ته لیږل کیدل تا غلا کړي دي، ورته ویلي مې دي چې ته د ګردنې د سر غل یې او بس. حکومت هم ستا له ټولو شهکاریو خبر دی. هغوی به دې ډیر ژر سابه در په مالګه کړي. افسوس د نګارې چې ستا لور ده. هغه مې راوتښتوله چې ستا له شره خلاصه شي. زړه مې راته ویل چې یوه ورځ به د نګارې لاس یوه بل غله ته په لاس کې ورکړې، ځکه ولاړم  او هغه مې راوسته تر څو د مصطفی غله ښځه نه شي. خبر وم چې دغه تازي سپی هروخت د نګارې څلورو خواوو ته لکۍ خوځوي. ستا او د سبحان د زوی راتلونکې مرګ دی. څوک به ستاسې جنازه هم ونه کړي.

– قادره خبره دې د خولې په اندازه وکړه! که نګاره نه راپریږدې، په لنډو ووایه وروستۍ خبره دې وکړه! بدرد مه وایه. د چا وخت پوره دی، خدای ته معلومه ده، خو په څه چې پوهیږم داده چې تا پخپل دې کار سره خپل عمر لنډ کړ. چې د ځمکې تل ته هم ولاړ شې پیدا کوم دې ، سر دې پرې کوم او د لاس په ورغوي کې یې درکوم. که دې نګاره ملا رمضان ته ور تسلیم نه کړه نو فاتحه دې لا اوس ووایه.

– نادرخانه! موږ هم د بوټي له بیخه مه بوله. موږ هم له چا کم نه یو. خاطرجمعه اوسه! زموږ مړی هم له ځانه دفاع کوي. او اوس زیری دادی چې زموږ دیګونه باندې دي، نن شپه زینلیان جشن لري.

نن شپه دې د لور نکاح ترم او ته د دوندر غره سر ته پورته شه، هر ځای دې چې رڼا او څراغان ولید هلته د نګارې واده دی. نن شپه نګاره نکاح کوم. بس خلاص زړه دې ترې جمع کوم هو رښتیا هیر مې نه شي ملا رمضان مې هم رابللی. هغه د واده تر پایه نه رخصتوم چې د حال شاهد وي...

ټیلیفون بند شو هماغسې د نادر په لاس کې پاتې شو. څو شیبې یې هیڅ ساه نه ایسته او سترګې یې په مخامخ ډبره کې خښې کړې. له حرکته پاته و. د اولاد غم او د قادر تهدید هغه بې سده کړی و. هیچا د حرکت کولو جرآت نه درلود. لکه چې زمان دریدلی وي، څوک له ځایه نه خوځیدل.

د درې مرګونې چوپتیا د زرکې اواز ماته کړه او لکه مصطفی ته چې د خواخوږۍ سندرې وایي د زړه له تله یې نغمې وغږولې بیا یې وغږولې تر څو یې په ځواب کې د درې له هغې خوا بل زرک غاړې پیل کړې وروسته دره په دره

چې هرڅومره زرکان و غاړې وهل یې پیل کړل. یو قیامت جوړ و، له هرې خوا د زرکو غاړې اوریدل کیدې، ټول ځایونه غاړو او د زرکو سندرو نیولي ول، غاړې یو کیدې څو دقیقې یې دوام کاوو بیا چوپ کیدې.

کله به چې په دره کې بیا چوپتیا خوره شوه، بیا به هغې اولې زرکې لکه چې له چوپتیا کرکه لري، غاړې شروع کړې وروسته د ډبرې له بلې خوا بل زرک ځواب ورکاوه او همغسې ډبره په ډبره د زرکو آوازونه تکراریدل.

نادر له مخامخ ډبرې سترګې راواړولې او په ارام غږ یې وویل: ځو. د نن شپې جنګ پخپله قادر وغوښت. ځنډ په کار نه دی او رحم هم.

□

نولس سپاره روان ول او د آسماني غره له لوړو د لیوانو رمې ته ورته ول چې ځمکه بویوي او ځان خپل ښکار ته رسوي.

نادر له «خواجه چهارشنبې» او له سرک څخه په تیریدو، خپله لاره دکرخ شمال لوري ته چپه کړه تر څو د «بنوش درې» له لارې ځان د شپې له راتلو د مخه د «چهارتاق» غره ته ورسوي او له هغه ځایه د درخت توت په زینلیانو برید خبښ کړي.

دشپې اته بجې وې چې نادر او د هغه ډله د چهارتاق غره ته ورسیدل.

دلته د آسماني غره غوندې درنه واوره نه وه، ځمکه لمده وه او داسې ښکاریده چې لمر د ورځې په اوږدو کې واورې ته د پاتې کیدو مجال نه دی ورکړی. سره له دې چې ساړه ول خو سړې کولی شول ددې ځای په هوا کې ارامه ساه واخلي او څه وخت له اور او بخارۍ لیرې هم د ډبرې پر سر کینې او دمه جوړه کړي.

هغوی په هغه ځای کې قرارګاه جوړه کړه چې د زینلیانو کلی ښه ورته معلومیده، تر څو د دمې په کولو او د برید د پلان په تشریح کولو سره نادر دوی ته د برید امر ورکړي.

د قادر کلا د کلي په شمالي برخه کې جوړه شوې وه او د هغې شپې د محفل د رڼاکولو لپاره په څو ځایونو کې جنراتورونه ایښودل شوي ول. د موسیقي او سندرو لوړ آواز په دې وروستیو کې په هرات کې د واده په محفلونو کې معمول شوي و چې له لوډسپیکرونو اوریدل کیدل. دلته سړی پوهیده چې نور د ډول او ساز دود ختم شوی دی.

نادر مصطفی ته وویل: د یوې ډبرې شاته چې ونه لیدل شئ، اور بل کړئ او چای دم کړئ او په حوصله ښه دمه وکړئ تر څو هوا ښه تیاره شي او د برید وخت راورسیږي. هغه دا وویل او بیا د یوې ډبرې سرته وخوت، له مصطفی څخه یې دراګنُوف ټوپک واخیست او په دوربین یې کینبود: د کلا لویدیځې خواته اوه — اته دیګدانونه ایښودل شوي ول او د وریجو دیګونه خوټیدل، اشپزان لګیا ول، یوه اوبه پکې اچولې، بل څمڅه پکې وهله او بل تر دیګونو لاندې اور لا تازه کاوه.

پر چوتره یې تجیر وهلی و ، څلورو خواوو ته په نیالیو میلمانه قادر ته لیرې او نژدې ناست ول او د موسیقي د لوړ آواز له خاطره یې سرونه د یوه بل غوږونو ته نژدې کړي ول او خبرې یې سره کولې. کوچني هلکان او نجونې هم

یوې بلې خواته ګرځېدل او دې ته سترګې په لاره ول چې یو څوک د قادر پرسر پیسې باد کړي، تر څو پیسې له هوا څخه تر ګوتو کړي.

نادر د کلا او سیمې حالت ښه مطالعه کړ او له څو ځله پرله پسې کتو وروسته یې ظاهر ته وویل:

- ته څلور کسه هلکان در سره بوزه ولاړ شه د کلي دشمال خوا لوړ ځای ته، هغوی د چاهک په ګردنه کې د ډبرو شاته ځای پر ځای کړه، ته بیرته راښکته شه او سوکه د کلي منځ ته ولاړ شه، چې کلا ته ورنژدې شوې، مخامخ د ژرندې څنګ ته ولاړ شه، د دیوال شاته سم ډاډه ځای ځانته پیدا کړه او هغلته کرار کینه. دا څلور کسه دې د ګردنې له پاسه د کلا په لوري انداخت وکړي. البته نه تیز، بلکې خال خال، خو دوامدار. کله چې د قادر کسان متوجه شي چې تاسې له لیرې ځایه پردوی ډزې کوئ ستاسې په ړیره خاندې او په تلوار له کلا راوځي چې تاسې ونیسي یا مو تارومار کړي او ستا له څنګه تیریږي تر څو ځانونه هغو بې عقلانو ته ورسوي. په دې وخت کې ستا کار شروع کیږي او له شا په یوه یوه ډز د هغو په وژلو پیل کوې.

کله چې د نادر خبرې خلاصې شوې ظاهر ته ځیر شو او کرار یې وپوښت:

- پوه شوې؟

هغه ځواب ورکړ:

- هو نادرخانه!

- اوس نو دلته کینه او له سیمې سره ښه ځان بلد کړه!

او همداسې یې مصطفی ته مخ راواړاوو، ویې ویل:

- د میرګن زوا! ته دې هم دراګُنوف ټوپک راواخله ددغې ډبرې څنګ ته کینه هر څوک چې قادر ته شوی و پر دې تندې یې وله. زه هم له نورو هلکانو سره د کلي د لمرخاته خواوو غونډیو ته ځم، کوښښ کوم کلا ته ورننوځم او نګاره پیدا کړم. هو رښتیا یو شی مې هیر نه شي، خپلې مخابرې چالان پریږدئ تر څو د ضرورت په وخت کې د یو بل احوال سره واخلو.

نادر یوځل بیا دراګُنوف را واخیست او د هغه د شیې لیدونکی دوربین یې هغې کلا ته برابر کړ. د بامونو پر سر کابو شپږو تنو پیره کوله او د کلا په دروازه کې څلور نور ټوپکوال ولاړ ول پنځه کسه نور هم د کلا شاوخوا ګرځیدل. تر تجیر لاندې دوه کتاره میلمانه ناست ول او چای یې څښه. قادر هم تر ټولو پورته ناست و، نوې او سپینې جامې یې اغوستې وې او ځینو ته یې امرونه کول. اشپزان په دیګونو بوخت ول او هغه دود چې له دیګدانونو څخه پورته کیده د کلا پر سر د شپې په تیاره کې ورک کیده.

نادر ډبرې ته ډډه لګولې وه او لکه تل چې له جګړې د مخه به یې لاسونه ګرول او لیونی کیده به، لاسونو یې خارښ پیل کړ او د چا ځیرولو ته ناکراره و. مصطفی د چای پیاله نادر ته ورنږدې کړه ویې ویل:

- کاکا! چای دې وڅښه، دمه دې جوړه کړه چې په خیر حرکت وکړو. نادر د چایو پیاله ور پورته کړه او په سورولو یې پیل وکړ. چای تود کړ او یخ وهلي لاسونه یې یو څه نرم شول.

غوښتل یې چې روان شي، چې ناڅاپه د موسیقي آواز ودریده او په کلا کې نارې سورې پورته شوې. نادر دراګُنوف را واخیست او په دوربین یې سترګې کیښودې، د کلا په منځ کې اور منډې وهلې داسې ښکاریدل لکه چا چې ځان ته اور اچولی وي. څو کسو له څادرونو او د اوبو له ستلونو سره منډې پسې وهلې، خو هغه دومره چټک و چې هیڅوک نه شوای پسې رسیدلی.

هغه څو دقیقې په انګړ کې منډې وهلې وروسته د لارې په منځ کې ولویده او نورو اوبه او څادرونه پرې واچول. د نادر لاسونه څنګونو ته ولویدل، ستونی یې وچ شو او ناڅاپه یې زړه ولړزیده. که نګارې ځان سوځولي وي بیا به څه کوم؟ دا څوک کیدای شي؟ نګاره؟ ای خدایه زما په لور څه وشول. دا اور چا اخیستی و؟ په لړزیدلي آواز یې وویل: ظاهره ژر ملا رمضان رخ کړه!

ظاهر په بیړه خپل موبایل له جیبه را وایست، ملا رمضان ته یې زنګ وواهه څو شیبې وروسته رمضان بلی وویل او نادر په بیړه وپوښت:

- چا ځان ته اور اچولی دی؟

رمضان په ترهیدلي انداز وویل:

– نګارې! نادرخانه، نګارې...

ملارمضان چې پوه شوی و نادر په نږدې ځای کې دی او د خپلې لور ځان سوځونه یې لیدلې په عذر یې وویل:

– نادرخانه! پنځه دقیقې صبر وکړه چې زه له دې ځایه ورک شم...

نادر ټیلیفون قطع کړ او په مرګونې چوپتیا یې خپلو کسانو ته کتل. د مصطفی وریغ الوتی و، زړه یې له یوې ډارونکې پیښې خبر ورکاوه او په بې صبرۍ سره یې د نادر خولې ته کتل چې د پیښې په اړه ورته ووایي، خو نادر غلی و. بدن یې د سوځیدو احساس کاوه. په ټول وجود یې ستنې خښې وې او لړزیده. مصطفی یې د غاښونو کړپهار اورید او اندیښنه یې لاپسې زیاتیدل:

– نادر کاکا! څه وشول؟

– د کلا په منځ کې دې لمبې ولیدې؟

– هو، نګاره وه.

مصطفی چیغه کړه ناڅاپه د نادر په لاسونو ور ولوید. نادر هغه را پورته کړ او لږ اوبه یې وغوښتې. ظاهر په بیړه اوبه ورکړې. هغه د مصطفی پر مخ اوبه وشیندلې:

– مصطفی ځان په واک کړه! په سد شه چې نګاره وسوځیده، کوږدنې دې اور واخیست او وسوځیدله. ټوپک دې راپورته کړه! را پورته کړه چې د غچ اخیستو وخت دی.

نادر، مصطفی د ډېرو پرسر پریښود:

– هلکانو بیړه وکړئ دراګُنوف راکړئ!

هغه په تلوار بیا ټوپک را واخیست او د ډبرې پرسر یې کیښود، د نګارې سوځیدلی مړی یې چوترې ته راوړی و، قادر ورته ولاړ و. ویریدلی معلومیده. نادر د هغه د دوو وروځو منځ په نښه کړ او پر ماشه یې ګوته ټینګه کړه.

دراګُنوف وغړومبیده یو ثانیه وروسته د قادر د تندي منځ څیري شو او د نګارې د سوځیدلي مړي ترڅنګ ولوید. میلمانه چې تر دې دمه یې د نګارې سوځیدو ته کتل د قادر په لویدو او د هغه له تندې څخه د وینو د دارې په لیدو سره ترهیدلي یوې بلې خواته خواره شول، نادر لکه پلنګ وغورید:

– مصطفی پاڅه! زمونږ پلان ګډوډ شو، له دې ځایه کار ختموو.

هغه دا وویل او ویې لیدل چې مصطفی لا لړزیږي او ډزې نه شي کولی. پر ملا یې ټینګه لغته ورکړه نورو ته یې وویل:

– شروع کړئ! څوک له کلا ژوندی درنه را ونه وځي.

مصطفی پلټرۍ ووهله، خپل پیکا ماشیندار یې را پورته کړ او په ډزو یې پیل وکړ. د سترګو په رپ کې نولسو کسو د کلا په لورې بې ځنډه ډزې پیل کړې. ګولۍ د کلا په دروازه او دیوالونو او د میلمنو پر سینو او بدنونو لګیدلې. نادر پخپل دراګنوف سره د خلکو له منځ څخه چې د پټیدو ځای یې لټاوه یو یو په نښه کاوه او دده د ټوپک له هر ډز سره دیوه تن تندی سوری کیده او پر ځمکه لویده.

په څو شیبو کې په موسیقي او نڅا مسته کلا د اور، لوګیو او ګولیو په دوزخ بدله شوه، ټول یو پر بل لویدلي وو. مصطفی د څو ګولیو په ویشتو سره له ځایه را ولاړ شو له غره ښکته وښویده په لوړ غږ یې وویل:

– چې کلا ته ننوتم، ودریږئ او پر ما پام کوئ.

مصطفی پیکا په لاس کې تیار ونیو او بس چې په کوڅه کې به یې تور شی لید، ماشه به یې ټینګوله او څو ګولۍ به یې ویشتې. له هغه پورته ځایه چې نادر او انډیوالان یې ناست وو، ټوپکې په نوبت چلیدې، که به کلاشینکوف غلی شو، پیکا به چلیده او که به پیکا ودرید دراګنوف به غړومبده او د ((آرپی جي)) راکټونو به یې بدرګه کوله.

له پنځلس دقیقو پرله پسې ډزو وروسته، نادر چیغه کړه:

– هلکانو! اوس ډزې مه کوئ، لږ صبر وکړئ چې مصطفی کلا ته ننوځي.

هغه کلا ته ننوت هرې خوا ته یو په وینو کې لمبیدلی پروت و. د ونو او ویجاړو دیوالونو له شا زګیروي اوریدل کیدل. د پلو، سابه او غوښې دیګونه سوري شوي وو او له هغو څخه اوبه او غوړي په اورونو څڅیدل او سوځیدلی بوی لټیده.

د باروتو بوی پورته کیده او مصطفی لکه لیوه د مړو په منځ کې د نګارې په لټه و. هغه سوځیدلې نګاره د چوترې پر سر پیدا کړه. قادر یې ترڅنګ پروت و او له تندي څخه یې د غوړونو بیخ ته د وینو داره تللې وه او تر ویښتانو لاندې یې ورکه شوې وه.

مصطفی د قادر پر مخ پیکا کیښود او د نیمایي شاجور په فیر کولو سره یې د هغه مخ د ټکیدلو غوښو او هډوکو په ټوټه بدل کړ وروسته یې نګاره په اوږو کړه او له کلا څخه په بیړه راووت. د نګارې له سوي بدن څخه وینې څڅیدې، ګولیو یې زړه او سینه سورۍ کړې او مرګ یې آسانه کړی و.

مصطفی څو شیبې وروسته په سترې ساه د چارتاق غره سر ته خپلو انډیوالانو ته راورسید، د نادر مخې ته کیناست او د نګارې سوځیدلی مړی یې د پلار مخې ته کېښود، ټوپکونه غلي شول او له درې څخه سوړ باد را والوت، د چارتاق غره په ډبرو ولګید او د هغوی مخ ته یې څپېړې ونیولې.

نادر مړي او سوځیدلي ډیر لیدلي وو. ټول عمر یې په وژلو، سو ځیدلو او اور اچولو کې تیر شوی و، خو د خپلې لور سوی مړی یې نه و، لیدلی. دا لومړی ځل و، چې د خپل اولاد د مړینې سوځوونکی درد یې احساساوه. ډیره سخته ده څوک دې چې په زحمت او کړاو لویه کړې وي، تل درته موسکۍ شوې وي، مړه وي، سوځیدلې وي، بدن یې سوری سوری شوی وي، دباور وړ نه ده. خدایه دغه درد څومره سوځوونکی دی، څومره له طاقته وتلې ده. هیڅ وخت یې د نګارې مرګ نه و، تصور کړی. نګاره سوځیدلې وه، ځان ته یې اور اچولی و.

څومره سخته ده، چې د تن غوښه دې وسوځي، کباب شي، خو ته له سوځیدلو سره مینه ولرې، وغواړې وسوځې او سوځیدلی یې. له ژغورنې وتښتې او له هغو کسانو وتښتې چې غواړې تا له مرګه وژغوري. نګارې د کلا انګړ ته منډه اخیستې وه، منډه یې کړې وه تر څو د چا لاس ور ونه رسي، منډه کړې یې وه چې ټوله وسوځي. نګارې ته کباب شوې؟ نګارې ته وسوځیدې؟

نادر په چیغو چیغو وژړل. مصطفی اوښکې تویې کړې او ددوی هر یو انډیوال د یوې ډبرې خواته ولاړل او ویې ژړل. له ولسوالي څخه د پولیسو موټرونه را روان شوي وو، د چهارتاق دښته یې پخپلو څراغونو رڼا کړې وه او په چټکۍ سره د زینلیانو خواته نږدې کیدل. نور د پاتې کیدو وخت نه و. باید له سیمې څخه تښتیدلي وای. نادر له ځایه راجګ شو او چیغه یې کړه:

– ټول د آسونو په لور!

ټول په چټکۍ سره د آسانو خواته چې د غره په ډډه کې ولاړ وو، ولاړل. هغه د خپلې لور مړی په اوږو کړ چې د خښولو لپاره یې آسماني غره ته یوسي.

□

نادر ته ځمکې ځای نه ورکاوه. چې سترګې به یې پټې کړې، د خپلې لور سوځیدلی تن به یې لید. دکلا په منځ کې د اور لمبې، آه! څومره سخته ده، د بدن غوښه دې وسوځي، کباب شي. د ځان ستي کیدل احساس کړې او د خپلو هډوکو د ماتیدو او سوځیدو ټکهار واورې.

د نګارې سوځیدلی مړی یې راوړی و او تر قرارګاه پورته یې په غره کې پر یوه ډبره ایښی و، څو تنه قبر ورته کینده.

نادر او مصطفی د نګارې ترڅنګ ناست وو، د نګارې د سترګو سپین راوتلي وو او تور رنګې اوبه ترې راوتلې، د مخ غوښه یې سوځیدلې او ښې خواته هډوکي یې معلومیدل. یولاس یې تر پړې غوړیدلې تورې ټوټې څخه راوتلی و، سوځیدلې ګوتې یې کرې شوې او یوه پربله اوښتې وې.

مصطفی هغې ته وکتل باور یې نه کیده چې مرمرینه نګاره یې په سوي کباب بدله شوې ده. دا هماغه نجلۍ وه چې پر ګودر یې لیدلې وه؟ دا هماغه جذابې سترګې دي؟ دا هماغه خنداني شونډې دي؟ نګارې خنداوې دې چیرې دي؟ نګارې، کتل دې څه شول؟ نګارې زلفې دې وسوځیدې، سترګې دې وسوځیدې، موسکا دې ولاړه شونډې دې سره ونښتې او قلف شوې. د مصطفی ستونی یوځل بیا را ډک شو لکه غاړبوجن چې وي. د هغې کندې څنګ ته کیناست چې د کیندلو کار یې پای ته رسیدلی و او څو شیبې وروسته یې نګاره پکې ایښودله او خاورې او ډبرې یې پرې امبارولې. د نګارې په مرګ باور کول اوس هم ورته مشکل و، باور یې نه کیده چې نګاره دې مړه وي، سوځیدلې دې وي. ولې یې نګاره د نورو مړو غوندې نه خښوله؟ ولې یې د جنازې لمونځ نه پسې کاوه او د هغې فاتحه یې ولې نه اخیستله؟

ورغی د نادر خواته کیناست. نادر خپله خولۍ د غوږونو تر بیخه کش کړې وه. سترګې یې لمدې او پړسیدلې وې او د پوزې له سره یې د یخ وهلې ځمکې پر سر په واوره د اوبو څاڅکی په رالویدو و.

– نادر کاکا! د نګارې لپاره کفن په کار نه دی؟

– یه.

– د جنازې لمونځ؟

– یه.

– فاتحه؟

– نه هیڅ شی ضرور نه دي. ته په دې فکر مه کوه، دلته یې خښوو. د هغې لپاره تر دې ښه ځای نشته. پریږده هغه نجلۍ چې تښتولې یې وه او بیا یې ځان ته اور واچاوه، همدلته نوم ورکې تر ډبرو لاندې خښه شي. که ژوندي وو کله کله به راځو او د هغې احوال به اخلو.

ظاهر غږ کړل:

– نادر کاکا قبر تیار دی.

دواړه له خپلو ځایونو پاڅیدل او د نګارې خواته ولاړل. مصطفی نګاره له ځمکې څخه راپورته کړه او په قبر کې یې کیښوده. نادر ور ښکته شو او د هغې مخ یې په ټوکر پټ کړ بیرته را وخوت ویې ویل: ظاهره ډبرې پرې کیږده!

ظاهر څو غټې ډبرې د نګارې له مخ او سینې یوځه را پورته ولګولې او له را پورته کیدو وروسته یې نورو ته د ډبرو او خاورو د اچولو اشاره وکړه. په څو شیبو کې نګاره له سترګو نهامه شوه او خپل سوځیدلی بدن یې غره ته وسپاره. تورو وریځو یو ځل بیا د آسماني غره په شاوخوا منګولې خښې کړې او د اوریدو تابیا یې ونیوله. د ورځې پای و په دې لوړو څوکو سوړ باد چلیده، هره ډبره یې په څپیړو وهله او د هغو تر غوږ لاندې شنیدلی په جنوب لوري تلو. نادر د نګارې پر ګور د وروستۍ ډبرې په ایښودلو او سمولو سره خپل پټو راواخیست: ځئ چې ځو! خپل یومونه او کلنګونه یې راټول کړل. خپل ټوپکونه یې په اوږو کړل او په نادر پسې له غره راښکته شول. په ډبرینو خونو کې یوځل بیا ساه وچلیده، اور او چای یې یخ ویلي کړ.

نادر د خونې په کونج کې خپل دراګُنوف ته کتل. تیره شپه دغه ټوپک د قادر تندی دوه ځایه کړی و او د هغه لس پنځلس کسان یې وژلي و. همداسې نورو ټوپکونو د قادر په لسګونو میلمانه سوري سوري کړي وو. خو لا تراوسه د نادر زړه ارام نه و. غوښتل یې یو څوک وسوځوي.

غوښتل یې د قادر یو خپلوان د نګارې غوندې په اور کې وسوځول شي، غوښتل یې د کباب کیدو بوی یې تر سپږمو شي او دهغه لاس او پښو وهلو څخه ارامتیا ته ورسیږي. غوښتل یې په خپلو لاسونو پرې تیل وشیندي او بیا اور ورته کړي او د هغه له ویلي کیدو خوند واخلي.

ورته مخامخ ډبرو چې په یوبل کې په اوبدل شوي شکل تر چته رسیدلې وې، د نادر زړه تنګ کړ. جې هرې خواته یې سترګې اړولې ډبرې وې، تورې ډبرې چې کله به سپینې کرښې هم پکې څرګندیدې، خپله لور یې لړ ور پورته تر دې ډول ډبرو لاندې غره ته سپارلې وه د غره په زړه کې یې ورته ارامځای جوړ کړی و. نګارې ویده شه، کراره ویده شه، یوازې دې نه پرېږدم.

نادر د کوټې له ډبرو سترګې واړولې مصطفی ته یې وکتل چې د اور له څنګه یې د ګرګې لمبو ته کتل، کتل یې او د لرګې د ګرګې سوځیدو او ترکیدو ته یې غوږ نیولی و.

– مصطفی!

– بلي نادر کاکا!

– ته څو ورځې ولاړ شه کرخ ته. وګوره چې وضعه څنګه ده. وګوره د قادر له کورنۍ څخه څوک ژوندي پاتې دي او چیرې دي. غواړم چې که د هغه کومه لور ژوندۍ پاته وي، غره ته یې راولې چې ویې سوځوم او د نګارې ترڅنګ یې خښه کړم. نه غواړم لور مې د آسماني تر دغو ډبرو لاندې یوازې وي.

نه غواړم یوازې د هغې له قبره د سوځیدلو غوښو بوی راشي. ته مصطفی ولاړ شه! په احتیاط ولاړ شه، فقط د قادر له کورنۍ څخه یوه نجلۍ پیدا کړه او راېې وله چې د سوځیدلې نګارې لپاره خورلنه شي. زه پخپله هغه سوځوم او بیا یې ورم د نګارې خواته یې خښووم، نن شپه ساه وکړه سبا ولاړ شه!

## ۳

انجنیر خلیل له شل کاله مهاجرت وروسته له آلمانه هرات ته راته. خپل وطن او خپلوان یې ډیر یادیدل. کله یې چې د سپرلۍ الوتکه پر هرات راټیټیدله، عجیب احساس یې درلود، هرشي ته په اندیښنه کې و: د ژوند له سره پیلول، په نوي کار شروع کول، د پلرني کور بیا جوړول، د دوستانو هرکلی، ټولې هغه مسلې وې چې نه پوهیده څنګه به پیښیږي.

کله چې الوتکه د هرات ښار ته ورسیده، له ښیښې یې ښار ته وکتل، سترګې یې د هرات پیر خواجه عبدالله انصاري په مزار ولګیدې چې د غره په لمن کې و. سترګې یې له اوښکو ډکې شوې د هرات د پیر ویناوې یې چې لوستې وې

په زړه شوې: «بدان ارزی که می‌ورزی» ښايي ددغه ځای په قدر پوه نه وو، چې په ټوله دنیا کې وشیندل شوو او په نورو ملکونو کې سرګردانه شوو.

د خواجه عبدالله انصاري ارامځای ته یې په مینه وکتل بیا یې سترګې د ښار او هریرود په لوري واړولې، هرات پراخ شوی و او ترپخوا د مینې وړ ښکاریده. زړه یې په درزا شو. پر هغه خپله خاوره ډیره ګرانه وه. سره له دې چې الوتکې یې د هرات پر فضا الوتنه کوله، زړه یې نه منله چې پلرني ټاټوبي ته دې راستون شوی وي.

الوتکه سوکه پر هوايي ډګر راښکته شوه. خلیل له څو تنو وروسته په زینو راښکته شو او ځمکه یې ښکل کړه، مچول یې د هغه زوی مچولو ته ورته و، چې له کلونو جلا والي وروسته یې خپله مور پیدا کړې وي.

د هوايي ډګر په بله خواکې یوشمیر کسان خپلو مسافرو ته سترګې په لاره وو. د هغو په منځ کې نثار او د هغه اته کلنې لور نازنینې په بې صبرۍ سره د خلیل انتظار کاوه. نثار دیارلس کلن و چې ماما یې له کورنۍ سره د سفر موزې په پښو کړې او تللی و چې د جګړې بدمرغه سیوری له خپله سره لیرې کړي.

نثار به تل د ټیلیفون پر کرښه له خپل ماما سره خبرې کولې او کله کله به یې ماما یوه اندازه پیسې ورته رالیږلې چې د هغه پر کور او باغ یې ولګوي. نثار ښکلی ځوان و. هغه ګڼ ویښته، تورې سترګې او لږڅه لوړه ونه لرله. په څیره کې یې ارامي لیدل کیده د خپل متانت له مخې پخپلو دوستانو ګران و. دی د یوه خصوصي بانک کارکوونکی و. دریشي یې کوله او نکټايي یې تړله.

نازنینه رښتیا نازنینه وه. ویښتان یې د پلار تر ویښتانو ګڼ وو، سترګې یې ځرځې او نافذې وې، ترڅو دې چې ورته کتل په شونډو یې موسکا خوره وه. هغې ښکلې جامې اغوستې وې تر څو یې د پلار د ماما خوښه شي او د هغې صفت وکړي.

انجنیر خلیل چې د اوسپنو د پنجرو مخې ته ورسید او نثار یې وپیژاند. سره له دې چې نثار لوی شوی و، خو د ماما سترګو هغه ښه په یاد و او هیر کړی یې نه و، په موسکا د هغوی خواته ورغی.

اول یې نثار په غیږ کې ونیو، ښکل یې کړ بیا یې د هغه لور یې له ځمکې راپورته کړه هماغسې چې هغه یې پورته نیولې وه ورته کتل یې: د لور په څیره کې د پلار ښې ډیرې روښانه را ټولې شوې وې، لکه منه چې یې نیمه کړې وي. هغه د نازنینې مخ ښکل کړ ویې ویل:

– وه وه څه ښکلې نجلۍ ده؟ څه ښکلې جامې یې اغوستې؟ نازنینه څه نازنینه نجلۍ ده!

نازنینې چې د همداسې صفتونو تمه لرله په لومړي لیدو کې یې د پلار له ماما سره مینه پیدا شوه، په جرآت یې وویل:

– ماماجانه! ماته دې څه راوړي دي؟ ماما وخندل ویې ویل:

– ستا ټول فرمایشونه مې راوړي دي، خو تر هغه د مخه باید بکسونه کورته ورسوو.

هغوی د بکسونو له راتلو وروسته د ښار په لوري روان شول. انجنیر خلیل پر لاره په هرات کې راغلیو بدلونونو ته کتل، نوې ودانۍ او پاخه سرکونه ټول ورته نوي او د لیدو وړ وو.

هغه وخت چې ده په دې ښار کې ژوند کاوه، سرکونه خام و او پخې ودانۍ لږ تر سترګو کیدې، هغه وخت جګړو هرات په یوه کنډواله بدل کړی و، خو اوس هغه بل حالت لید. پاخه واټونه له موټرونو او پلیو څخه ډک وو، ډیر دکانونه او د سرک دواړو غاړو ته د ناجوګانو څوانې او زړې ونې د عسکرو غوندې د تشریفاتو او میلمه پالنې لپاره ولاړې وې.

خلیل نثار ته مخ ور واړاوه ویې ویل:

- هرات چټک پرمختګ کړی دی او ښه آباد شوی دی، مبارک دې وي.

نثار په موسکا وویل:

- که ارامي وي، تر دې هم ښه کیدای شوای، زموږ رنځ یوازې دادی چې نه پریږدي دا وطن په ارامه ساه واخلي.

د دوی موټر د هوایي ډګر له څو واټونو څخه په تیریدو سره ښار ته ورسید. او له څو نورو سرکونو په تیریدو سره ((مهتاب)) واټ ته ننوت.

د انجنیر خلیل پلرنی کور په دې واټ کې و. دلته د هرات تر بل هر ځای نوي لوکس او فیشني کورونه جوړ شوي ول. خلیل څلورو خواوو ته کورونو ته وکتل ویې پوښتل:

– دا سیمه کوم ځای دی؟

نثار وخندل:

– دا مهتاب واټ دی ، زموږ خپل واټ.

خلیل باور نه کاوه. مهتاب واټ چې یو وخت له خټینو کورونو ډک و او ډیر کورونه یې د توغندیو د لګیدو او کوڅه په کوڅه جګړو له امله په کنډوالو بدل شوي وو، اوس دې په داسې یوه لوکس ځای بدل شوی وي. هغه په حیراني وویل:

- دا ځای په لږ توپیر سره د اروپا واټونو ته ورته دی. نو په دې حساب زموږ خټین کور ددې کورونو په منځ کې بې سیاله دی!؟

نثار د هغه د خبرې په تایید سره وویل: هو لوی بڼ چې په منځ کې خټین کور هم لري، په هرات ښار کې لږ پیدا کیږي.

کله چې د هغوی موټر د کور مخې ته ودرید، خلیل خپلې ورکې خاطرې بیا پیدا کړې: د انګړ لرګینه کیندل شوې دروازه لا اوس هم د خلکو او میلمنو هرکلي ته ولاړه وه، هغه دروازه چې پنځه ویشت کاله یې دی او دده کورنۍ پخوا د ننه رهنمایي کړي ول.

د دروازې هغې خواته د نثار میرمن ثریا په بې صبري سره د میلمه انتظار کاوه، ثریا د موټر  په دریدو سره لږ را نږدې شوه او له نیمې پرانیستې دروازې څخه یې د باندې وکتل، غوښتل یې د خپل خاوند ماما چې تل یې د هغه صفت اوریدلی و، ووینې.

کله یې چې بکسونه له موټره را ښکته کول، انجنیر خلیل یوې خواته ولاړ و او څلورو خواوو ته یې په دقت سره کتل. ثریا انجنیر خلیل ته وکتل له ځانه سره یې وویل: د خاوند ماما مې څومره سوتره سړی دی. هغې دا وویل او وروسته له دروازې لږ لیرې د میلمه راتلو ته منتظره شوه.

انجنیر خلیل څلور پنځوس کلن سړی و، چې ټیټه غوښنه ونه یې لرله. ویښته یې نه وو، تویې شوي خو د کاغذ غوندې سپین شوي وو. لنډه ږیره یې پرې ایښې وه چې په منظم ډول یې وهلې وه او غوښن غومبري یې را وتلي ښکاریدل. سپین بخونده دریشي یې اغوستې وه چې له سپینو ویښتانو سره یې ښه لګیده. هغه پخواني تور بند لرونکي بوټونه په پښو کړي وو، چې له پاکوالي رڼه بریښیدل.

نازنینې چې ولیدل یې پلار یې د بکسونو په را ښکته کولو لګیا دی، انګړ ته یې منډه کړه، پر مور یې زیری وکړ:

- مورجانې! ماما راغی.

مور یې لاس ونیو او هغسې چې د هغې په ویښتو کې یې ګوتې وهلې، وویل:

- ښه په خیر دې وي، هغه مه په عذابوه چې ستړی ستومانه دی.

نازنینې خپلې مور ته وکتل ویې ویل:

– ماته چې نانځکې راکړي نور کار نه ورسره لرم.

مور یې وخندل چې په دې وخت کې ماما انګړ ته راننوت. ثریا ورمنډه کړه، د هغه لاس یې ښکل کړ او ښه راغلاست یې ورته ووایه. ماما هم د ثریا پر سر لاس تیر کړ ویې ویل:

– ژوندۍ اوسې لورې. خدای دې په عزت لره.

هغه دا وویل او د حویلۍ او کور په خوا یې وکتل. داسې لکه چې د کور او زړو ونو دی په یاد وي او د ثریا غوندې ورسره روغبړ کوي. نویو ونو هم لکه چې د خپل څښتن غږ اوریدلی وي په نرم شمال سره یې سرونه خوځول. عجبه آشنایي او عجبه صفایي وه. ددغه کور هره خښته او ګل پر خلیل ګران وو او ددغې حویلۍ هرې لویشتې دده او دده د کورنۍ د لاسونو او پښو یاد له ځانه سره درلود.

ثریا ماما کور ور وباله، خو ماما کور ته نه ننوت. ولاړ او د بادام تر ونې لاندې اوږد وغځید. د ځمکې او هوا ښه بوی خوند ورکړ، له ځمکې او آسمانه مینه او مهرباني اوریده. له ځانه سره یې وویل: وطن، وطن دی، د دنیا هیڅ ځای ددې څو ګزه ځمکې په اندازه خوندور نه دی. ستړی شوم، له ماشیني ژونده ستومانه شوم. جرمني دې جرمنیانو ته مبارک وي. زه مې نور خپل ټاټوبی په ټوله دنیا نه ورکوم.

د نازنینې غږ څومره زړه وړونکی و:

– ماما جانه چیرې یې! راشه زما نانځکې راکړه!

او وروسته یې د هغې د مور پوست غږ واورید چې ویل یې: نه، بده ده، ورته ووایه ماماجانه راسه چای وڅښه.

نازنینې هم غږ کړ:

- یه ماما جانه زما نانځکې مه راکوه، راځه چای وڅښه!

ماما وخندل او په شمیرلو جملو کې یې وویل: ماما دې جارشي! زه دلته یم، د بادام تر ونه لاندې. مور ته دې وواېه چای تیار کړي، زه درځم.

انجنیر خلیل کوټې ته ولاړ او په توشکه کیناست. شاوخوایې وکتل کوټه په ترکمني غالۍ چې سره، نارنجي او نصواري ګلونه پکې اوبدل شوي ول، فرش شوې وه او څو پاکې ستره توشکې له بخملي بالبنتونو سره د کوټې په څلورو خواوو کې هوارې وې. د سوسني ګلونو لرونکو شینبخونو پردو د کوټې ښکلا لازیاته کړې وه او یوه لوري ته پرده راټوله شوې وه چې ترې د انګر لویدیځه خوا او بڼ او د هغه زړې ونې ښې لیدل کیدې. ثریا د چای پتنوس راوړ او چای او سوهانک حلوا یې د خلیل مخې ته کیښودل، چای یې په پیالو کې واچاوه او هغه ته یې وړاندې کړ. خلیل حلوا ته وکتل ویې ویل: د هرات حلوا ده؟ څومره د وطن په دې شیرینیو پسې خپه شوی وم. هغه دا وویل او بیا یې د سوهانک حلوا یوه ګوله ورپورته کړه او چای یې پسې سور کړ. چای او حلوا خوندور وو. له شلو کلو وروسته یې داسې چای څښنه چې د کور له اوبو څخه یې دم شوی و. نازنینې ته یې وکتل ویې ویل:

- نازنینې ګلې! یوه سور چای ټوله ستړیا له ځانه سره یووړه. راځه چې ستا ډالۍ درکم.

نازنینې له خوښۍ په ټوپو شوه د مور له غیږې یې د هغه په خوا منډه کړه لاسونه یې د هغه په غاړه کې واچول ویې ویل:

- پلاره د ماما بکس دې چیرې ایښی دی؟

نثار وخندل د ماما لوري ته یې وکتل. ماما وویل: ورشه زما هغه تور بکس راوړه چې د نازنینې سوغاتونه ورکړم. څو شیبې وروسته ماما بکس خلاص کړ څو نانځکې، د ښوونځي یو ښکلی بکس چې خرس پرې رسم شوی و، یوه جوړه بوټ او څو د ویښتانو قیدکونه هغه سوغاتونه وو چې ماما په څو ورځو کې د هامبورګ په مغازو کې پیرودلي وو هغه له بکسه راوایستل او د نازنینې مخې ته یې کیښودل. نازنینې چې دا ولیدل له خوښۍ یې چیغه کړه ټول یې را ټول کړل او د خونې په یوه کونج کې یې هر یو تر سترګو تیر کړل.

خلیل نور آرام شوی و، د څو ساعتونو مخکې هیجان یې نه درلود پلرني کور ته په رسیدو سره یې داسې احساسوله چې بیا ماشوم شوی دی، تیک داسې لکه چې د مور وپلار په څنګ کې و، له هیڅ غم سره آشنا نه و او په دې باغ کې یې ښکته پورته منډې وهلې او هیڅ خزندې او الوتونکې دده له لاسه آرام نه درلود، بې غمه شوی و. چورتونو له جنګه مخکې کلونو ته وړی و هغو وختونو ته رسیدلی و چې ټولو خلکو د ډوډۍ پیداکولو لپاره له منډو تړړو پرته بل هیڅ غم نه درلود هغو وختونو ته چې ټول دوستان، آشنایان او خپلوان سره یو ځای و او د وزګارتیا په وخت کې به د تفریح لپاره «میرداوود، تخت صفر، اوبې، دهنغار، د هري سیند غاړو، پل مالان، پل هاشمي، خواجه غلتان شریف ته...» تلل. د رخصتي په ورځو کې به هرات داسې و لکه هیڅوک چې پکې نه وي، ښځې او نارینه واړه او زاړه به څلورو خواوو ته تلل له ژونده به یې خوند اخیست، جګړو هرڅه ختم کړي وو. ځینې وژل شوي وو، ځینو ټوپک په اوږو کړي او غرونو ته ختلي وو یو شمیر نور بیا د پاڼ او پړانګ ترمنځ پاتې و او ځینې بیا لیرې او نږدې ځایونو ته کډوال شوي وو. د ژوند نظم له منځه تللی و ددې وطن په هره لویشته تباهي واکمنه وه.

پنځه ویشت کاله په هغه خاوره کې چې هیڅکله یې ونه شوای کولی ورسره اموخت واخلي ځومره سخت و. اوریدلي یې و، چې هرات بیا د ژوند وړ ګرځیدلی دی او کولی شي پاتې عمر هلته تیر کړي د سفر موزې یې په پښو کړې بار وبستره یې تړلې بیرته راغلی و او هغه بدلونونه چې په لاره کې یې لیدلي وو دی لا نور هیله من کړی و چې ځو ورځې به دلته په ارامي تیرې کړي.

نثار ماما ته مخامخ ناست و او هغه ته یې کتل. خوشحاله و فکر یې کاوه چې د ماما راتګ یې په کورنۍ کې ستره تشه ډکه کړې ده. د ماما راتلو یې زړه ته قوت ورکړی و، فکر یې کاوه مور و پلار یې بیا پیداکړي دي. د نثار یوازنی ورور قادر، چې تر ده ځلور کاله کشر و، دا ځو ورځې د مخه وژل شوی و، دوی له یوبله جلا اوسیدل او کله چې لا قادر ژوندی و، نثار ځو ځله خپل ورور د هغه د ژوند د طریقې په خاطر رټلی و.

ماماله کړکۍ ځخه د مرغیو هغه سیل ته کتل چې د یوه باز د راتیتیدو په وخت په ویره والوتلې ماما د دغې صحنې په لیدو سره له بې مرغیو ښاخ ځخه سترګې د نازنینې په خوا واړولې چې لا یې خپلې نانځکې سره سمولې او له خوشحالي په جامو نه ځاییدله.

– ماما یې جار شي نانځکې دې خوښې شوې؟

نازنینې په خوښۍ وویل:

– نو څه؟ که زما خورلنې یې ووینې، زره ترکې به شي.

– نو مه یې ور ښکاره وه چې زره ترکې نه شي.

– یه، ور ښکاروم یې خو مخکې لا ورته وایم چې حیرانیږئ به نه!

نثار، ثریا او ماما چې د نازنینې په خوشحالۍ خوشحاله وو، مجلس یې پیل کړ. خلیل اول د قادر د مرګ په اړه وپوښتل:

چې په ټیلیفون کې دې راته وویل چې قادر مړ شوی ډیر خواشینی شوم، د تا غوندې مې خوریی و، راباندې ګران و.

نثار له اسویلي سره وویل:

– ماما جانه قادر ورور مې ووژل شو.

– څه؟ خو تا ونه ویل چې پخپل مرګ وفات شوی دی!؟

– دروغ ومې وویل ماما! هغه د چا لور راتښتولې وه هغوی هم راغلل، پر واده یې برید وکړ دی یې له ځو نورو میلمنو سره وواژه.

انجنیر خلیل چې قادر یې د یوه نه منونکي او شوخ خو ځیرک هلک په توګه پیژاند ددې خبر په اوریدو سره ولړزید، ستونی یې راډک شو او په سترګو کې یې اوښکې ډنډ شوې. نثار چې د ماما حال ته متوجه شو ویې غوښتل د هغه د تسلي لپاره څه ووایي:

– ماما خدای دې یې وبښي. اوس مونږ هیڅ نه شو کولی که تمامه شپه ورځ هم وژاړو، هغه نه را ژوندی کیږي.

خلیل سوړ اسویلی تر خولې ویوست ویې ویل:

– د هغه په باره کې مې ځینې خبرې اوریدلې وې، ویل یې چې ته هم چندان ترې راضي نه وې، خو زما نیت دا و چې هغه را وغواړم او پخپل څنګ کې یې و روزم او یو ژوند ورته جوړ کړم.

– قادر د چا نه منله ماما! ما هم ډیر کوښښ وکړ چې هغه له ځانه سره کړم او یو کاروبار ورته پیدا کړم خو نه یې منله سر زوري یې وکړه تر څو ووژل شو له هغه څخه هیڅ راضي نه وم. څو جریبه ځمکه مو چې لرله هغه یې هم خرڅه کړه، بد کارونه یې کوله ځان ته یې په لسګونو دښمنان پیدا کړي ول. لنډا داچې هر څه ورته له خپله لاسه ورسیدل. چې مړ شو کلا هم خلکو پخپلو منځو کې سره جلا کړه چې پورونه یې خلاص شي او نور موږ ته په کرخ کې د پښې ایښودلو ځای هم پاته نه شو.

– ډیر خواشینی شوم ځمکه که تللې وه دا هیله وه چې یو وخت بیرته په لاس راغلې وای، خو دی ځوان و کیدای شوای اصلاح شوی وای.

نثار په اسویلي وویل: ماما د آلمان کیسې وکړه! د هغه ځای د ژوند کیسې.

ماما وویل:

– ماما یې جار شي په دې خبرو دې ماته کیسې سختې کړې...

– نثار وپوښتل:

– ستاسې اولادونه څه کوي او څه حال یې دی؟

انجنیرخلیل سوړ اسویلی وکړ او ددې لپاره چې د خواشینۍ دغه فضا بدله کړي، ویې ویل:

– رښتیا چې په خارج کې ژوند سخت دی. انسانان ماشیني شوي دي له یو بل سره ناسته ولاړه یې هیره کړې ده. هر څه له وخت او کار سره تړلي دي او له دوستانو سره لیدو کتو ته ډیر لږ وخت پیدا کیږي هلته ژوند موږ ته چې دلته مو نوم او مقام درلود ډیر سخت و، ځکه مې وغوښتل خپل پاتې عمر دلته تیر کړم او ستاسې تر څنګ و اوسم. زامن مې ولاړل زه اوس هسې په نوم زامن لرم د هغوی احوال نه لرم. په لویدیځ زوی هیچا ته نه پاتې کیږي، ځي نه پاته کیږي ځي پخپل کار پسې. هغه مینه، درناوی او عاطفه چې دلته په کورنیو کې ده او زموږ په دین کې شته هلته نشته که وي هم په بل ډول دي. چې مور یې مړه شوه، هغوی ډیر لږ ماته راتلل او زه یو مخ یوازې شوم نو ومې پتییله چې وطن ته راشم تر څو هر څه له سره پیل کړم، په زاړه پلرني کور کې نوی ژوند.

نثار او ثریا چې د ماما د خبرو تر اغیز لاندې راغلي ول په یوه غږ یې وویل خدای دې راوله خدای به هرڅه سم کړي. ماما غلی شو او یوځل بیا یې له کړکۍ د باندې وکتل هلته یو ځل بیا مرغۍ د ښاخونو سرونو ته راغلې وې وزرونه یې رپول او چونهار یې اوریدل کیده. اشنا غږ و ښایي پخپل منځ کې یې کیسې کولې ښایي دا ته یې ښه راغلاست وایه. څه یې ویل معلومه نه وه خو په زړه پورې وو.

ماما له خپله ځایه را ولاړ شو او د کړکۍ خواته ولاړ، باغ ته یې وکتل او هماغسې چې هره ونه یې تر نظر تیروله نثار ته یې وویل:

- خوريې! زما فرمايشونه دې پر ځای کړل؟

نثار له ځايه را ولاړ شو ماما ته يې وويل: هو. هر شی تيار دي. که ستومانه نه يې، ځو، په ګډه يې ګورو.

- يه ماما يې جار شي ستړی نه يم.

هغه دا وويل او بيا د دروازې په لوري روان شو. نثار هم پسې روان شو، بڼ خپله ښکلا بيا پيدا کړې وه. نثار دا ځو کاله يو باغوان ورته نيولی و، د جنګ د کلونو د وچو شويو ونو پرځای يې د مڼو، بادامو او شفتالو نوې ونې پکې کينولې وې او باغ يې له سره جوړ کړی و. ماما هرې ونې ته په ځير وکتل انګړ ته ولاړ او د ځو ختينو کوټو په ليدو سره موسک شو ويې ويل: نو هر څه تيار دي؟

-هو ماما! دوه ستورګې(کوټې) د غواوو لپاره او يو د ډوډۍ پخولو تنور، څه چې تاسې ويلي وو.

ماما په ګړنديو ګامونو د باغ د کونج کوټو ته ورغی. سکينې تورۍ ډوډۍ پخوله او لور يې شاوخوا ورته ګرځيده. د ډوډۍ بوی له ليرې راته، خليل په شوق راغی. خپل ګامونه يې چټک کړل ويې ويل:

- کلونه کلونه مې دا بوی هير کړی و، لکه خوب چې وينم.

نثار په موسکا وويل:

- ماما جانه! کورنۍ ډوډۍ بل خوند لري.

- ښايي ته زما په اندازه ددغې ډوډۍ په خوند پوه نه شې. پنځه ويشت کاله کيږي چې ما دغه بوی ورک کړی دی.

دواړه د تناره غاړې ته ولاړل چې دوی ورننږدې شول سکينې ترور ژرژر خپلې خولې د ټيکري په پيڅکه پاکې کړې. له سلام وروسته يې وويل: په خير راغلې او بيا يې د دود له مخې د ډوډۍ پاستی ورته ونيو ويې ويل: هه در واخلئ. اول ماما او بيا نثار ډوډۍ ور جلا کړه او خولې ته يې کړه. خليل ته يې خوند ورکړ ويې ويل: لږ نوره مړۍ هم راکړه. سکينې تورۍ يوه بله ټوټه ډوډۍ هم په خندا ورته ونيوه خليل نيم پاستی ور پرې کړ. نثار، سکينې او نجلۍ دريواړو وخندل، نثار وويل:

-ماماجانه! غرمې ته ثريا د تا لپاره قروت تيار کړي دي.

ماما د قروتو د نوم په اوريدو سره يو بله مړۍ هم خولې ته يووړه، ويې ويل:

- وه وه قروت و غوړي! لکه چې ټول را نه ورک شوي خواړه په يوه ورځ پيدا کوم؟

هغه د ډوډۍ پاتې برخه کيښوده او له نثار سره يو ځای د ګنبدې(ستورګې) خواته وخوځيد. د تورې غوا سر په اخور کې و او وابنه يې خوړل لږ ليرې خوسکی په نرۍ رسۍ تړل شوی و تر ځو د خپلې مور شيدې بې وخته ونه روي. خليل نثار ته مخ ور واړاوه:

- نو شيدې و مستې هم ډيرې دی؟

- هو، بيخي.

– ژوند همدا دی. زه پر داسې ژوند مین یم. زه له دې کور او باغ سره د دنیا په کچه مینه لرم تر څو چې ژوندی یم دا ختین کور به ساتم.

□

د انجنیر خلیل نوی ژوند پیل شوی و. خپلوان او دوستان ورته ډله ډله راغلي و له هغوی سره یې مجلسونه کړي و او په ښار کې په ګرځیدو سره یې د خلکو ژوند په دقت سره څیړلی و او دې پایلې ته رسیدلی و چې په هرات کې ودانیز پرمختګ ستونزې او نیمګړتیاوې هم لري. هغه په یوه ټولیزه څیړنه کې دې نتیجې ته رسیدلی و چې په هرات کې جوړې شوې ودانۍ د تودوخې، سړو او زلزلې په مقابل کې هیڅ ډول مقاومت نه لري او په کوچنۍ ځمکه کې کورونه جوړ شوي چې چاپیریال ککړوي او د خلکو روغتیا ته زیان اړوي.
هغه د نویو ودانیو په جوړولو کې له خلکو سره د مرستې لپاره ودانیز دفتر پرانیست، له رسنیو سره په مرکو کې یې د ودانیو نیمګړتیاوې تشریح کړي په دې توګه په خلکو کې مشهور شو.

□

د پنجشنبې ورځ وه ، نازنینې د ریاضي ازموینه لرله هغې تیره شپه له خپلې مور او پلار څخه خپل درسونه ښه زده کړي و، اوس یې د مکتب تور کالي اغوستي سپین پړونی پرسر او هغه بکس چې ماما ورته راوړی و غاړې ته اچولی و او د ازموینې د تیرولو لپاره ښوونځي ته د تللو لپاره چمتو وه. د ماما په راتګ سره د نازنینې ژوند ډیر بدل شوی و او ددغه سړي مهربانیو هغې ته د دوستي ژور احساس ورکړی و. خلیل دې نږدیوالي ته په پام سره هڅه کوله چې نازنینه پر تفریح او له نانځکو سره په لوبو سربیره خپلو درسونو ته هم ورسیږي.
نازنینې د خدای پامانې پر وخت ماما ته وویل:
– ماما جانه تر څو چې زه له ښوونځي څخه نه یم راغلې ته دفتر ته مه ځه! نن چې زما ازموینې ختمیږي غواړم له تا سره دفتر ته ولاړه شم او یوه ښه نقشه وکاږم.
انجنیر خلیل وخندل:
– ستا نقشه زه پخپله اخلم، شل افغاني ښې دي؟
نازنینه خواشینې شوه:
– څه؟ شل افغانۍ! په شلو افغانیو خو اوس آیسکریم هم نه ورکوي.
– ښه نو بیا تاته دوه ایسکریمونه اخلم.
– سمه ده.
هغې دا وویل او له خدای پاماني وروسته ښوونځي ته روانه شوه. دوه هم ټولګیان یې د انګړ په دروازه کې ورته سترګې په لاره ول. هغې د دوی په لیدو سره وویل:

– نن د خلیل ماما دفتر ته ځم، یو رسم کاږم او په دوو آیسکریمو یې خرڅوم.

هم ټولګیانو یې وخندل:

– څومره ښه، ستا رسمونه څوک رانیسي؟

– ماماجان یې اخلي.

– مور هم څو رسمونه کاږو، پرې ویې پلوره.

– رسم نه دی، نقشه ده. له هغه شخه مې زده کړې ده. خط کش او دایره ورته په کار دي. له امتحانه وروسته یې تاسې ته هم در زده کوم.

مهتاب واټ په ارامه ساه ایسته. هرڅوک د خپل کار په لوري روان و. سهار وختي هلکان او نجوني ښوونځیو ته تلل چې وروستۍ ازموینې ورکړي. نازنینه هم له هم ټولګیانو سره په کیسو کیسو د ښوونځي خواته رسیدلې وه چې ناڅاپه یوه تور(سرف) موټر ددې ترڅنګ بریک ونیو دروازې یې په درز سره خلاصې شوې دوه تنه چې مولونه یې وهلي وو له موټره رابښکته شول او د دوی په لوري یې منډه کړه. نازنینې او دهغې دووو خورلڼو چې دوی ولیدل ځای پرځای ودریدې او په ویره او ډار یې دوی ته کتل. له هغو دوو کسو څخه یو د موټر خواته ودریده او دابل د نجونو په لوري ور منډه کړه لکه لیوه چې د وریو په رمه ورګډ شي. د نجونو زړونه لړزیدل او ځای پر ځای ولاړې وې. هغه ورته وکتل نابېره یې نازنینه راونیوه. پر خوله یې لاس کیښود او د موټر په لوري یې منډه کړه.

نازنینې چې هرڅومره لاسونه پښې وغورځول او څو ځله یې پخپلو کوچنیو سوکانو هغه سړی په ټټر وواهه ګټه یې ونه کړه. هغوی د سترګو په رپ کې نازنینه موټر ته واچوله او موټر په چټکتیا سره له هغه ځایه لیرې شو څو ثانیې وروسته د نازنینې د دوو خورلڼو له ویریدلو سترګو الونیا شو د واټ په پای کې بل سرک ته واوښت او ولاړ. هغوی دواړه هماغسې بې ساه او ترهیدلې د سرک په غاړه ولاړې وې او دې پیښې هیښې کړې وې. باور یې نه کیده چې ملګرې دې یې په یوه شیبه کې وتښتول شي. یو سپین ږیری سړی چې له لارې تیریده د دوی په خوا یې لاره کږه کړه ورته راغی په تلوارې وپوښتلې:

– څه شوي؟ څه خبره ده؟

هغو دواړو په ژړا وویل:

– نازنینه یې یوړه.

– چا یووړه؟ هغه تور موټر؟

– هو.

– ښه نو ژر یې مور و پلار خبر کړئ!

هغوی د نازنینې د کور په لوري منډه کړه. نثار دفتر ته د تلو لپاره چمتو و او ثریا د سهارنۍ دسترخوان ټولاوه. ماما هم ورځپانه لوسته چې ناڅاپه د نازنینې دوه خورلڼې دهلیز ته رانوتې، چیغه یې کړه:

– نازنین یې یووړه.

ددې غږ په اوریدو سره درى واړو دهلیز ته رامنډه کړه په ناباوري یې وپوښتل:
– چا یووړه؟
– یوه تور موټر.
– چیرې یې یووړه.؟
– موټر ودریده او دوو کسو چې مولونه یې وهلي وو هغه په غیږ کې واخیسته او تبنتیدل.
د ثریا زړه سستي وکړه ولویده. خلیل او نثار کوڅي ته منډه کړه. په کوڅه کې چوپتیا وه ځو موټر تیریدل او ځو نور لارویان چې زیاتره یې د ښوونځیو نجوني او هلکان ول د واټ په ښۍ او کیڼه خوا کې روان وو. سپین ږیری لا هم د سرک په غاړه ولاړ و د خلیل او نثار په بیړه پوه شو چې باید د نجلۍ خپلوان وي کله چې هغوی ور ورسیدل، ویې ویل:
– نجلۍ یې بوتله، ژر پولیس خبر کړئ.
نثار چې شونډې یې رپیدې له سپین ږیري وپوښتل: څوک و؟ د موټر نمبر څو و؟
– سترګې مې کمزورې دي، ښه لیدای نه شم بس دومره مې ولیدل چې یو تور موټر د نجلۍ څنګ ته ودرید او یوه ټوپکي چې مول یې وهلی و نجلۍ موټر ته واچوله.
هغه دا وویل او په لاس یې د واټ پای ته اشاره وکړه:
– ژر حکومتیان پرې خبر کړئ، ولاړ شئ چې لیرې ولاړ نه شي.
خلیل او نثار ناحیې ته منډه کړه. حوزه څو سوه متره هغې خواته وه دا واټن هغو دواړو په چټکتیا سره وواهه. څو تنه سرتیري چې کلاشینکوفونه یې په اوږه وو د حوزې په دروازه کې ناست وو او خپلې فلزي خولۍ یې پر میز اینښې وې. دواړه په سترې ساه ور ورسیدل نثار په بیړه وویل:
– زما لور یې وتښتوله.
څوک له ځایه راپورته نه شول. د مخې د لیکې سرتیري وویل:
– آمر صاب ته ووایه.
– آمر صاحب چیرته دی؟
هغه بې له دې چې خوله خلاصه کړي د حوزې د ننه یې په لاس اشاره وکړه. دواړه د ننه منډه کړه، خو په دروازه کې ولاړ سرتیري ودرول ویې ویل اول تلاشي راکړئ. دواړو په بیړه لاسونه پورته کړل. سرتیري سوکه سوکه تلاشي کړل. دهلیز ته یې منډه کړه امریت له رسیدو سره ودریدل چې غوښتل یې د هغه دفتر ته ورننوځي بل سرتیري د دهلیز له تیارې څخه پرې غږ کړ: خیر خو دی؟
– زما لور یې همدا اوس یووړه.
– څو کلنه وه؟
– اته کلنه.

– آمر صاحب کار لري څو شیبې صبر وکړئ.
– وروره ناوخته کیږي. ژر باید یوڅه وکړو که نه لور مې...
ژړا یې خبره پرې کړه. خلیل په بیړه د حوزې د آمر دروازه وټکوله او په زاریو یې پیل وکړ:
– د خدای لپاره یو څه وکړئ نجلۍ یې یووړه. آمر صاحب! آمر صاحب!
د حوزې آمر څو شیبې وروسته دروازه خلاصه کړه په غوصه یې وپوښتل:
– څه خبره ده؟
د نثار ژبه بنده بنده کیده، اوښکې یې تویولې ویې ویل:
– آمر صاحب زما لور یې همدا اوس وتښتوله.
– چا؟
– نه پوهیږم.
– څو کلنه وه؟
– اته کلنه.
– راځه دننه.
دواړه ننوتل. د حوزې آمر چې پر چوکۍ کیناست ویې پوښتل:
– تجار یې؟
– – یه آمر صاحب، تجار نه یم.
څلور– پنځه نور ځوانان هم د آمر په دفتر کې ناست وو، یو یې چې داسې ښکاریده څو شیبې د مخه وهل ټکول شوی دی، د خپلې پوزې وینې په دستمال پاکولې.
خلیل او نثار په داسې حال کې چې لړزیدل د آمر میز ته مخامخ ودریدل. د حوزې آمر په ارامې سره د نازنینې ځانګړتیاوې په کاغذ ولیکلې او یوه سرتیري ته یې ور کړې ویې ویل:
– نوکریوال ته یې ورکړه!
د حوزې آمر دا وویل دوی ته یې مخ ور واړاوه:
– یو شکایت او خپله پته او د ټیلیفون شمیره مو هم ولیکئ. که کومه اطلاع مو تر لاسه کړه تاسې به خبر کړو.
نثار په تلوار پیښنه او د پیښې وخت او ځای پر کاغذ ولیکل پته او د ملفون شمیره یې هم ولیکل او د حوزې آمر ته یې ورکړل. د حوزې آمر وویل:
– ښه نو تاسې رخصت یاست، ځئ چې زه کار لرم.
دا ځل خلیل په زاریو وویل:
– آمر صاحب زموږ لاس ستاسې ګریوان. که زموږ پر لور څه وشول ټول به مړه شو او ورک به شو.
د حوزې آمر د مسخرو په خندا وویل:

– دا اول ځل نه دی چې د خلکو اولاد اختطاف کیږي، چې پیسې ورکړئ، را پریږدي یې، تشویش مه کوئ، اوس نو ولاړ شئ که زنګ یې درته وواهه موږ پرې خبر کړئ.

دواړه په ناامیدي د حوزې د آمر له دفتره را ووتل او بې ساه غوندې د کور په خوا رهي شول، ثریا د نیم جانه جسد غوندې ځان دروازې ته رسولی او په خاورو کې لویدلې او په اوښکو لمدې سترګې یې کوڅې ته نیولې وې.

نثار چې را ورسید هغه یې له ځمکې را پورته کړه او په ژړا یې وویل:

– نازنین یې وتښتوله. آه خدایه په څه مصیبت دې اخته کړو.

ثریا بیا ضعف وکړ. خلیل او نثار هغه کوټې ته یووړه.

څه وشول؟ ولې وشول؟ ولې هغوی ته دا پیښه ور وشوه؟ چا دا کار وکړ؟ ولې یې دا کار وکړ؟ نازنینه به یې چیرې بیولې وي او پر هغې به څه راشي؟ دا ټولې هغه پوښتنې وې چې د نثار او خلیل پر ذهن یې یرغل کړی و.

خلیل د نازنینې سهارنۍ خبرې ور په یاد شوې چې ویل یې:(( ماماجانه تر څو چې زه له ښوونځي نه یم راغلې دفتر ته به نه ځې! نن مې چې ازموینې خلاصې شوې له تا سره دفتر ته ځم او یوه ښه نقشه کاږم)) خلیل ته ژړا ورغله.

له ځایه را پاڅید، د بادام تر ونې لاندې کیناست ښه یې وژړل. هیڅ باوریې نه کیده چې د سترګو په رپ کې دې نازنینه و تښتول شي. ولې یې نازنینه یووړه؟ هغه پوښتنه وه چې د نثار او خلیل زړونه یې نښتیځل او په ستونې کې یې ساه غوټه کوله.

دغه خبره په چټکتیا سره په کوڅه کې خپره شوه څو ساعته وروسته خپلوان او ګاونډیان ډله ډله د دوی کورته راغلل او دوی ته د تسلي لپاره هریوه یوڅه وویل.

انجنیر خلیل د ژوند له هیلو سره وطن ته راغلی و، خو لا یوه میاشت نه وه تیره او د سفر خولې یې لا نه وې وچې شوې چې د خورېې لور یې وتښتول شوه. پر هغه چې نازنینه ډیره ګرانه وه، سخت خواشینی و خو له خپل ټول درد او غم سره یې بیا هم هڅه کوله چې نثار او ثریا ته ډاډ او تسلي ورکړي.

ورته ویل یې: را خلاصوم یې. په هره بیه چې کیږي نازنینه بیرته کورته راولم. سره له دې چې خپله هم نه پوهیده چې اخیر به څه وشي خو هغوی ته ډاډ ورکاوه.

کور په یوه ویرجن او ناورین ځپلي ځای بدل شوی و. هغوی بې ساه او غمجن ناست وو، او د دروازې په هر آواز سره به له ځایه را ولاړ شول او د یوه ښه خبر په تمه به یې دروازې ته منډه کړه. سکینې ترور له څو ورځو راهیسې پر ډوډۍ پخولو سربیره اشپزي هم کوله. خو ډوډۍ نور هیڅ خوند نه درلود او هیڅ مړۍ تر ستونې نه تیریده. هغوی به هره ورځ سهار او ماښام حوزې ته ورتلل او بیرته به مایوسه کورته راستنیدل. سختې شپې ورځې وې. نه خوب ورته او نه یې چیرته د تلو ځای درلود. بس یوازې سوځیدل. د نازنینې غم ورته داسې قیامت شوی و چې دوی پکې لاس او پښې خوځول او اوبه کیدل. نازنینې! نازنینې! چیرې یې؟ څه خورې؟ راشه چې خپلې نانځکې دې غواړي. راځه چې ستا بوټونه ستا کوچنۍ پښې غواړي تر څو یې ته په پښو کړې او د انګړ په لویشت لویشت کې وګرځې. نازنینې راشه خپل واړه لاسونه زما پر اوږو ټینګ قلف کړه چې هیڅ لیوه دې را نه یو نه سي. نازنینې تور ښکلي ویښتان دې څوک در ږمنځوي؟ د ویښتانو قیدکونه دې دلته دي. نازنینې راځه چې دفتر ته سره ولاړ شو تر څو په خط کش نقشه

وکاږي. تاته ازموينه په کار نه ده. ته نوره ښوونځي ته مه ځه، د ښوونځي لاره له ليوانو ډکه ده. مورې نوره خپله ورۍ ښوونځي ته نه ليږو، ليوانو لاره نيولې ده. نازنينې چيرې يې؟ په کوم زندان کې يې؟ آيا تا وهي؟ ته ژاړې؟ مور، پلار او ماما ته ور غږ کوې؟ له نازکو لاسونو او پښو څخه دې وينې بهيږي.؟ مور دې دلته ده. هره ورځ دې په تاوده حمام کې لمبوي تر څو خوشحاله مکتب ته ولاړه شې، مخ دې خيرن شوی، په غومبرو دې اوښکې بهيدلې بد مالوميږي. نازنينې اوښکې دې پاکې کړه. له اوښکو ډکې سترګې دې نه شم ليدای. نازنينې مه ژاړه، نانځکې دې اوبه کيږي، مورې اوبه کيږو. ستا د سويو چيغو د اوريد توان نه لرو. لعنتيانو زمورې ماشومه راپريږدئ! اخير دغې ماشومې څه ګناه کړې ده چې هغه مو په منګولو کې ونيوله او يومو وړه.

آی خدای ناترسو! نازنينه ستاسې د ځناورو غوندې سترګو د ليدلو توان کله لري. هغه را پريږدئ. زمورې ماشومه را خوشې کړئ. پريږدئ چې زمورې خواته ولوبيږي. هغه ستاسې له پښته نه ده. نازنينه لکه فرشته داسې ده. فرشته مه ازاروئ. هغه ستاسې د آزارولو توان نه لري. نازنينې چيرې يې مورې له تا پرته ورک کيږو، ايرې کيږو او فنا کيږو.

د ټيليفون زنګ... نثار او خليل د ټيليفون په لوري منډه کړه. نثار ټيليفون ور واخيست:

– بلې!

– څوک يې؟

– نثار يم.

– نثاره غوږ ونيسه. نازنينه له مورې سره ده. که هغه ژوندۍ غواړې پنځه لکه ډالر برابر کړه!

– ته څوک يې؟ زما له لور څخه څه غواړې؟

– پيسې غواړم پنځه لکه ډالره.

ټيليفون بند شو. دواړو نهيلي يوبل ته سره وکتل. څوک و له کومه ځايه يې خبرې کولې؟ ولې يې ټيليفون بند کړ؟ دا هغه پوښتنې وې چې ځواب يې نه درلود. د نثار سترګې تورې شوې ځای پر ځای کيناست. پنځه سوه زره ډالره لرې پيسې نه وې، له کومه به يې کولې هغه خو دومره پيسې نه لرلې. ماما د نثار له وچ شوي لاسه ټيليفون واخيست. هغه شميره يې دايل کړه، خو ټيليفون بند و زنګ يې نه تيراوه، کمپيوټر ويل: شميره له ساحې وتلې ده. نو نازنينه ژوندۍ ده او د پيسو لپاره يې هغه اختطاف کړې ده. خليل خپل لاسونه پر سر کيښنودل: نازنينې پر تا به هيڅ ونه شي، ته په ميليونونو ارزې. نازنينې تکړه شه مقاومت وکړه! صبر وکړه! زمورې ګلالۍ لورې تا بيرته راولو. تا خپلو نانځکو ته راولو. تا له خپلو خورلڼو سره يوځای کوو يوازې صبر و طاقت وکړه.

نثار د خپل ماما لاس ونيو او په سختي سره يې ځان سم کړ: ماما څه به کوو. پنځه لکه ډالر کمې پيسې نه دي. له کومه يې کړو. ماما ډاډ ورکړ: وارخطا کيږه مه، چنې به ورسره ووهو پرې کمې به يې کړو، منتظر به شو ښايي بيا زنګ ووهي. دا مهمه ده چې دوی اړيکه ونيوله له دې ښکارې چې نازنينه ژوندۍ ده او څه نه دي پرې شوي، هغه دا وويل او يوځل بيا يې هغې شميرې ته زنګ وواهه، خو ټيليفون غلی و..

دواړه بیا حوزې ته ولاړل او شمیره یې د حوزې آمر ته ورکړه. هغه د دوی د خبرو له اوریدو وروسته وویل: موږ به خپل لازم کارونه وکړو. له هغې مخابراتي شبکې چې دوی زنګ وهلی معلومات اخلو چې څوک دی او له کوم ځایه یې اړیکه نیولې، تاسې له هغوی سره خبرو ته دوام ورکړئ.

انجنیر خلیل کورته د راتلو په لاره پر ځان لعنت وایه او دلته له راتلو څخه پښیمانه و. د خپلې سیمې له نویو ودانیو او سرکونو یې کرکه کیده. نور یې د خپلې حویلۍ انځور شوې دروازې ته نه کتل. د با غ له دروازې او دیوالونو یې کرکه اوریدله. مرغۍ او برګ خوسکی نور ورته بدرنګه شوي و د سکینې تورۍ په لاس د پخې شوې ډوډۍ بوی نور ښه نه پرې لګیده. د جرمني یوازیتوب ورته ښه و. که اولادونو یې دی پرې ایښی، ژوندي خو و او خپل ارام ژوند یې کاوه. په لاره کې یې کوم لیوه نه و چې هغوی وتښتوي.

خلیل ددغه مصیبت پر نورو سترو اړخونو فکر کاوه: دیرش کاله بربادي، دیرش کاله جګړه او سرې وژل، دیرش کاله غلا چوروچپاول، دیرش کاله وراني او مصیبت. ترڅو؟ دا د کرکو او کینو خاوره ده. تل باید داغداره واوسې. تل باید یو نوی غم ولرې. تل باید په اور کې وسوځې.

آخر تر څو؟ ولې؟ موږ دین او آیین درلود. موږ تاریخ او ریښې لرلې. ولې باید تل جنګ او بربادي وي؟ ولې باید تل وسوځیږو؟ ولې باید د چا اولاد وتښتوو تر څو یې په حرامو او چټلو پیسو  خپل ژوند جوړ کړو. ولې باید د نورو ژوند خراب او وپاشو تر څو خپل ژوند پرې جوړ کړو. موږ نفرین شوي یو ځکه هر څو کاله وروسته په نوي درد اخته کیږو.

-ماما څه فکر کوې، زنګ به ووهي؟

ماما پورته غورځار شو:

– څه؟

– څه فکر کوې؟ بیا به زنګ ووهي؟

– حتماً زنګ وهي، پیسې غواړي. یقین ولره چې زنګ وهي.

شپه شوه. دواړه ټیلیفون ته ناست وو او نازنینه یې سترګو ته ښکته پورته کیده چې نابره د ټیلیفون زنګ پورته شو.

خلیل ټیلیفون راواخیست، نوې شمیره وه:

– بلې!

– سلام. ښه یې؟

– شکر.

– بیا حوزې ته تللي وئ؟

– ته څوک یې؟

– هرڅوک چې یم په تا اړه نه لري. ته داسې کار کوې چې موږ باید نازنینه حلاله کړو.

خلیل په زاریو شو:

– د خدای په لحاظ پر موږ او زموږ پر ماشوم رحم وکړئ! مور يې مري. وروستۍ سلګۍ يې دي. مه کوه! ماشومه را پريږده. دا ظلم مه کوه!

– نو که نازنينه ژوندۍ او روغه غواړئ حوزه موزه هيره کړئ او د پيسو فکر وکړئ.

– ګوره پنځه لکه ډالره لرې پيسې نه دي. موږ نه شو کولی دومره پيسې برابرې کړو.

– بيا نو نازنينه مړه شوه.

اړيکه پرې شوه او غوږۍ د خليل په غوږ کې پاته شوه: بلی بلي... نور هيڅ ځواب وانه وريدل شو تود تود تو...

نهيلۍ او د يوازنۍ لور غم، سوکه سوکه دوی له پښو وغورځول. ثريا شپه ورځ د نازنينې چيغې وهلې او هغه يې تر سترګو کيده.

د مور په زړه مور پوهيږي. حتا ښايي پلار د مور احساس ونه لري. مور، مور، مور... نازنين مور ويل. د مور کلمې د ثريا په غوږونو کې انګازې کولې. د هغې غږ يې اوريده چې مور مور وايي، په بيړه به يې دهليز ته منډه کړه: نازنينه نشته. انګړ ته به وتله: هلته هم نسته. نازنينې چيرې يې؟ غږ به نه و. مورې چيرې يې؟ ځواب نه راته. د ثريا زړه به ولويده، دهليز ته راغله، د نازنينې آلماني کرميچ د ديوال خواته وو. کورته به راغله د نازنينې نانځکې کتار وې. نازنينې ځو دانې کتار ايښې وې او يوه به يې نورو ته مخامخ درولې وه چې د ښوونکې او شاګردانو تمثيل وکړي. ثريا خپل حواس بايللي وو، چې د دروازې آواز به راغی منډه به يې کړه. چې دروازه به يې خلاصه کړه نازنينه به نه وه په چيغو چيغو به يې وژړل.

هوا سړيدله. تورې وريځې را رواني وې او ژمي خپله لمن غوړوله. هغوی د نازنينې په اندېښنه کې و، د ژمي په يخني نه پوهيدل او کله به چې يخني د هغوی پر مخ څپيړې وهلې ټول حواس به نازنينې ته و چې کوچنی ځان به يې ددغې يخني طاقت ونه لري.

تبنتوونکو ځو ځله نور هم له بيلابيلوو شميرو څخه زنګونه وهلي وو او هغوی بې له دې چې له ډاره حوزه خبره کړي په درې سوه زره ډالرو يې ورسره هوکړه کړې وه. انجنير خليل خپل کور خرڅ کړ او له خپل خوريي سره يې د ښار په يوه ليرې کوڅه کې يو کور په کرايه ونيو سترګې په لاره وو چې د کور پيرودونکی ورته پيسې ورکړي دوی يې په بکس کې واچوي او اختطافچيانو ته يې ور وړي.

بالاخره پيسې راورسيدې. نثار پيسې راواخيستې په بکس کې يې واچولې او د مخه د ورکړل شوې پتې په لور رهي شو. هغه له «مالان» پله څخه تير شو د ((آخندانو)) درې لارې ته چې ورسيد ټيليفون ته يې زنګ راغی. بيا هم يوه نوې شميره وه، هغه شميرې ته وکتل تنۍ يې ټينګه کړه، بلي يې وويل.

– اورې!

– بلي اورم.

– پيسې درسره دي؟

– هو راسره دي.

– پوره درې لکه؟

هو! پوره درې لکه.

– که دې بد فکر کړی وي او څوک له شا درسره وي. نازنینه وژنو.
– ډاډه اوسئ هیڅوک مې له راتګه خبر نه دي.
– د درې لارې پرسر د «ابول» دکان ته نږدې موټر ودروه.
– په سترګو.

هغه په درې لارې کې موټر ودراوه په داسې حال کې چې موبایل یې په غوږ کې و، امر ته سترګې په لاره شو.

– له موټره را ښکته شه! د ویالې په غاړه موټرسایکل ولاړ دی، کیلي پکې ده پر هغه سپور شه او د «زیارتجا» په لوري ولاړ شه.
– په سترګو همداسې به وکړم.

نثار خپل موټر هلته ودراوه او پر موټرسایکل سپور شو. «زیارتجا» له هغه ځایه نږدې درې کیلومتره لیرې و. اندیښنو په مخه کړی و په زړه کې یې دعا کوله چې نازنینه په خیرت او بې له کومې بدې پیښې د اختطافچیانو له منګولو څخه کورته راولي.

کله چې «زیارتجا» ته ورسید، ملفون ته یې زنګ راغی:

– بلي!
– د پله سر ته چې را ورسیدې چپ طرف ته وګرځه او دغسې مخ ته پسې ولاړ شه چې د ګردنې لاندې ورسیدې همالته پاتې شه!
– په سترګو.

هغه له پله تیر شو او مخامخ ګردنې ته ورسید. لاره په غونډۍ خلاصیده چې له هغه ځایه د هغو کسانو لیدل چې هلته پورته ولاړ و، ستونزمن و. په سیمه کې مرګونې چوپتیا خوره وه. څو دقیقې وروسته د موبایل زنګ چوپتیا ماته کړه:

– د توت ونې لاندې ولاړ شه!
– په سترګو.
– د پیسو بکس را واخله، ولاړ شه د مخامخ دیواله پرسر یې کیږده او ته پخپله وګرځه تر ونې لاندې ودریږه.
– په سترګو، خو اول غواړم نازنینه ووینم.
– تشویش مه کوه وینې یې. موږ هم باید اول ډاډه شو چې په هغه بکس کې پوره درې لکه ډالر دي.
– راشئ ویې ګورئ یو ډالر هم کم نه دی.
– نو د ګردنې سرته، هلته چې لاره چپ طرف ته تاویږي، وګوره.

نثار هغې خواته وکتل. زړه یې سخت لړزیده، شیبې په ځنډ تیریدې. یوه شیبه وروسته یو چاغ سړی د ګردنې پر سر را ښکاره شو په داسې حال کې چې پر نازنینې راتاو شوې رسۍ یې نیولې وه هغه یې د بوسو د خلي غونډې هوا ته

پورته نیولې وه، چې پلار یې ووینې او ډاډه شي چې ماشومه یې ژوندۍ ده. نازنینې ته یې وکتل: کالي یې په خاورو لړلي او ویښتان یې سره نښتي وو. خوله یې هم ورترلې وه. د نازنینې چې پرخپل پلار سترګې ولګیدې، بې ساه پښې یې ښوځله وښورولې او ضعف یې وکړ. نثار کباب شو. زړه یې وښوییده او سر پرې وګرځیده. باور یې نه کیده چې نازنینه یې په داسې حال اخته شوې وي. نږدې و چې پر ځمکه ولویږي خو ځان یې تکیه کړ د پیسو بکس یې په شمیرلو ګامونو د دیواله پر سر کیښود کله یې چې غوښتل بیرته خپل ځای ته وګرځي ناڅاپه د مرمیو د ضربې آواز واوریدل شو او څو «پیک‌اپ» موټرونه چې سر او مخ ترلي ټوپکوال پکې سپاره وو، سیمې ته ورسیدل.

نثار په بیړه د هغوی له لارې یوې خواته شو. دوه موټرونه چې تر ګردنې لاندې رسیدلې و له ځنډه پرته یې پورته ډزې کولې. موټر بې له کومو ډزو د پیسو د بکس په لوري ولاړ هغه یې راواخیست، بیرته په هغه لاره چې راغلی و ولاړ او په چټکتیا سره له هغه ځایه لیرې شو. دوه نور موټرونه په داسې حال کې چې د ګردنې په لوري یې ډزې کولې، هم راوګرځیدل او په غه موټر پسې له سیمې ولاړل.

یو ځل بیا هلته چوپتیا خوره شوه. نثار د ډېرې د ټوټې غوندې پخپل ځای وچ ولاړ وو. نه پوهیده چې په دې څو لنډو شیبو کې څه پیښ شول. هغه حرکت نه شوای کولی او یوځل بیا یې فکر له کاره ولوید. ټیلیفون ته بیا زنګ راغی. بې ارادې یې لاس د ټیلیفون تڼۍ ته ورغی او په داسې غږ یې لکه له ځاه څخه چې راوځي وویل:

– بلې!

– پدرنالته مرده ګاوه! مور دې وغولولو. لور دې نوره مړه وبوله. سبا د هغې ټوټې درکوو.

نثار لا هم هیښ پیښ او بې حرکته و. د هغه خبرو یې په غوږونو کې انګازې کولې: « پدرنالته مرده ګاوه! مور دې وغولولو. لور دې نوره مړه وبوله. سبا د هغې ټوټې درکوو.»

– بې ناموسه خبرې وکړه! ګونګ شوې.

نثار پورته غورځار شو په ناباورې یې وویل:

– څه وشول؟ دا خلک څوک وو؟

– ستا د خور میړونه. څوک چې تا راوستي وو.

– په خدای قسم که هیڅوک زما له راتګه خبر وو. آن کورنۍ مې پر دې نه پوهیږي چې زه دلته راغلی یم، مه کوئ د خدای په لحاظ زما لور راکړئ.

– که لور دې غواړه ولاړ شه د نورو درې لکه ډالرو د پیدا کولو فکر وکړه.

هغه دا وویل او ټیلیفون بند شو. نثار د ګردنې په لوري منډه کړه، هیڅوک هلته نه وو. د زیارتجا ډاګ په اخیر کې موټر د دوړو په منځ کې ورک کیده.

لطيف چې سترې راغلی و خپل مول يې خلاص کړ:

– چيري دی؟

تنکي ځوان چې تازه يې بريتونه راغلي و، هغسې چې ټوپک په لاس په دروازه کې ولاړ و، ځواب ورکړ:

– په کوټه کې.

هغلته دې وي، چې ستړيا مې ليرې شي ورسره خبرې کوم.

لطيف د خپلو بوټونو بندونه خلاص کړل او خپلې پښې يې په سختۍ ترې را وايستې. پښې يې پړسيدلې وې او بد بوی ترې خوت، دوه ورځې يې مزل کړی و. له «دوشاخ» غره څخه تر «سياوشانو» کلي پورې له خپلې ډلې سره په ډار او لړزيدو راغلی و. دولتي سرتيرو دوه ځله پرې بريد کړی و، يو کس يې وژل شوی هم و، خو ځان يې کلي ته رسولی و. هغه خپلې بوينې جرابې او بوټونه ليرې وغورځول او د کوټې په بر سر کې کيناست، بالښته ته يې تکيه وکړه تر شونډو لاندې يې وويل:

– زړه ليوه! له مورږ لاس واخله! ته به څه وکړې؟ ته زموږ د کار په سور او رمز پوهيږې؟ موږ خپله وينې خورو، تا بل استازی راوليږه چې څه شوي؟ لږ صبر وکړه موږ سرې خواره نه يو، پخپل قول ولاړ يو، چې ومو ويل درليږو يې، ليږو يې.

هغه خپل وريښمين دسمال له جيبه راوايست، د هغه کوتان يې خلاص کړل د خپلې غاړې خولې يې پرې پاکې کړې، وروسته يې لاس تر غوږ لاندې ولاړ او هماغسې پورته راغی او خپل تندی يې پاک کړ ورپسې يې غږ وکړ:

– لږ اوبه راوړه چې لاس و پښې مې ومينځم!

ځوشيبې وروسته چلمچي او بدنۍ راورسيدل، هلک خپل ټوپک ديوال ته تکيه کړ، چلمچي او بدنۍ يې د لطيف مخې ته کيښودل د غاړې دسمال يې سم کړ او امر ته منتظر شو.

– په کلي کې څه خبرې دي؟

– خريت(خيرت) دی. پرون څو کسه له شينډنډ او هلمنده هم رارسيدلي دي او د جمال خان په کور کې دي. نوي ټوپکونه يې هم راوړي دي. وايي چې ډير ژر به د هرات پر هوايي ډګر بريد وکړي.

لطيف د مسخرو په خندا وويل: واچوه!

ځوانکي بدنۍ پورته کړه اوبه يې پر لاسونو ورتويې کړې. لطيف لومړی مخ و لاس او بيا پښې ومينځلې. تودو اوبو يې يو څه ستړيا ليرې کړه. په دسمال يې مخ پاک کړ ويې پوښتل:

– هغه له کرُخ نه چې راغلی، څه نوميږي؟

– ظاهر

– ور شه ور دِغ کړ.

څو دقيقې وروسته پرده ټوله شوه او د دروازې د چوکاټ په منځ کې د ظاهر څیره راڅرګنده شوه. لطیف هغه ته وکتل ویې ویل:

– کرُخي له لیرې پیژندل کیږي: جګه ونه، خط کشي شوې ږیره، ګڼ بریتونه سپین کالي ټول په یوه موډ دي. شین چریکي جمپر یې هم د ټوپکي والي نښه ده.

ظاهر کوټې ته راننوت، پر شونډو یې خندا خوره وه:

– سلام لطیف خانه!

وعلیکم. راځه کینه!

ظاهر مخامخ ورته کیناست، لطیف وپوښت:

– چای و ډوډۍ دې خوړلي؟

– هو و مې خوړل. زه څه کم لس بجې راورسیدم. لاره اوږده وه او هوا هم سړه. تازه و غوړیدم او لاس وپښې مې تاوده شول.

– ښه زاړه لیوه څه ویل؟

ظاهر په داسې حال چې څیره یې اندیښمنه معلومیده لږ په ځنډ سره وویل:

– نادرخان د خپلې لور له مرګه وروسته ښه نه دی. خوب یې له سترګو تښتیدلی، د نګارې نګارې چیغې وهي، کله سرک ته ولاړ شي که کوم مسافر ورته وګوري تر څو چې کولی شي په قنداغونو یې وهي او که یې غږ پورته شي په یوه ګولۍ یې غلی کړي.

- لطیف خانه! باور وکه د نادرخان ژوند سخت شوی دی، موږ هم د هغه له لاسه ښه ورځ نه لرو. بس پلمې جوړوي. ته یې پخوانی دوست یې، له غره یې راښکته کړه! رايې وله سیاوشان ته. دلته ژوند دی، آبادي ده، ناسته ولاړه ده، تګ راتګ دی، ښايي له تاسې سره خپل غم هیر کړي. د لطیف ژیړ غاښونه ښکاره شول د زړه له اخلاصه یې وخندل ظاهر ته په کټلو سره یې په زړه کې وویل چې دا ځوانکی ډیر ساده دی او په دې نه پوهیږي چې دده نادر، ټول سیاوشان د غره له یوه غاره سره نه برابروي.

- دا ستاسې نادر هم عجیبه اشا ده! هغه ته به دې ویلي و چې کله چې د خلکو زامن وژنې، ولې دې زړه نه پرې سوځي. کله چې بسته موټر د هغه له ټولو مسافرو سره سوځوې ولې یې رحم نه پرې راځي. هغه وخت چې خپل دراګُنوف په ډېره ږدې او د خلکو تندي سوروي کوې، ولې دې د هغوې مورپلار نه دریادیږي. هرڅوک زوی لري، مورپلار لري. اوس دې چې لور ځان وواژه، ویې واژه نو. لیونی شوې؟ لیونتوب د څه لپاره؟ ما هم خلک وژلي، ښايي تر نادر مې ډیر کسان وژلي وي. ښځې او زامن مې له لاسه ورکړل آن خپله یوه ښځه خو مې پخپله ووژله. خو ستا غوندې لیونی نه شوم. ځوانه ښځه چې وې هرکال یو درته زیږوي او تر څو چې ته چورت وهې لس داني به درته کتار کړي.

هغه دا وویل او وروسته یې په زوټه وخندل:

– نادر زوړ لیوه دی. ما ورسره وخت تیر کړی دی. که ټوله دنیا هم اور واخلي چورت یې نه پرې خرابیږي، خو که یې ګوته وینې شي، د سپي غوندې کوړنچارې وهي... ښه څه په دې خبرو پسې مه ګرځه، دا ووایه چې څه وصیت یې کاوه؟

ظاهر ورو وویل:

– سلام یې وایه له سلامه وروسته یې ویل چې مصطفی له هغه امانتي سره ژر را ولیږه!

– تا مصطفی لیدلی؟

– یه، نه مې دی لیدلی.

لطیف په دروازه کې ولاړ تنکي زلمي ته مخ واړاوه، ویې ویل: ورشه مصطفی را پیدا کړه! وروسته یې ظاهر ته وویل:

– ظاهرخانه! موږ د نادر له دې فرمایش سره بدې ورځې ولیدلې. موږ د یوه ساعت لپاره د مهتاب واټ امنیت په پیسو واخیست. د اور منځ ته ورغلو او ځان مو په خطر کې واچاوه. ولاړو او نجلۍ مو د مکتب له دروازې څخه را وتښتوله او د «دوشاخ» غره ته مو یووړه، دا کار مو د خدای په لاره کې نه دی کړی، غوښتل مو خپل لګښت هم پوره کړو او یو څو غیرانه موږ ته پاته شي. پیسې یې راوړې خو موږ ته ونه رسیدې. یوه بله ډله راغله پیسې هغو یووړې. اوس نو سترګې په لاره یو چې د نجلۍ پلار نورې پیسې پیدا کړي او موږ خپل مصرف پوره کړو. خو نادرخان دې اندیښنه نه کوي، که پیسې هم راوړي نجلۍ یې پلار ته نه ورکوو او هغه له تاسره آسماني غره ته لیږو. موږ پخپل قول ولاړ یو. ورته ووایه چې لږ صبر وکړه! څو ورځې وروسته خبره مالومیږي.

– نو که ستا اجازه وي دلته به د خبرې تر مالومیدو پاته شم. که تش لاس ورشم نادر ما وژني ژوندی مې خوري.

لکه نادر چې لطیف ته خندونکی وي چې د هغه نوم به یې واورید، په کټ کټ به یې خندل:

– نور عیبونو یې لږ وو چې سړي خور هم شوی دی!

هغه لا خندل چې مصطفی راننوت چې د لطیف سترګې پرې ولګیدې ویې ویل:

– راځه راځه چې نادر ناکراره شوی او ماسل(محصل) یې رالیږلی. وایي که خپله امانتي یو نه سم، نادر ما خوري! راشه وګوره! هغه پیژنې؟

مصطفی د کوټې بلې خواته مخ وګرځاوه هلته چې ظاهر ناست و، ورته ویې کتل ویې ویل: هو پیژنم یې، ښه یې پیژنم. وروسته یې خواته ورغی په غیږکې یې ټینګ کړ ویې ویل:

– ظاهره درپسې دق شوی وم، ښه ده چې راغلې، دواړه بیرته ځو.

لطیف وویل:

– راځه کینه. تر اوسه مې لا ستا د تلو په باره کې فکر نه دی کړی. غواړم له نادره ستا اجازه واخلم چې له ماسره کار وکړې. پریږده چې نادر په آسماني غره کې وروست شي، خو ستا غوندې ځوان ته نه ښایي چې تر هغو ډبرو لاندې عمر تیر کړي. نادر او ستا پلار دوه زاړه لیوان دي چې لکۍ یې د بند سبزک او کرُخ هره ډبره

جارو کړې ده. خپل ټول عمر یې هلته تیر کړی دی. موږ هم لیوان یو، خو نه د غره لیوان. موږ د کلي او صحرا لیوان یو کله کله هم ښار ته ورلویږو. د صحرا د لیوه نس تر نورو موږ دی. که غواړې د صحرا او کلي لیوه واوسې نو باید له غره سره خدای پاماني وکړې.

د مصطفی سر ځړیدلی و او د وریښمینې غالۍ تارونه یې په لاس سره تاوول چې د آسماني غره له ټغرونو سره یې ډیر فرق درلود.

– مصطفی! خبرې وکړه نیت دې څه دی؟ دلته پاته کیږې که نه؟ که دلته راسره پاته کیږې تا خپل معاون مقرروم. نه ښایي ستا غوندې تکړه ښه ویشتونکی په هغه غره کې ضایع شي. ته ځوان یې او قوت لرې! دنیا تیریږي د سترګو په رپ کې د خپل پلار غوندې له پښو لویږې او ورستیږې!

مصطفی خپل سر راپورته کړ، اول یې ظاهر ته وکتل. دوستي او ملګرتوب نه پریښود چې لطیف ته ژر ځواب ورکړي. هغه او ظاهر ډیرې سختې ورځې یو ځای سره تیرې کړې وې. وروسته یې لطیف ته وکتل. لطیف رښتیا ویل آسماني غره له خپلو ډېرو سره مصطفی ته څه ورکولی شوای؟ په هغه ټول غره کې یوه نګاره چې هغه هم وسوځیدله او ولاړه. اوس نو څه شی دي؟ هیڅ.

– مصطفی خبرې وکړه! ګونګ شوې؟ پوهیږم چې نه غواړې له خپلو ملګرو بیل شې، پوهیږم چې هلته ستا سیمه ده. خو کوم ځای چې ګټه دې پکې نه وي په یوه توت هم نه ارزي. نادر چې هغه ځای ټینګ نیولی، علت یې دادی چې په بل هیڅ ځای کې یې ګوزاره نه کیږي. د خوړګي غلا یې عادت شوی دی لږ څه یې چې غلا کړل بس کیني او هغه خوري تر څو خلاص شي بیا نو بیرته «دمجو»، «مسجد چوبي» او یا «خواجه چهارشنبې» ګردنه نیسي او څو کسه غریب بادغیسي لارویان شکوي. باور وکړه شرم دی.

هغه سړی چې له هیبته یې ټول هرات لړزیده نن یې په خس دزدي یا د خوړګو په غلا پیل کړی دی. ښه نو هرڅوک خپل دوران لري د هغه دوران نو اوس تیر شوی دی. زوړ شوی دی بس وخت تیروي، خو ته ځوان یې راتلونکی لرې.

مصطفی چې د لطیف خبرې واوریدې ویې ویل:

– لطیف خانه! ته رښتیا وایې! هرڅه چې وایې رښتیا دي، خو مخکې له هغه چې کومه بله پریکړه وکړم، باید نادرخان ته یې خپل امانت ور ورسوم. ته ژر موضوع فیصله کړه! هر وخت مې چې د هغه امانت ور وسپاره، د بیرته راتلو اجازه ترې غواړم او راځم. دلته مې خپل ژوند جوړوم. پوهیږم چې په هغه ځای کې خیر نشته. که د نجلۍ خبره نه وای او هغه تلوار نه لرلی، دلته پاتې کیدم. وینې یې چې ظاهر یې رالیږلی او دا د هغه د بیړې نښه ده. باید ژر کار یو طرفه کړې.

– سبا زنګ ورته وهم وګورم چې څه وایي. که پیسې میسې یې پیدا کړې ښه تر ښه او که یې د راکولو لپاره څه نه لرل بیا نو خپله امانتي درسره بوزئ. هغه پیسې چې موږ په مهتاب واټ کې ولګولې په نادر دې پور وي. په سیاوشان کلي کې د مصطفی سترګې خلاصې شوې او ویې لیدل چې د آسماني غره له دښتو او ډبرینو کورونو پرته د هرات په نورو سیمو کې ژوند ښه چلیږي د هغه دې ته پام شو چې سیاوشان، هرېرود او د هغه جنوب ته څو غرونه د ټوپکوالو

په ځالو بدل شوي چې په ټول هرات یې د هیبت سیوری پروت و د لطیف غږ یې په غوږ کې انګازې کولې(( ته د نادر په څنګ کې کوم ځای ته نه شې رسیدای، د نادر له لیمڅی څخه تاته خولۍ هم نه شي جوړیدای، که غواړې خپل ژوند جوړ کړې راشه زما مرستیال شه)) مصطفی پریکړه کړې وه نادر ته د نجلۍ له ورسپارلو وروسته بیرته راوګرځي، خو تر هغه دمخه باید عاقبت وسنجوي.

ماښام نږدې و، لمر د هریرود په منځ کې له اوبو څو ګزه لوړ معلومیده او سرو شغلو یې د هریرود اوبه هنداره ګرځولې وې. مصطفی او ظاهر تللي ول د انګورو له باغه چې تاکونه یې د یخنۍ په خاطر په جیوو پوړې پټ کړي و، تیر شوي ول او سیند ته رسیدلي ول. له لیرې (پُل پشتون) د سیند پر سر د تورې رسۍ غوندې ښکاریده چې څو شیبې وروسته د هغه له سره تیریده او د اوبو په سرو څپو کې ډوبیده.

ظاهر مصطفی ته وویل:

– لکه چې سیاوشان او ددې ځای ټوپکیان دې ډیر خوښ شوي او نیت دې دی چې دلته پاته شې؟

مصطفی سوړ اسویلی له خولې ویوست ویې ویل:

– پوهیږې له هغې ورځې څخه چې نګاره مړه شوې کرخ راته دوزخ ګرځیدلی دی، نور مې هیڅ نه خوښیږي. پلار مې هم تریاکي شوی دی او مور مې هم په داسې غمونو کې ګرفتاره ده چې ورته ګورې یوازې ساړه اسویلي باسي او ژاړي. د کومې خوښۍ لپاره بیا کرخ ته ولاړ شم. نور (معلومې) ته هم تلای نه شم.

اوس ټول پوهیږي چې زه له نادر سره د ګردنې د سر غل شوی یم. ټول پوهیږي چې د « درخت توت د زینلیانو » قتل عام زموږ کار و. ظاهره! پوهیږې زه او ته نور خپلو کلیو ته نشو تللی او آسماني غر هم پرته له دې چې د نادر لپاره ښه پټنځای دی ما وتاته کومه ګټه نه شي رسولی.

که څو ورځې دلته و اوسې و به ګورې چې دغه هریو ټوپکي د پنځه لکه او یو میلیون ډالرو خبرې کوي. دوی دومره قدرت لري چې پانګه وال او تجاران د ځان له ډاره هره میاشت حق ورکوي که څوک دا کار ونه کړي نو دې ته دې سترګې په لاره وي چې نن یا سبا به یې اولاد، ورور یا خپله تښتول کیږي. زه و ته هم خوشحاله یو چې ټوپک لرو، دوی یوازې په سیاوشان کې نه دي د هرات  په هر ځای کې ریشه لري. تر څو چې سترګې پرانیزې په زیارتجاکې دي، یو ساعت وروسته په دوشاخ او «موسا آباد» کې، بله ورځ په «پشتون زرغون»، «چشت» او «اوبه» کې وي د هیچا لاس هغوی ته نه رسیږي. کله پر آس سپاره وي، کله بیا په لنډکروزر کې او دلته چې زه وته ولاړ یو له دې ځایه په اوونۍ کې یو ځل هوایي ډګر ته څلور پنځه توغندي ور توغوي تر څو خپل قدرت ورښکاره کړي او بیا په بیړه تښتي او یو ساعت وروسته په کلي کې له څو بزګرانو پرته هیڅوک هم نه پاته کیږي. پوهیږې! نادر په یوه شي زه تر خپل احسان لاندې راوستی یم چې نه یې شم هیرولی هغه داچې ده په نیمه خوله ماته خپله لور راکړه او زه یې خپل زوم کړم، خو قسمت نه و هغه نجلۍ قادر نامرده وتښتوله. پوهیږې! که دا خبره نه وای له دې ځایه نه تلم. د تل لپاره دلته پاته کیدم او خپل ژوند مې جوړاوه. لمر لویدلی و. پُل پشتون هم د شپې په تیاره کې ډوب شوی و د هرې

رود د اوبو څپو د پنجشنبې د سپوږمۍ کمزورې رڼا چې نوی د دوندر د غره له شانه سرا را پورته کړی و، ماتوله او ټوټې یې له ځانه سره د لویدیځ په لورې وړلې تر څو یې ډیر لیرې د شپې په تیاره کې خښې کړي.

کله چې دوی را وګرځیدل لطیف خواشینی و په تیاره کې یې د انګړې مخې ته قدم واهه. مصطفی ورنږدې شو ویې پوښت:

– لطیف خانه خیرت دی؟

لطیف د دوی په لیدو سره ودرید او د شپې په تیاره کې یې د مصطفی سترګو ته وکتل ویې ویل چې نږدې راشه! مصطفی یو ګام ور مخ ته شو. لطیف وویل:

– څو شیبې د مخه مې د نجلۍ له پلار او ماما سره خبرې وکړې. ویل یې چې د راکولو لپاره نور څه نه لري. ټوله دارایي په مهتاب واټ کې هماغه کور و چې خرڅ کړی یې دی او د هغه پیسې یې راوړي وې چې موږ ته یې راکړي خو د بل چا منګولو ته ورغلې. ډیرې زارۍ یې وکړې چې لور یې بیرته ورکړم، په خدای یې قسم یاد کړ چې نور هیڅ شی نه لري.

مصطفی پوهیږې کله کله مې زړه نازک شي، مهربانه شم او دا زما تر ټولو بد حالت دی. بیخي خرابیږم. کارونه مې ګډوډ شي. بس ښیښنه شم او ماتیږم. زه د مهرباني او زړه سوي لپاره نه یم جوړ شوی، که مې زړه وسوځید نور کار ختم دی. بس فیصله کیږم، ختمیږم. اوس نو مخکې له دې چې مهربانه شم او مخکې له دې چې یو ځل بیا د نجلۍ زګیروی او چیغې او نارې واورم، هغه له دې ځایه بوزئ.

همدا نن شپه حرکت وکړئ! نادر ته ووایه چې د مهتاب کوڅې د مصرف له درکه مې لس زره ډالره پوروړی دی. هو له یاده دې ونه وځي، مصطفی ته بیرته راشه! تاته سترګې په لاره یم ته به زما ښه مرستیال شې. مخکې له دې چې د آسماني غره په ډبرو کې خښ شې، ماته راشه تر څو د ټوپکوالي په خوند پوه شې!

لطیف له مصطفی او ظاهر سره خدای پاماني وکړه او خپلو کسانو ته یې امر وکړ چې ددوی آسونه تیار کړي او نجلۍ او نور دلارې ضروري شیان هم هغوی ته ورکړي.

آسان په زین شول او خورجینونه پرې بار شول. مصطفی په دروازه کې سترګې نیولې وې چې نجلۍ راولي دوی ته یې ور وسپاري او حرکت وکړي. زړه یې ناآرامه و، ویریده چې په لاره کې یخني نجلۍ ترې ونه وژني. ذهن یې د یوې چارې په لټه کې و چې نازنینه یې راوړه، ویده وه.

مخ یې تور اوښتی و سترګې پکې لویدلې او شاوخوا یې توره و شنه وه. زړه خیرنه کورتۍ یې وراغوستې وه او توره خولۍ چې داسې ښکاریده کوم چا څو کاله پرله پسې په سر کړې ده، دې ته ورپه سر کړې وه. مصطفی هغې ته وکتل سر یې و خوځاوه تر شونډو لاندې یې وویل: فکر نه کوم چې دغه بیچاره دې آسماني غره ته ورسیږي، هغه دا وویل او ظاهر ته یې ورغږ کړ. ظاهر چې د آس د زین په ټینګولو بوخت و، سمدلاسه یې دده په لوري ورمنډه کړه:

– څه وایې؟

– یوه کمپله پیدا کړه.

- په خورجین کې راسره شته.

هغه ولاړ چې کمپله راوړي مصطفی له جنکۍ مخ واړاوه، ظاهر ته یې وویل: یوه لنډه رسۍ هم درسره راوړه.

ظاهر څو شیبې وروسته کمپله او رسۍ راوړل مصطفی نجلۍ په کمپله کې ونغښتله، ظاهر ته یې وویل چې هغه په رسۍ دده شا پورې وتړي.

نازنین لکه توبره د مصطفی په شا پورې وتړل شوه، هغه په رکاب کې پښه کېښوده خو مخکې له دې چې رهي شي د لطیف یوه ټوپکي پر ږغ کړ:

- مصطفی خانه! د نجلۍ د خوب دوا هم درسره واخله.

هغه دا وویل، وروسته یې د هغه په خوا لاس وغځاوه، مصطفی هغه او د دوا پاکټ ته وکتل، سوکه یې وویل: ښه نو د هغې خوب ددې دوا په برکت دی. د دوا پاکټ یې واخیست او خپل آس یې روان کړ.

اوږده لاره یې په مخکې وه باید له هرې روده تیر شوي وای او «خیرآباد» ته رسیدلي وای، وروسته «شکسته» غرونو ته تلل او له هغه ځخه «دوندر» ته رسیدل بیا د «تګاب معلومه» له لارې د اوبو تر څنګ آسماني غره ته رسیدل.

هوا سړه وه. مصطفی او ظاهر خپل سرونه او مخونه په پټوګانو پټ کړي وو. باد یې سترګې نمجنې کړې وې او لیرې واټن یې سم نه شوای لیدای. له سینده تیر شوي ول په ناهواره لاره «خیرآباد» درې ته رسیدل. میاشت پورته راغلې وه او د دوی پرسر ولاړه وه. رڼا یې کمه وه، لاره تیاره وه خو کیدای شوای چې لاره او د آس ګامونه صحیح کړي.

په پراخه دښته کې دوو سپرو د شپې په زړه کې آسونه ځغلول. د آسونو د ګامونو ترپهار د دښتې چوپتیا ماتوله کله کله به چې لاره نا هواره وه سوکه سوکه به تلل او د کیسو لپاره به وخت پیدا کیده:

- مصطفی! څه فکر کوې همدا د یوازیتوب ګوښه زما وستا لپاره د سیاوشان تر ګڼې ګوڼې او شوره ښه نه ده؟

- یه ظاهره! نه ښه نه ده. آسماني غر څه درکوي؟ د بادغیس د څو غریبو مسافرو له ځوړولو پرته نور څه لري؟ خو سیاوشان یوازې سیاوشان نه دی، ټول هرات دی. اصلاً سیاوشان مهم نه دی، مهمه داده چې د ښار څنګ ته پروت یې او ټول لکه موږکان درڅخه ویریږي. ته زما تګ ته اندیښنه مه کوه تر اوسه مې لا هیڅ پریکړه نه ده کړې، یو وار آسماني غره ته ورسیږو بیا مې که هره پریکړه وکړه له تاسره یې شریکوم. د مردانو راز دې له مردانو سره وي، قول دی؟

- قول دی.

هغوی وروورو له دښتې او ورپسې خیرآباده تیر شول او شکسته غرونو ته ورسیدل چې یو ساعت وروسته به له لمرختو سره سم د دوندر د درو له منځه «کوټه حاجي» ته رسیدل.

لاره پورته ختله، هغه ځای ته چې دوندر بیرته د ژورو خواته کیده او څوکې به یې له وریځو ډکې وې. آسان اوس د یوبل ترڅنګ نه، بلکې سوکه سوکه او یو په بل پسې روان وو. د خبرو لپاره بیا موقع په لاس ورغله. ظاهر وپوښتل:

- رښتیا د نجلۍ نوم څه دی؟

– نازنین.

– عجب نوم لري. ښاري نجلۍ ده؟

– هو.

– نو راتښتول به یې سخت کار و؟

– کیسه یې اوږده ده. کله چې نادر زه کرخ ته ولیږلم چې د قادر له خپلوانو څخه یوه نجلۍ پیدا کړم او را ویې تښتوم، معلومه شوه چې په کرخ کې د قادر هیڅوک هم نه دي پاتې. هغه یوازې یو ورور لري چې په ښار کې اوسي. بیا ښار ته ولاړم او د هغه د ورور نثار کور مې پیدا کړ او په دې هم پوه شوم چې هغه یوه اته کلنه لور لري. نادر ته مې په ټیلیفون کې دا خبره وکړه. هغه راته وویل سمه ده همدا نجلۍ راوتښتوه.

د هغوی کور په مهتاب واټ کې و او له هغه ځایه د نجلۍ را تښتول چې د واټ په پیل او پای کې امنیتي پوسته وه، ماته ډېر ناشونی و. له دې خاطره مې ورته وویل چې دغه کار زما له توانه پورته دی او هغه زه په سیاوشان کې لطیف ته ور ولیږلم او دا لطیف و چې نجلۍ یې را وتښتوله په نوره کیسه خو ته پخپله پوه یې.

ورووړو رڼا کیدله او کمې رڼا د درې ډبرې او ورې غونډۍ ځرګندولې، چې نازنینه له خوبه را ویښه شوه، سر پرې ګرځیده. د خوب ګولۍ یې وجود سست کړی و. پرله پسې ښکته پورته غورځیدله فکر یې کاوه پلار یې پورته غورځوي او بیرته یې په غیږ کې نیسي. د هغه وخت غونډې چې درې څلور کلنه وه او پلار یې ورسره همدا لوبه کوله. یو دم یې غږ وکړ: پلاره بس ده، لویږم. وږې یم. کمزورې یم ډوډۍ راکړه! څو ورځې کیږي چې څه مې نه دي خوړلي. مورې ډوډۍ! پلاره بس ده نو! ما پورته پورته مه غورځوه لویږم. اوس دې په غاړه پورې نښلم او نه دې پریږدم چې ما پورته واچوې!

نازنینې له کمپلې څخه خپل لاسونه را وایستل او د مصطفی په غاړه یې راتاو کړل. مصطفی چې نازنینه یو مخ هیره کړې وه، پخپله غاړه پورې د هغې سړو او بې ساه لاسونو کړی کولو وډار کړ، خو ژر یې پام شو چې نجلۍ را ویښه شوې. د آس ملونې یې را کش کړې او آس یې ورو کړ:

– نازنینې ویښه شوې؟

نازنینې له لیرې غږ واورید. خپل نوم یې واورید. پلار مې دی؟ نه زما د پلار غږ نه دی. ماما جان دی؟ نه ماما جان هم نه دی. نو څوک و؟ و یې نه پیژاند. غږ یې وکړ: پلاره! خو غږ یې له ستونې را ونه ووت. د مور نوم یې واخیست، بیا یې هم غږ په ستوني کې غوټه شو او د چا غوږ ته ونه رسید. په ماما پسې غږ کړ، خو بیا هم وانه وریدل شو. وږې تږې وه. نس یې سوځیده. اوبه یې غوښتې: پلاره اوبه راکړه!

ظاهر چې کله ولیدل چې مصطفی خپل ګامونه سست کړل، ملونې یې راکش کړې. آس وشښنیده او ودرید. ظاهر مخ واړاوه غږ یې وکړ:

– مصطفی خیرت خو دی؟

مصطفی وخندل ویې ویل:

– نږدې راشه او وګوره!

ظاهر نږدې ورغی او د مصطفی په غاړه کې یې د نجلۍ کړۍ شوې کوچنۍ لاسونه ولیدل ویې خندل، پسې ویې ویل:

- غاړبوجن دې نه کړي.
- نه، په دې کوچنیو لاسونو چرګ هم نه غاړبوجن کیږي، مګر لاسونه یې ډیر ساړه دي.
- څه ځو دقیقې وروسته کوته حاجي ته رسیږو، هلته به ساه جوړه کړو.

د حاجي کوټه د دواړو درو په سرکې پرته وه، هلته چې د اوبو دوه ویالې له پاسه په تیزۍ سره لاندې راتلې او له ډبرو سره په لګیدو سره به هوا ته الوتې او بیرته به پخپل تګلوري تللې تر څو له بلې ډبرې سره ولګیږې او همداسې دغه له یوبل سره لګیدا او ښکته پورته کیدا روانه وي تر څو د معلومه په دښته کې ارامې شي او دلته بڼونه او باغچې خړوب کړي.

دوه سپاره چې د حاجي د کوټې خواته ورسیدل، ودریدل او د چارمغزو، بادامو، زردالو او انګورو ونو ته چې ښاخونه یې واورو درانه کړي و، وکتل. د دوندر په هیڅ ځای کې طبیعت دومره ښکلی نه و. دغه ځای حاجي عزیز په شلو کلونو کې آباد کړی و او د میوې ونې یې د هرچا لپاره وې، هرڅوک به چې په دې لاره تیریده ددغه ځای په میوو به یې ځان موړ کړ.

د حاجي له کوټې څخه لوګي آسمان ته ختل او دده په شتون یې شاهدي ورکوله، مصطفی او ظاهر خپل آسونه لاندې وشړل هلته یې د بادامو په ونو پورې وتړل او خپله د حاجي کوټې ته ننوتل. حاجي عزیز چې د دیګدان څنګ ته ناست و او چای یې دماوه، چې دروازه خلاصه شوه په دودجنو سترګو له ځایه را ولاړ شو په لومړي لیدو یې مصطفی وپیژاند:

– د سبحان خان زو! په خیر راغلې!
– ژوندی اوسې عزیزاکا!

مصطفی په بیړه اور ته نږدې شو هماغسې چې خپل لاسونه یې په اور تودول، ویې ویل:

- عزیز اکا! ژر درڅخه ځو تر یوه ساعت زیات دلته نه پاتې کیږو، ماشوم هم راسره دی که غواوې دې شیدې ورکوي، لږ شیدې ورته تودې کړه.
- په سترګو! غواوې لا وچې شوې نه دي. واښه ډیر لرو ښې مړې دي. تر څوړمني(پسرلي) چې بیا لنګیږي یوه نه بله ورځ یې را لوشم. شیدې او کوچ یې بیخي زیات دي له ما زیاتیږي. که له کلي څوک دې خوا راشي لږ پنیر او شیدې هم د خپلو نااهلو لمسیانو لپاره د پهلوانانو کلي ته لیږم.

حاجی عزیز شل کاله دمخه کله چې جګړې شروع شوې او میرمن یې مړه شوه، له خپل کلي دوزخ درې ته راغی، دلته یې له ډبرو څخه کوټه جوړه کړه، د غره په لمن کې یې د ځمکو په آبادولو پیل وکړ او د میوو د ونو په کینولو سره یې هغه ځای په خپل نوم مشهور کړ.

دا ځو کاله د جنګ له شره د هغه غوږونه ارام و، خو اوس څه وخت کیده چې د دوندر د ټوپکیانو په لیدو سره دا ګومان پیدا شوی و چې بیا یو بل جنګ پیل شوی دی او ناامني پراخه شوې ده. ټوپک یې بد ایسیده، خو د ټوپک زور یې هم نه درلود، ځکه خو به یې کله کله خپلې جونګړې ته د ټوپکیانو راتلل د زړه په زور زغمل.

ظاهر د کوټې په کونج کې خورجین کیښود او د مصطفی له ملا څخه یې نازنینه را خلاصه کړه، هغه یې هماغسې په کمپله کې پیچلې د اور تر څنګ کینوله.

نازنینې د خوب او ویښتیا ترمنځ بیا په خبرو پیل کړی و: (( ماما جانه! تر ځو چې زه له ښوونځي نه یم راغلې دفتر ته مه ځه. نن مې چې امتحان خلاص شو غواړم له تاسره ستا دفتر ته ولاړه شم او یوه ښه نقشه وکاږم، خپله نقشه پر دوو آیسکریمو خرځوم))

درې واړه نازنینې ته غوږ ول، خو پر څه پوه نه شول مصطفی له خندا سره وویل:

– نیمه ویښه نیمه ویده ده. لږ وروسته راویښیږي. باید په نس یې مړه کړو، سخته لاره مو په مخ کې ده.

حاجي عزیز یو څه شیدې راوړې او په اور یې کیښودې، ترڅنګ یې کیناست ویې پوښتل:

– ستومانه مالومیږئ، لکه چې اوږده لاره مو وهلې ده؟

– هو کاکا! د دریاب له لورې راغلو، له ماښامه تر اوسه مو مزل وکړ، ساه مو هم نه ده جوړه کړې.

– ښه نو اوس به چای سور کړو، ستاسې آسانو ته هم واښه اچوم، د لارې ستړیا لیرې کیږي.

– عزیز اکا!خیر یوسې په دې دوزخ دره کې ستا کوټه زموږ لپاره په جنت کې د یوې کوټې غوندې ده.

درې واړو وخندل. ظاهر پوښتنه وکړه:

– په دې وختو کې څوک دې خوا راځي؟

– ښکار ته؟

– هو ښکار ته.

– یه، یوازې د پهلونانو د کلي هلکان کله کله د ازوغ لپاره راځي او زما احوال هم اخلي، نور څوک د پخوا غوندې دلته نه راځي.

– د عبدالباقی میرګن هم څه احول نه شته؟

– یه، هغه هم ډیر وختونه کیږي دې خواته نه دی راغلی، پخوا له خپل دوست ضیا سره دلته راته، ښکار به یې کاوه، ښه ښکار یې هم کاوه. یو دوه زرکې به یې ماته هم راکولې. خو اوس ډیره موده کیږي چې نه دی راغلی. وایي دده ملګری ضیآ کابل ته تللی دی، هلته اوسي. هر کله به چې دلته راغی ماته به یې د پښو د درد دوا هم راوړله، څه وخت به ورسره ښه شوم، خو اوس مې د هډوکو درد بیا پیدا شوی دی. پوهیږم اخیر به ددې ځای یخ او نوسه ما مړ کړي.

د نازنینې لاسونه او پښې تاوده شوي او په حرکت راغلي ول. هغې خپلې سترګې سوکه وازې کړې، د کوټې چت لوګیو نیولی و، خواته یې ځو تنو خبرې کولې. نس یې سوځیده. ورو یې وویل: پلاره!

درې واړو د اور له څنګه مخونه راواړول، نازنينه پر کمپله ناسته وه او هڅه يې کوله خپلې سترګې بشپړې خلاصې کړې او خپله شاوخوا ښه وپېژني. مصطفی را ولاړ شو او دې ته ورنږدې شو. نازنينې مصطفی ته وکتل، په داسې حال کې چې شونډې يې رپيدې، ويې ويل:

– کاکاجانه! مامې خپل پلار ته بوځه، زړه مې درد کوي.

– وږې شوې؟

– يه، ځم مورو پلار ته مې.

– ځای ليرې دی، تا يو څو ورځې وروسته ستا مور و پلارته ور ولو.

– زه چيرې يم؟

– ډېر ليرې ځای.

نازنينه راجګه شوه ويې ويل:

– يه، اوس ځو، نس مې خوږيږي، مور مې جوشانده راکوي، ښه کيږم.

مصطفی شميرلي وويل:

– اوس نه کيږي، چای او ډوډۍ-مو چې وخوړل، حرکت کوو او ځو.

نازنينې ظاهر او حاجي عزيز ته چې دې ته ځير ول، وکتل. د هغوی له ږيرو او جامو وويريده او د دروازې په لوري يې منډه کړه. دروازه يې خلاصه کړه، پرمخ يې سوړ باد ولګيده او ناپايه دره يې سترګو ته ودريدله، وډاره شوه، تر څوچې سترګو يې کار کاوه واوره، ډبرې، اوبه او ونې تر سترګو کيدې. دا ډول ځای يې پخپل ژوند کې نه و، ليدلی. مايوسه مصطفی ته راوګرځيده، هغه ته يې وکتل، مصطفی مهربانه سرې ورته ښکاره شو:

– کاکا! زه مو ولې را غلا کړم؟

– مورې نه يې را غلا کړې.

– نو هغو چې زه يې را وتښتولم څه شول؟

– هغوې وتښتيدل او ولاړل.

– تا سې څوک ياست؟

– مورې ستا د پلار ملګري يو.

– ما خو تاسې نه ياست ليدلي.

هغې دا وويل وروسته يې د مصطفی او ظاهر په ټوپکو سترګې ولګيدې چې د دروازې خواته يې له ډبرو سره ايښي ول. وډاره شوه، شونډې يې يوځل بيا ورپيدې:

– زما د پلار ملګري خو ټوپک نه لري.

مصطفی په داسې حال کې چې غوښتل يې خپله شيطان وزمه خندا پټه کړي، وويل:

– غر لیوان لري ټوپک لرل ښه وي، ته غم مه کوه. تا خپل مورورپلار ته ور ولو، خو ته باید تکړه شې، په لاره تلای نه شې، ته باید ډوډۍ وخورې، کاکا عزیز شیدې درته تودې کړې دي، وخوره چې ولاړ شو. لاره ډېره اوږده ده.

نازنینه غلې وه، معده یې سوځیده، بې حاله شوې وه. لا خوبوړې وه او د خوب د ګولیو اغیز یې په وینه کې پاته و. ور اغوستل شوې خیرنې اوږدې کورتۍ ته یې وکتل. ولړزیده او وجود یې خارش وکړ، په بیړه یې کورتۍ وایستله او لیرې یې وغورځوله.

مصطفی کورتۍ راواخیسته، ویې ویل:

– د عزیز کاکا کوټه توده ده چې کورتۍ دې لیرې واچوله. له دې ځایه چې ووتې، یخني دې کیږي مجبوریږې چې بیرته راشې او کورتۍ واغوندې.

حاجي عزیز یو دسمال هوار کړ، په پیاله کې یې شیدې واچولې او یوه ټوټه ډوډۍ یې د نازنینې مخې ته کیښوده:

– واخله کاکایې جار شي! کوچ هم درته راوړم ویې خوره.

نازنینې مصطفی ته وکتل پرې کړي پرې کړي یې وویل:

– خورم. لږ خورم په دې شرط چې ما به مور وپلار ته ورولې.

– وخوره، قول درکوم.

– په قسم وکړه!

مصطفی وخندل:

- په څه شي قسم وخورم؟

- د هغه چا په سر چې دربانديې ګران وي.

مصطفی ناڅاپه مات شو لکه چینې کاسه چې له دوندر غره څخه لاندې را ولویږي او ټوټه ټوټه شي، ټوټه ټوټه شو او مات شو. د نګارې خاطره یې په ذهن کې را ژوندۍ شوه. د نګارې خمار کتل پسې راغلل او د حاجي کوټه د نګارې له عطرو او موسکاوو ډکه شوه. مصطفی دیوال ته تکیه وکړه سترګې یې په دیګدان کې بل شوي اور ته وچې پاتې شوې. لمبې جګې شوې او د نګارې په لورې ولاړې. نګاره وتښتیدله او لمبې په هغې پسې روانې شوې، نه یې پریښودله. نګارې مصطفی ته چیغه کړه او مرسته یې وغوښته. لکه چې د مصطفی لاس وپښې تړلي وي، حرکت یې نه کاوه د نګارې تیښتې او د اور لمبو ته یې کتل. نګارې ته د اور لاس ور ورسیده ده هیڅ نه شوای کولی. نګاره په لمبو کې ګیر وه او مصطفی ته یې چیغې ور وهلې، خو مصطفی د ډبرې د ټوټې غوندې حرکت نه درلود. اور نګاره په غیږ کې واخیسته لمبې جګې او څپڅپانده شوې. نګاره د اور یوه ټوټه شوې وه، منډې یې وهلې. چټکه تله او لمبې پسې وې، دایې په غیږکې ونیوله سره ویې پیچله. نګاره ولویده او لمبې ولاړې. نګاره ایرې شوه او پر ځمکه وپاشل شوه تر څو چې مصطفی ور رسیده نګاره نه وه.

تور چای جوش په ایشیدو شو اوبه ترې راپورته شوې او د دیګدان اور یې مړ کړ. نور هیڅ اور لمبې نه کولې.

حاجي عزیز او ظاهر نازنینې ته کتل چې څه وخت ډوډۍ او شیدو ته لاس ور وړي او مصطفی په خپلو خیالونو کې لاهو و او نازنینه ځواب ته سترګې په لاره وه، لاېي ډوډۍ ته لاس نه و ور اوږد کړی چې حاجي عزیز وویل:

– وخښنه کاکا یې جار شي، وخوره چې سړیږي.

– نه یې خورم. ماته یې لا ځواب نه دی راکړی!

سپین ږیري مصطفی ته مخ واړاوه ویې ویل:

– مصطفی خانه! نجلۍ ته ځواب ورکړه!

نازنینې ته د مصطفی نوم معلوم شو ورته ویې ویل:

- مصطفی کاکا! که وعده راکړې چې ما خپل کورته رسوې، ډوډۍ خورم، دا خیرنه کورتۍ هم اغوندم.

مصطفی په لړزیدلي غږ لکه د درې له تله چې خبرې کوي وویل:

– وخوره! وعده ده.

نازنینې د حاجي عزیز زاړه او سوري سوري شوي دسترخوان ته لاس ور اوږد کړ او مصطفی له کوټې څخه ووت. په غره لږ پورته ولاړ او په واوره اوږد وغځید: نه پریږدم چې دا بې ګناه ماشوم ووژل شي. خدایه! څه کوم؟ کوچنۍ ماشومه ور ورم چې نادر یې په اور کې وسوځوي او د نګارې خواته یې خښنه کړي. عجیبه دنیا شوه. ګناه قادر کړې او سزا یې نازنینه وینې. ددغه معصوم ماشوم ګناه څه ده؟ ښایي ددې ګناه دا وي چې د قادر وریره ده! نه، نادره ته ظلم کوې. دا ظلم دی. په دې کار سره دې د نګارې روح ځوروې. زه نه پریږدم چې دغه نجلۍ د نګارې غوندې وسوځول شي. نه پریږدم دغه معصومه نجلۍ ستا د کینې د اور خوراک شي. ګناه ده، ظلم دی، بې رحمي ده.

مصطفی خپله شپیلۍ له جیبه را وایسته او په شونډو یې کیښوده. داسې په سوز یې ووهله چې تر اوسه یې داسې نه وه چیغولې. د شپیلۍ آواز دره غمجنه کړه داسې لکه چې خبره وي چې یوه قرباني وژنځای ته وړي او پر هغې ویر کوي. دشپیلۍ آواز کوټې ته هم ورسید. دا آواز د څه لپاره دی؟ د چا لپاره دی؟ هر څه چې دي غمجن دی. هر څوک او هر شی ورته غوږ وو لکه چې د شپیلۍ غږ پرې کوډې کړې وي.

مصطفی په شپیلۍ کې په سویو سورو سر و تر څو چې یې اوښکې راغلې او لاندې پریوتې. بیا یې شپیلۍ له شونډو لیرې کړه لکه لیونی چیغه یې کړه: نه پریږدم، نه پریږدم. آواز یې د درې تل ته وشویده په واورو کې ولمبیده په ډبرو ولګیده او بیرته راوګرځید: یه، نه پریږدم، نه پریږدم، نه پریږدم...

سوکه له غره را ښکته شو او کوټې ته ولاړ. نازنینې چې لږ کوچ او شیدې خوړلې وې کوټې ته د مصطفی په رانوتو سره یې مړۍ په لاس کې پاته شوه. مصطفی هغې ته وکتل. مخ یې خیرن و او پر مخ یې د اوښکو تورو لیکو هغه بدرنګه ښودله.

دا لومړی ځل و چې مصطفی د نازنینې خیرنې، غمجنې او خواشینې څیرې ته پام شو. ورغی هغه یې په غیږ کې واخیسته د اوبو خواته یې یووړه مخ و لاسونه یې ور پریمینځل له جیبه یې دسمال را واخیست په ارامي سره یې د هغې

مخ پرې پاک کړ. نازنینې چې وروسته له دې ټولو عذابونو او ظلمونو مهرباني لیده، د هغه په غاړه کې یې لاسونه واچول ویې ویل:

- مصطفی کاکا! نوره نه ژاړم هغه دوا یې چې ماته راکوله نوره یې مه راکوه!
- په سترګو نه یې درکوم.
- مصطفی کاکا! ته ښه سړی یې!
- له څه پوه شوې؟
- ماته دې بدې خبرې او کنځلې ونه کړې، زه دې په لغتو او سوکانو ونه وهلم.
- عجب! ته یې وهلې؟

د نازنینې شونډې یو ځل بیا ولړزیدې، په سترګو کې یې اوښکې راغلې واړه لاسونه یې کمیس ته ور وښوییدل سوکه یې خپل کمیس را پورته کړ، ملا یې توره ګرځیدلې وه او پکې د وهلو ټکولو نښې له ورایه ښکاریدې. مصطفی د نازنینې پر بدن د تورو نښو په لیدو سره په غوصه شو په داسې حال کې چې تر شونډو لاندې یې کنځلې کولې وویل:

- نور به څوک تا ونه وهي، بې غمه اوسه.

نازنینه یې کوټې ته بوتلله او د غذا د هوار شوي دسمال څنګ ته یې کینوله. د نازنینې د مخ خیرې پاک شوي وو، خو کړاو او خواشینې یې لا په څیره کې ښکاریدل. ډنګره او ضعیفه شوې وه او د ډوډۍ د ګولې د راپورته کولو په وخت کې یې لاسونه لړزیدل.

مصطفی حاجي عزیز ته وویل:

- کاکا! چای واچوه چې موږ تر غرمې دلته یو. اوس غره ته خیژم او څو دانې زرکې هم درته ښکار کوم.

د لمر په راختو سره زرکو غاړې شروع کړې. د تل په څیر زرکه یوې لوړې ډبرې ته وختله او داسې غاړې یې پیل کړې لکه چې غواړي خلک له خوبه راویښ کړي. هغې ډیرې سندرې وویلې لږ وروسته له هرې خوا له هرې ډبرې یوې زرکې سر راپورته کړ غاړې یې پیل کړې. آوازونه یې ولاړل له ډبرو سره ولګیدل بیرته راوګرځیدل د نورو زرکو له حنجرو څخه له راوتلو آوازونو سره یو ځای شول او دوزخ دره یې د زرکو په جنتي آوازونو بدله کړه.

نازنینې د زرکو غاړو ته غوږ ایښی و کله چې یې د هغو سندرې اوریدې په شوق راتله او د لومړي ځل لپاره یې په شونډو موسکا وزرونه وریول. مصطفی چې هغه تر سترګو لاندې څارله په خوښۍ یې وویل: اوس ځم او څو دانې درته راوړم. هغه دا وویل ټوپک یې راواخیست او دباندې ووت. زرکو لا غاړې وهلې او د خپلو یارانو لپاره یې نغمې سور کړې وې چې ناڅاپه د ټوپک وچ غږ په دره کې تاو شو، په هوا کې په انعکاس سره بیرته راوګرځید او د درې تل ته ولاړ. د زرکو ستوني بند شول، لکه چې نه زرکه وي او نه یې آواز.

مرګوني چوپتیا خوره شوه څو شیبې وروسته پر یخ وهلې واوره د مصطفی د پښو ښکالو واوریدل شوه چې کوټې ته نږدې کیده. مصطفی له دوو زرکو سره راغی ویې ویل:

- کاکا! واخله د غرمې کتغ پیدا شو.

مصطفی دا وویل او وروسته یې زرکې د نازنینې مخې ته واچولې:

– راشه نازنینې مخکې له دې چې عزیز اکا ددغو زرکو ښکې وشکوي او دیګ ته یې واچوي، ته یې یو ځل وګوره! تر اوسه دې زرکې لیدلې وې؟

نازنینې په وینو رنګ زرکو ته وکتل، وډاره شوه ویې ویل:

– کاکا مصطفی ولې دې دا بیچاره ګانې وویشتې؟ زړه دې پرې ونه سوځیده؟ څومره ښکلې دي.

ظاهر په خندا وویل: ته لا خبره نه یې چې ستا دا کاکا مصطفی نور لا څه ښکارونه کوي.

مصطفی ظاهر ته بد بد وکتل. او په دې ډول یې پوه کړ چې د ټوکو وخت نه دی.

هغوی د زرکې له ښوروا خوړلو وروسته ماسپښین مهال له حاجي عزیز سره خدای پاماني وکړه او روان شول، دوه سپاره د دوزخ درې پر پیچومو چې تګاب معلومه ته ښیوه کیده له «ګله بید» څخه له تیریدو وروسته آسماني غره ته رسیده، په لاره وو. مصطفی پر لاره د نادر په اړه فکر کاوه، چې غوښتل یې نورې وینې تویې کړي دا پلا د داسې چا وینې تویول غواړي چې له یوه پیوند پرته چې له قادر سره یې لري نور د هغه له عملونو سره هیڅ تړاو نه لري. نادرخانه! نه پریږدم ددغې ماشومې وینه تویې کړې. له تا سره به خبرې وکړم درته وبه وایم چې دا ماشومه مه وژنه. زه یې ضامن یم او که دې راسره ونه منله، بیا نو هغه څوک چې بې له ځنډه نګارې ته د ورتلو هیله لري هغه زه یم. خپل دراګُنوفت دې زما پر ټنډه کیږده پر ماشه یې ګوته ټینګه کړه ما نګارې ته ور ولیږه او که دا کار نه کوې له نازنینې لاس واخله. پریږده چې هغه یې خپل پلار ته ور وسپارم. نه پریږدم چې نازنینه ووژنې، بس همدومره.

نادر سرزوری دی، نادر د اوښ کینه لري، نادر ګذشت نه لري، په هیڅا یې رحم نه دی کړی ډیر خوني سړی دی تا به هم له نازنینې سره یو ځای ووژني. له هغه سره ځیل نه کیږي. که له هغه وغواړې چې نازنینه مه وژنه اول تا وژني بیا هغه. نو څه باید وکړم؟ د حل لاره څه ده؟ که بیرته وګرځم نجلۍ حاجي عزیز ته ور تسلیم کړم چې ولسوالي ته یې بوزي او حکومت ته یې وسپاري څه؟ یه کار لا پسې خرابیږي. نادر دې وژني، تش لاس ورتلل داسې دي لکه د مار په لکۍ چې سړی وخیږي. ښه داده چې له هغه سره خبرې وکړم، په سمه ورته ووایم چې د نازنینې له وژلو لاس واخلي زما په خاطر هم باید دا یوه ونه وژني. ما وعده کړې چې هغه یې خپلې مور وپلار ته سپارم، پخپل قول ولاړ یم.

د ژغورنې هیله، مور و پلار ته د ورتلو هیله، ښوونځي ته د تللو او له خورلنو او هم ټولګیانو سره د لوبو کولو هیله د نازنینې په زړه کې یو ځل بیا را ژوندۍ شوې وه. مصطفی د نورو غوندې له هغې سره بد چلند نه کاوه، نه یې هغه په څپېړو وهلې وه، نه یې ښکنځلې او سپکې سپورې ورته ویلې وې او نه یې په زور د خوب دوا پرې خوړلې وه. هغه د پلډې غوندې د مصطفی په شا پورې تړلې وه، لاسونه یې د هغه په غاړه کې کړۍ کړي وو او د هغه پر خبرو یې چې ورته ویلې یې و تا خپل کورته ولم، باور کړی و.

کله به چې آسونه سوکه کیدل نازنینې به له کمپلې څخه خپل سر را یوست او پرله پسې به یې له مصطفی څخه پوښتل چې څه وخت به کورته رسیږو؟ مصطفی ځواب ورکاوه: صبر وکړه! لا ډیره لاره پاتې ده هغې به غره او درې ته وکتل چې لیدل به یې لاره لا پسې اوږدیږي، ویل به یې: مصطفی کاکا! دغو غلو زه ډیره لیرې وړې وم؟ مصطفی به

خندل او ویل به یې: هو ته یې ډیره لیرې وړې وې. هغې دا پوښتنې څو ځله پوښتلې وې او مصطفی هماغه ځوابونه ورته تکرار کړي وو. نازنینه به یوازې هغه وخت چوپه پاتې شوه چې لاره به هواره وه او آسان به چټک تلل، هغه وخت به ویریده او سر به یې په کمپله کې پټ کړ.

هغوی د شپې په دولس بجې په آسماني غره کې خپلې اډې ته ورسیدل کله چې آسان د ډبرینې کوټې په لوري وګرځیدل، د غره لوړې څوکې ته یې وکتل، هلته چې نګاره خاورو ته سپارل شوې وه: د نګارې پر قبر اور بل و او دره یې رڼا کړې وه او باد د اور سپرغۍ هرې خوا ته بادولې.

آسان یې د ډبرینې کوټې شاته وتړل، چې بیرته راګرځیدل او کوټې ته تلل د ډلې یو کس سلطان چې دوی لیدلې وو د دوی مخې ته شین شو له سترې مه شې پرته یې وپوښتل: نجلۍ مو راوستله؟ مصطفی په غوصه وویل:

– په تاپورې اړه نه لري، له لارې چپ شه!

هغه چې د دا ډول چلند تمه نه لرله له لارې یوې خواته شو ویې ویل:

– نادر د غره په سرکې د نګارې قبر ته تللی دی.

مصطفی څه ونه ویل کوټې ته ولاړ. انډیوالان یې هلته ناست وو، چای یې سوراوو او کیسې یې سره کولې. هغوی چې نوي راغلي مسافر ولیدل له ځایه راولاړ شول او د اور خوا یې دوی ته ور پریښنودله. مصطفی رسۍ راخلاصه کړه په اشاره یې ظاهر پوه کړ چې نازنینه ورو دده له شا راکوزه کړي چې را ویښه نه شي. هغه نازنینه دده له شا راخلاصه کړه د دیوال څنګ ته یې څملوله او کمپله یې پرې هواره کړه.

نصرالله پیاله له چای را ډکه کړه د مصطفی مخې ته یې کیښوده ویې ویل:

– ښه شوو چې راغلئ، نادر خپل اعصاب له لاسه ورکړې، د ورځې د نګارې قبر ته ځي، ژاړي او چیغې وهي او د شپې هم ډیر لرګي د غره سر ته وړي او اور بلوي. نادر تاسې ته سترګې په لاره دی.

هغه دا وویل بیا یې نازنینې ته وکتل چې سر یې له کمپلې را ایستلی و او ورو یې ساه اچوله.

– افسوس دا خوارکۍ، څه ښکلې نجلې ده؟

مصطفی په غوصه شو:

– ځه ورک شه په تاپورې اړه نه لري. ځئ رزیلانو. ددې پر ځای چې زموږ د حال پوښتنه وکړئ بې ځایه خبرې کوئ. لعنتیانو، خبیثانو، ورک شئ.

ټول له کوټې وتښتیدل. لږ وروسته نادر راغی چې کوټې ته راننوت کوټه یې په ځیر سره وڅارله او د نازنینې په لیدو سره لکه چې زړه یې قرار شوی وي د مصطفی خواته ورغی او د هغه خواته د اور ترڅنګ کیناست. ځان ته یې چای واچاوه، ویې ویل:

– له لطیف سره مې پرون خبرې وکړې. ویل یې چې تاسې حرکت کړی او امانت هم درسره دی، راته ویې ویل چې د نجلۍ په حساب لس زره ډالره د هغه پوروړی یم. خسر دې وي، لس زره ډالر پیدا کیږي خو لور مې بیا

نه پیدا کیږي، نګاره وسوځیده او مړه شوه. مصطفی! ستا کوژدنه وسوځیدله، هغه یې وتښتوله او اور یې ور واچاوه، هغه یوازې ده. هغه د آسماني غره پر سر بیخي یوازې ده.

نن شپه هغه له یوازیتوبه ژغورم. د غره سر ته مې ډیر ازوغ وړی دی، اور مې بل کړی دی.هرڅه تیار دي. مصطفی چای دې وڅښه! غواړم نن مې د خپلې لور اروا خوشحاله کړم او هغه له یوازیتوبه وژغورم. چای دې وڅښه چې یو ځای د غره سر ته ولاړ شو.

مصطفی پیاله را واخیسته هغه یې یو غړپ کړه. نادر هغه ته وکتل ویې ویل:

– مصطفی خانه! سوکه، چې پرې سوځې.

– مهمه نه ده، پریږده چې وسوځم. ځکه چې اخیر هم سوځم. زه هم نن شپه خپل ځان سوځوم.

نادر د مصطفی په خبرو پوه نه شو، فکر یې وکړ چې هغه دا خبرې له هغه سره د غمشریکي په خاطر کوي، نو ځکه یې وویل:

– نه مصطفی لازمه نه ده ته ځان ته اور واچوې. ته لا ځوان یې زر ښځې درته پیدا کیږي. په دې فکر مه اوسه. پخوا به چې زما نوم دغو قادرګیانو اورید، متیازې به یې تللې. اوس زه خدای وهلی یم چې مظلومه لور مې له کوره تېښتوي او ځان ته یې نکاح کوي. زه نن شپه هغوی ته ورښییم چې ددې کار معنا څه ده. د دوی مړو او ژوندو ته د عبرت درس ورکوم تر څو د دوی راتلونکي نسلونه زما اولادونو ته چپ هم ونه ګوري. –

مصطفی یوه بله پیاله چای ځان ته واچاوه، هغه یې ځان ته نږدې کړه، ظاهر یې راوغوښت ورو یې ورته وویل:

– نازنینه زما کوټې ته یوسه، اور هم ورته بل کړه چې ساړه یې ونه شي.

ظاهر نادر ته وکتل چې د خپل قوماندان په نظر هم پوه شي. نادر بې له دې چې ظاهر ته څه ووایي په حیرانۍ یې له مصطفی وپوښتل:

– ولې؟

– درته وایم، خو اوس دې هغه له دې ځایه لیرې کړي او کوټه دې هم ورته توده کړي.

– هغې ته نور ساړه او ګرمي مهم نه دي، څو شیبې وروسته یې تودوم، دومره یې تودوم تر څو چې کباب شي.

- ښه هر څه چې کوې ویې کړه، خو اوس اجازه ورکړه چې هغه بلې کوټې ته یوسي تر څو زه و ته خبرې سره وکړو.

د نادر په څیره کې لا د تعجب نښې څرګندیدې، زړه نازړه یې وویل:

– ښه بلې کوټې ته دې یې بوځي، څه فرق کوي.

ظاهر نازنینه په غیږ کې واخیسته او له کوټې ووت. کله چې دروازه وتړل شوه. مصطفی سوکه وویل:

– نادرخانه! نه دې پریږدم چې نجلۍ وسوځوې.

نادر چیغه کړه:

– څه؟

– نادرخانه! تر نن سهاره ماته دا مهمه نه وه چې نجلۍ په اور کې اچوې، سنګساروې يې، وژني يې، څه او څه پرې کوې ماته يې اصلاً هيڅ اهميت نه درلود، ما خپله دنده سرته رسوله. ويلي دې و ولاړ شه هغه راوړه. زه هم ولاړم او رامې وړه. خو ناڅاپه په دې فکر شوم چې ولې دا ماشومه خوارکۍ د هغې ګناه سزا ويني چې دا ترې خبره هم نه ده. زه او ته پخپل دې کار سره د نګارې روح ازاروو او هغه په ګور کې ناارامه کوو. اصلاً دا ماشومه د نګارې له سوځيدو سره څه تړاو لري؟ دا کار مه کوه نادرخانه! ما او تا پر نورو ډير ظلمونه کړي دي، خو په دې کار سره پر ځانونو ظلم کوو، پر نګارې ظلم کوو.

کله چې د مصطفی خبرې خلاصې شوې، نادر سر ته لاس يووړ د خپل سر ويښتان يې په موټيو کې ټينګ کړل، خپل تندی په څپيړه وواهه شونډې يې وچيچلې.

مصطفی وډار شو، نادر يې هيڅ وخت په دې حالت نه و ليدلی. هغه ته يې په ځير وکتل: د مخ او غاړې رګونه يې پړسيدلي و، رنګ يې تور اوښتی و او سپږمې يې تر پخوا پراخې ښکاريدې.

– نادرخانه! په سد شه، دا څه کارونه دې چې کوې يې؟

د نادر د خولې ځګونه هره خوا باديدل، ويې ويل:

– مصطفی! تا تر اوسه ليدلي چې ما دې څوک بخښلي وي؟ ووايه ليدلي دې دي؟ نه، نه دي دې ليدلي. ته راته ووايه تر اوسه دې ليدلي چې ما دې د چا د وژلو نيت کړی وي او هغه مې دې نه وي وژلی؟ نه، نه دي دې ليدلي، ووايه ليدلي دې دي؟

– نه، نه مې دي ليدلي.

- ماته افسانې مه وايه،پريږده چې زه خپل کار وکړم.

– نادرخانه! نه دې پريږدم.

– تا هم وژنم.

– ومې وژنه.

– وژنم دې. په خدای وژنم دې، زما له مخې ليرې شه!

– اوس خو دې دادی مخې ته ولاړ يم، که ما خپل زوم بولې زما هيله ومنه په نجلۍ غرض مه کوه، پريږده چې د نګارې اروا ارامه وي.

– مصطفی، سرټمبګي مه کوه! که اوس دا کار ونه کړم سبا يو بل زما مخې ته دريږي او هر څه يې چې له لاسه وشي زما پر کورنۍ يې کوي. دلته بايد د خپلې ارامي او امنيت لپاره بل ووژنې که نه درباندې سپريږي دغه يې لاره کيږي، قادر راغی زما لور يې وتښتوله. سبا يو بل راځي ښځه او زوی مې تښتوي. زه بايد د خپلې ښځې، اولاد او قوم په فکر کې واوسم. ته په دې خبرو پوهيږې؟

– پوهيږم نادرخانه! ښه پوهيږم.

– نو پورته شه چې ولاړ شو او کار ختم کړو. بابولالې مه وايه.

– نه پرېږدم چې نجلۍ ووژنې نادرخانه! اول ما مړ کړه، بیا چې هرڅه کوې ویې کړه.
نادر ناڅاپه له ځایه راپورته شو خپل دراګنوف یې د دیوال له څنګه راواخیست مصطفی ته یې وویل:
– ځګ شه چې ځو.
مصطفی له ځایه راولاړ شو، د دروازې په خوا ولاړ او پښې لوڅې دباندې ووت. ساړه باد یې مخ ته څپېړې ورکولې، چې مخ یې لوند شو پوه شو چې واوره اوري.
د ډبرینې کوټنۍ مخې ته په هواره ځمکه ډېره واوره راټوله شوې وه پښو یې ورو ورو د یخنۍ سوزش پیدا کاوه، هغه څو ګامه ولاړ او وډریده هماسې یې غږ کړ:
– نادرخانه! دلته مې ووله او ختم مې کړه.
– نادر چې خپل بوټونه په پښو کړي وو او غوښتل یې چې د خپل بل شوي اور څنګ ته ولاړ شي د واورې په لیدو سره چې غټ څپرکي یې اوس هم پر ځمکه راتوییدل، ودرید:
– څه شی ختم کړم؟
– ما ختم کړه.
– زه ستا د وژلو نیت نه لرم. غوښتل مې تا د نګارې قبر ته د اور څنګ ته ورولم.
– اور نور نشته. اور مړ شوی دی. د خدای فضل وشو واوره واوریده. د نګارې په خاطر ستا بل شوی اور مړ شو. ځه ولاړ شه! نجلۍ وښنه.
نادر په یټکي وخندل او آواز یې د هوا په رطوبت کې درې ته ونه رسید. د مصطفی تر غوږو ورسید او ورک شو. مصطفی وویل:
– ما په دې څو کلونو کې چې ستا ټوپکي وم له تا دوه هیلې کړې دي یو له نګارې سره یو ځای کیدل او بل د نازنینې ښښل. وګوره خدای ستا اور مړ کړی دی، له خدایه سره سیالي مه کوه.
نادر څو دقیقې زړه نازړه په واوره کې ودرید. دوه زړی و بیرته وګرځي که ولاړ شي؟ د غره سر ته نور ټګ نه کیده. واورې لاره سخته کړې وه او اور یې مړ کړی و. هغه مصطفی ته وکتل، مصطفی په واره کې پښې لوڅې ولاړ و او مخ یې بلې خواته اړولی و.
نادر ځان خوړ، غاښونه یې له یوبل سره لګیدل او لاسونه یې لړزیدل. باور یې نه کیده، مصطفی دې دومره سرکش شوی وي چې مخې ته یې ودرېږي.
یو ځل بیا یې د غچ اخیستو حس په بدن کې لمبې بلې کړې او په یوه لنډه شیبه کې یې د زینلیانو خلک ولیدل چې د ده د ښځو او اولادونو لاسونه تړي او په غرور او خوښۍ او خنداوو سره یویو وژني او وروسته یې کلا ته اور اچوي او پخپلو آسونو سپرېږي او د بریالیتوب په چیغو او نارو سره له میرزابهاره ځي.
په لړزیدلي آواز یې مصطفی ته غږ کړ:

– مصطفی! نامرده شوې؟ ولاړې نجلۍ دې راوسته چې زما زخمونه تازه کړې؟ که ما پرې نه ږدې چې هغه ووژنم پوهیږې څه به وشي؟ ته نه پوهیږې، ته نه پوهیږې، تر اوسه لا ستا پر سر ددې دنیا کوزې او کاسې نه دي ماتې شوې ته لا تر اوسه نه یې لویدلې چې د دریدو په قدر پوه شې.

- که هغوی ته کمزوری ښکاره شوې، لمسیان او کړوسیان به دې پرې نه ږدي، ولې نه پوهیږې؟ د شیطان له خره راښکته شه. پریږده چې زینلیانو ته ور وښییم چې که بیا زما کورنۍ ته چپ وګوري سترګې به یې وباسم. مصطفی مه کوه ما مه بیچاره کوه! ما مه مجبوروه چې له تا هم تیر شم.

واورې د دوی سر او متې سپین کړي وو او په بڼو، ږیرو او بریتونو پورې یې نښتې وه. نادر په مخ لاس راتیر کړ د واورې څپرکي یې له مخه لیرې کړل، مصطفی ته یې وکتل هغه پر خپل ځای ولاړ و او د واورې په اوربښت کې د ډبرې څلي ته ورته معلومیده. د نادر له خولې څګونه بادیدل پرله پسې یې لاړې تو کولې او پوزه یې پورته کشوله:

- نامرده خبرې وکړه! داسې یو له یوه ستا په زړه کې رحم له کومه راپیدا شو؟ ته د سبحان زوی نه یې؟ ستا پلار سبحان د رحم په نامه څه پیژندل؟ ستا په رګونو کې د هغه وینه جاري نه ده؟

هغه دا وویل ناڅاپه وګرځید ټوپک یې د ډبرې خواته کیښود د مصطفی خواته ورغی په یوه قدمي کې ورته ودرید:

– مړ شوې؟ خبرې وکړه! یو له یوه دې په زړه کې دا رحم له کومه راپیدا شو؟

مصطفی خوله خلاصه کړه لکه چې دده آواز د واورې دانو له ځانه سره وړی وي، د نادر غوږ ته د زګیروي غوندې څه ورسیدل:

– نګاره د هغې ډبرې له سره ماته ګوري، نه غواړم د هغې روح ازار کړم.

نادر خپل سر پورته کړ، د واورې داني یې پر مخ کینستې او دده بانه درانده کړل، هغه څو ځله خپلې سترګې پټې او خلاصې کړې تر څو د واورې داني له مخه لیرې کړي. د نګارې د نوم په اوریدو سره یې د خبرو لهجه نرمه شوه:

– مصطفی ته لا وړوکی یې، د نګارې مرګ باید تا لا سخت زړی کړي. د نګارې د وینو غچ اخیستل یوازې زما دنده نه ده. هغه ستا ښځه وه، ستا کوژدنه وه، ته مې ور لیږلی وې چې نکاح یې کړې او نګاره ستا ښځه شي. اوس یې باید غچ واخلې، نه دا چې زما مخه ونیسې.

– ما هماغه شپه د نګارې غچ واخیست. دې ته ضرورت نشته چې بې ګناه نجلۍ ووژنم.

یو ځل بیا د نادر د ننه ویده توفان راویښ شو. لاسونه یې پورته کړل او ګوتې یې د باز غوندې خلاصې کړې او پورته شوې په یوه ټوپ سره د مصطفی په ستونې خښې شوې. مصطفی پورته غورځار شو هماغسې یې چې د نادر متې ټینګې نیولې، په سختۍ سره یې مخ وګرځاوه او ورسره سترګې په سترګو شو په خرهار کې یې وویل:

– نادرخانه په ټوپک مې ووژنه.

نادر د هغه ستونی لاپسې ټینګ کړ او د هغه سترګو ته یې چې سپینیدې وکتل، ویې ویل:

- تاته به داسې درس درکړم چې نور پخپل ټول ژوند کې زما مخې ته ونه دریږې.

دا يې وويل بيا يې په ټول قوت سره مصطفى ايسته غورځار کړ. مصطفى پر ځمکه ولويد او ملا يې په واوره ولګيده. نادر نږدې ورغی، د مصطفى پر ټټر يې پښه کېښوده او داسې يې پرې ټينګه کړه چې د هغه د پښتيو د ماتيدو آواز يې واوريد.

د مصطفى لاسونه څنګ ته پراته ول او د نادر د پښې د ايسته کولو لپاره يې هيڅ هڅه نه کوله.

– نادرخانه! زور پرې وکړه، نور هم زور پرې وکړه، دا ټټر يې طاقت لري. دا د مصطفى سينه ده. د ميړني سينه ده واخ نه وايي. که هډوکي يې مات شي ساه يې نه بنديږي. زه په آسانۍ نه مرم. که غواړې ما ووژني ورشه ټوپک دې راواخله په يوه ګولۍ مې ختم کړه. هغه وخت دې چې هر څه زړه وغوښتل ويې کړه، خو تر هغه وخته چې زه ژوندی يم، په نازنينې غرض نه شې کولی.

نادر د مصطفى له ټټره پښه ايسته کړه، د هغه څنګ ته په ګونډو شو هغه يې تر کرتۍ ونيوهّوا ته يې پورته کړ، د هغه په ټنډه يې ټنډه کېښوده ويې ويل:

– مصطفى د شيطان له خره ښکته شه او زما له مخې ليرې شه! داسې څه مه کوه چې زما لاس ستا په وينو ولړل شي.

مصطفى څه ونه ويل او نادر له مصطفى سره ټنډه په ټنډه په ژړا شو. په چيغو يې وژړل. هغه له اوږدې ژړا وروسته ولړزيد او وروسته لکه چې آرام شوی وي، هغه يې پر ځمکه واچاوه او خپله په پښو ودريد. سر يې څو ځله ښۍ او کيڼې خواته و خوځاوه، د خولې ځګونه يې تو کړل، تر شونډو لاندې يې ښکنځلې وکړې، مصطفى يې په لغته وواهه او پخپل ځای يې پريښود، کوټې ته ولاړ او د مړژواندي اور تر څنګ کيناست. ديوال ته يې تکيه وکړه. د سر او وليو واوره يې د کوټې له تودوخې سره اوبه شوه ، له ټنډې څخه يې څاڅکې څڅيدل او د سترګو په کونجونو کې يې د اوښکو له څاڅکو سره يو ځای کيدل.

څوشيبې وروسته مصطفى کوټې ته راننوت، دروازه يې وتړله لومړی يې خپله کرتۍ وڅنډله پر سر يې لاس راتير کړ وروسته يې د خپلو پښو تلې په لاس پاکې کړې نادر ته يې وکتل ويې پوښت:

– زړه ته دې رحم راغی؟

– نه، زړه ته مې رحم نه دی راغلی. کله مې چې غوښتل غاړېوجن دې کړم نګارې مې لاس ونيو د هغې غږ مې واوريد چې ويې ويل: نجلۍ مه وژنه! هغې دا وويل او ولاړه د واورې شاته پټه شوه. اوس نجلۍ نه وژنم. خو يو شرط لرم، لس زره ډالر چې ددې له درکه د لطيف پور وړی يم ددې له پلاره واخله..

مصطفى چې د خپلو هڅو له پايلې څخه راضي و، ويې ويل:

– سمه ده دا کار کوم.

هغه دا وويل او له ځايه را ولاړ شو، کوټې ته ننوت. ظاهر کوټه توده کړې وه او نازنينې ته يې چې ويښه شوې وه، کيسه کوله. نازنينې چې مصطفى وليد په ګيله يې وويل:

– مصطفى کاکا ولې دې دروغ وويل؟

– څه مې وويل؟

– ویل دې چې مورو پلار ته دې ور ولم، خو مور لا په غره کې یو.

– وروولم دې، وروولم دې، اندیښنه مه کوه. ستاسې د کور لاره ډېره لیرې ده، ځو ورځې دلته ساه اخلو، بیا له خیره حرکت کوو. دا ځل مخامخ ستاسې کور ته ځو.

مصطفی د نازنینې تر څنګ کیناست. دهغې لاس یې په لاس کې ونیو، لاسونه یې ګرم وو. بل لاس یې د هغې پر ټنډه کیښود، ټنډه یې هم ګرمه وه. نازنینې تبه لرله.

**۵**

اشنا ډبرې، هماغه کورونه، هماغه تیږې او په دره کې هماغه بوټې او د اینځر ونې د اوبو هماغه چینې لا پخپل ځای وې. هیڅ شی بدل شوي نه وو. په آسماني غره کې د شلو کالونو مخکې قرارګاه هماغسې ولاړه وه او د غلا او لارو نیولو بل پړاو ته یې خوله خلاصه کړې وه.

غر هغه مار ته ورته و چې له ختیځه لویدیځ ته غځیدلی و په منځ کې یې ټینګ مورچل درلود چې تابه ویل هیڅوک یې د فتح کولو وس نه لري. هغه ډبرین کورونه چې د غره په بیخ کې په هواري کې آباد شوي وو، د هرچا له سترګو نهام و. لوړې لوړې تیږې د باد د ښامار مخې ته د خنډ غوندې ولاړې وې او یوازې به هغه وخت چې د درې له بیخه ځوک پورته کیده، د باد ځپیړې به یې پر مخ لګیدلې. له هغه ځایه هرات او ټولې څلور خواوې یې لکه د تندي سره اوښتې کرښې معلومیدې.

سبحان له شلو کالو وروسته یو ځل بیا دلته پل کیښود، راغلی و چې خپل یوازنی زوی چې د زړښت د امسا په هیله یې لوی کړی و، له ځانه سره بوځي. هغه زوی چې په ډېره سختي یې لوی کړی و او اوس لکه زرک چې وزرې وکړې مور و پلار یې پرې ایښي وو، له ځالې الوتی و او تللی و.

کله چې دوی ډبرینو کورونو خواته ورسیدل، نادر شاوخوا وکتل ویې پوښتل چې ظاهر چیرې دی؟

مصطفی وویل:

– د شپې پیره د ظاهر وه ښایي لا ویده وي.

نادر ورو وویل:

– دا لعنتي سوی د ټوپک په آواز هم راویښ شوی نه دی.

هغه دا وویل وروسته یې په ټول زور سره چیغه کړه:

– ظاهره دباندې راشه چې میلمه راغلی دی.

څو شيبې وروسته ظاهر په داسې حال کې چې سترګې يې موښلې له کوټې راووت او د سبحان په ليدو موسکی شو، ورغی د هغه لاسونه ښکل کړل ويې ويل: سبحان اکا! په خير راغلې.

سبحان د هغه پر سر لاس راتير کړ:

– داسې ښکارې چې يوازې مصطفی د نادر په دام کې نه دی لويدلی، ته هم د هغه په لښکر کې يې!

نادر ظاهر پرې نه ښود چې د سبحان ځواب ورکړي، په بيړه يې وويل:

– ورشه له جارګې څخه يو مزی او چاغ وری را وباسه، حلال يې کړه چې نابللی او ډير ګران ميلمه لرو.

ظاهر د پسونو جارګې ته منډه کړه او سبحان ډبرينې کوټې ته نږدې ودريد. پښو يې هلته د تلو توان نه درلود. دا هماغه کوټې وې چې هره ډبره يې د سبحان لپاره يوه خاطره وه. له هغه دورانه ډير وخت تير شوی و، خو داسې ښکاريدل لکه پرون. ډبرينې کوټې د پرون د بيا لوستو لپاره هندارې وې د هغو ورځو چې د هغه او نادر ډلې د هريوا تن لړزاوه او په غلاو او وژنو سره يې د هغه ځای د خلکو له سترګو خوبونه غلا کړي وو. که مصطفی دلته نه وای سبحان به هيڅکله دلته د راتلو شوق نه وای کړی.

– ولې ولاړ يې ، څه چې ځو چې يخني ده.

– زه کوټې ته نه ځم.

نادر په يټکي وخندل:

– ډاريږې، له خپلې قرارګاه څخه ډاريږې؟ دغه ډبرينې کوټې زما وستا په لاس جوړې شوې دي چې اوس دغو ځوانانو ته رسيدلې دي، ګوري يې ټول زلميان دي، ددوی په منځ کې يوازې زه و ته زاړه يو. مصطفی، عثمان او ظاهر ځوانان دي، چې اوس پردې پوهيدلي چې څنګه له ځانه دفاع وکړي.

دوی بايد پرې نه ږدې چې څوک موږ ته بد وګوري، بايد موږ وساتي او که موږ مړه شو، دوی بايد زموږ ځای ونيسي. نن هغه څوک پياوړی دی چې ټوپک او زور ولري او تر څو چې په دې ملک کې ګډوډې وي، لومړۍ خبره به ټوپک کوي. او هو ښه په ياد ولره چې د افغانستان د جنګ کتاب زر مخه لري او موږ يې اوس ايله بيله په دريم مخ کې يو.

– زه ستاسې په جګړه کار نه لرم، د چاساتنه هم نه غواړم، مصطفی راکړه چې ولاړ شم.

نادر څو شيبې سبحان ته ځير و، د هغه لويدلو سترګو ته يې وکتل په زړه کې يې وويل: ته د لړګې زخه بيا له کومه شوې؟ اجل دې راغلی چې په خاپوړو تر دې ځايه راورسيدې وايي د سپي اجل چې راشي د شپانه ډوډۍ وخوري، که ډير ټينګار وکړې وژنم دې او لاندې په جر کې دې اچوم.

سبحان هماغسې په ولاړو وويل:

– نور څه له تا نه غواړم، مصطفی همدلته راته وسپاره چې ولاړ شم.

نادر يو ځل بيا وخندل، دا ځل يې خندا قهرجنه وه. په ناراضه څيره يې وويل:

– سبحان خانه! د زړه دننه غمونو کې مې خنجر مه وهه، سختې ورځې مې تیرې کړې. هڅونه مې سوځي، راځه چې کوټې ته ولاړ شو خبرې سره وکړو، راځه چې د نګارې د مرګ په اړه درته ووایم. قبر یې هلته د غره پر سر دی. نګاره وسوځیده، هغه زنیلیانو یووړه او کباب یې کړه. نګاره مې مصطفی ته ورکړې وه خپله ګرانه لور مې ستا زوی ته ورکړې وه. هغه د مصطفی ښځه کیده.

نادر دا وویل او په بیړه سمڅې(کوټې) ته ولاړ. سبحان هماغلته ولاړ و، نویو خبرونو او نورو احوالونو اخیستلو هغه سمڅې ته ورتلو ته هڅاوه. یوه پښه یې له واورې راوخته دا بله یې هم پسې کش کړه مصطفی تر مټو ونیو تر څو د سمڅې مخې ته په یخي ونه ښوییږي. سبحان مصطفی ته وکتل، سترګې یې له اوښکو ډکې شوې:

– مور دې ستا له غمه یو موټی شوې ده، نااهله!

د مصطفی سر پرې وځړید، ورو یې وویل:

– پښې یې اوس هم خوږیږي.

– ستا له غمه سل مرضونه ورته پیدا شوي دي. شپه ورځ مصطفی مصطفی کوي او ته ددې ډېرو په منځ کې د نادر تر شا روان یې. دا کارونه ښه عاقبت نه لري، ما پنځلس کاله ظلم وکړ، لارې مې ونیولې او خلک مې ووژل، اوس څه لرم؟ له ځانه کرکه لرم، پوهیږې! کرکه لرم او باور لرم ترڅو چې ژوندی یم خوښۍ به ونه وینم. مه کوه! مخکې له دې چې ناوخته شي، ټوپک دې تسلیم کړه چې کورته ولاړ شو، مور دې درته سترګې په لاره ده.

مصطفی څه ونه ویل، پلار یې کوټې ته بوت، خپل ټوپک یې له دیوال سره ودراوه، وروسته یې خپله کمپله په میخ راوځړوله د کیناستو په وخت یې پلار ته وویل:

- پلاره څوک ملګری درسره نه و؟

- یه.

سبحان دا وویل ، دیوال ته یې تکیه وکړه او سترګې یې په نادر کې خښې کړې. نادر د کوټې په بر کونج کې پلتری وهلې وه او سبحان ته منتظر و چې د دعا لاسونه پورته کړي. سبحان د تل په څیر د هغه پر زړه پوه شو لاسونه یې پورته کړل: خدای دې ټول مړي وبخښي.

نادر پخپله ږیره لاس راتیر کړ ویې ویل:

– سبحان خانه! روزګار ډیر خراب کړی یې، له کله نه چې له ما لیرې شوی او جلا شوی یې خوارو زار شوی یې، زه و ته سره همزولي یو، خو ته ترما ډیر زوړ شوی یې.

– که ستا زوی چا تبنتولی و، حال به دې ترما بدتر و.

نادر د ملنډو خندا وکړه، مصطفی ته یې مخ ور واړاوه:

- مصطفی خپل پلار ته دې ووایه چې دلته چا په زور نه یې ساتلی، ورته ووایه چې تا پخپله دا ځای ځان ته خوښ کړی دی، ورته ووایه چې که نګاره نه وای مړه شوې، ته به اوس زوم وې. ورته ووایه چې ما پخپله رمه پریښوده او ټوپک مې واخیست تر څو پخپله یو سړی شم.

مصطفی سر ښکته اچولی و او د ټغر خیرن تارونه یې په ګوتو کې مروړل.

– ولې چوپ یې؟ خبرې وکړه، پلار ته ځواب ورکړه. هغه فکر کوي ما دلته په زور راوستی یې.

هغه دا وویل او ځواب ته په تمه شو. مصطفی هماغسې چوپ و. د کوټې چوپتیا د دیوالي بخارۍ د سپرغیو ترق و تروق کله کله ماتوله. سبحان بې له دې چې د زوی د ځواب په تمه واوسي، اور ته ورنږدې شو تر شونډو لاندې یې وویل:

– څه فرق کوي پخپله خوښه راغلی یا تا راوستی، راغلی یم چې هغه بوځم، ښه به وي چې له مخې مې لیرې واوسې.

هغه دا وویل د دیوال له څنګه یې یو لرګی راواخیست پر هغه یې د بخارۍ لرګي سره سم کړل. اور نابېره زیات شو، نادر ته یې وویل:

– ښه نو د زینلیانو قتل ستا کار و؟

نادر د هغه ځواب ور نه کړ، خو پر ځای یې وویل:

– چای دې چې وڅښه بیا به خبرې سره وکړو، چای ناخورده جنگ نمی‌شود.

– زه جنګ و دعوو ته نه یم راغلی، راغلی یم چې په خوشحالي سره مصطفی کورته بو ځم.

نادر نابېره په غوصه شو، په تنده لهجه یې وویل:

– سبحان خانه! د پښتو خولې دې لا وچې شوې نه دي، سرزوري مه کوه، یو وار مې وویل چې چای چې وڅښو خبرې به سره کوو.

په دې وخت کې چایجوش په ایشیدو راغی، په اور باندې ترې لږ اوبه تويي شوې، مصطفی ټوپ کړ، پخپل لستوڼي یې په بېړه جایجوش له اوره ایسته کړ، پلار ته یې وکتل ویې پوښت:

- تور که شین چای؟

نادر په ټیټکي وخندل، وروسته یې بالښت تر خپل نس لاندې ځای پر ځای کړ سر یې وښوراوه او داسې آواز چې خندا یې پټوله په کنایه وویل:

- – تور چای څښې که شین؟

د وچ چای ښیښه د مصطفی په لاس کې هماسې پا تې شوه او نادر ته یې کتل. سبحان چې د نادر په کنایه پوه شوی و، بې حوصلې ډول یې وویل:

– هغه زوی چې د پلار ډوډۍ ونه خوري، هیریږي یې چې څه ډول چای وڅښي. تور چای واچوه! ددغې ګیدړې مکاریو ته مه ګوره.

مصطفی چایجوش ته لږ تور چای ور واچاوه، یوه شیبه وروسته یې په دوو پیالو کې چای واچاوه، لومړۍ پیاله یې خپل پلار ته او دا بله یې د نادر مخې ته کیښوده، ویې ویل:

– که اجازه وي زه به ورشم له ظاهر سره به مرسته وکړم.

نادر خپله پیاله ور پورته کړه د چای رنګ ته یې وکتل ویې ویل:

- پلار دې داسې چای څښنې چې د کوترې تر وینې هم ټینګ وي، دغه کمرنګه چای د هغه کوفت نه شي ایستلی.

سبحان د هغه ملنډو ته ځواب ورکړ:

– چورت مه وهه! چې لږ دم شي ستا د وینو غونډې به تک تور شي، چې څو پرله پسې پیالې مې وڅښلې ساه مې جوړوي.

سبحان دا وویل په زوړه یې وخندل. نادر ته په کتلو سره یې هغه پر دې وپوهاوه چې کنایې یې بې ځوابه نه پرېږدي. مصطفی د پلار په ځواب خوشحاله شو او له کوټې ووت. نادر پسې غږ کړ:

– ورشه د پسه ځیګر له ظاهره را واخله چې په دغه اور یې ستا پلار ته کباب کړم.

د مصطفی غږ چې د کوټې له کړلیچه تاویده واوریدل شو:

- په سترګو نادر کاکا!

د مصطفی له تلو وروسته نادر سبحان ته مخ واړاوه ویې ویل:

– اوس چې راغلی یې دلته پاتې شه، له تا د جنګ او جبهې تمه نه لرم، یوازې دې په دې سمڅو او قرارګاه پام وي. کله چې موږ نه یو، یو دوه هلکان دلته پرېږدم خو بیا مې هم اندېښنه وي.

سبحان په پیاله کې پاته چای په سر واړاوه په پیاله کې د چای اچولو په وخت یې وویل:

– وګوره سمې ستا وینې ترې جوړې شوې.

نادر د هغه خبره نا اوریدلې وبلله په ټینګار یې وویل:

– چورت دې ووهه، اوس دې چې تر دې ځایه زحمت ایستلی او دا دومره لاره راغلی یې، دلته اوسه. د مصطفی زړه به هم درسره ارام وي.

سبحان ددې خبرې په اوریدو سره د چای پیاله پر ځمکه کېښوده لکه د زمري ځای چې چا نیولی وي، وغورید:

- فکر مې کړی دی زه نور دې مردار جنګ ته نه راځم. کلونه کېږي چې زما لپاره جګړه پای ته رسیدلې. زه نور د لارې غل نه یم. تا هم غلطه کړې چې ټوپک دې را اخیستی دی او غره ته پورته شوی یې. زه کلونه کلونه په دې تورو غرو کې درسره یو ځای وم او پرې ښه پوهیږم چې د ټوپک له خولې ډوډۍ خوړل یعني څه او کومه بیه لري.

- ...

- تا یو ځل بیا ناحقې وینې توېې کړې، ته دا څو ورځې د مخه ولاړې ناحقې وینې دې توېې کړې، که ته له خپلې کورنۍ سره وای هیڅا به ستا د لور د تېښتولو جرآت نه و کړی. تا هغه وژلو ته ورکړه او لسګونه نور خواران دې هم د هغې لپاره قرباني کړل. د مصطفی خاطر آرامي ته ضرورت نه لري دا زما خاطر دی چې باید ارام شي، زه به هغه وخت ارام خوب وکړم چې مصطفی په کور کې د خپلې مور په څنګ کې وي.

نادر د سبحان خبره په خوله کې ور وچه کړه:

– سبحانه ته مړ يې، کلونه کېږي چې ته مړ يې او د يوه مړي غوندې په معلومه کې دې د کور په کونج کې ترياکو ته پناه ور وړې ده. ته خپله ماضي نه شې هيرولی، ځکه خو ترياک څکوې. ورشه يو ځل هنداړې ته وګوره، ستا شکل ګرځېدلی، رنګ دې الوتی. زه ستا د پيغورونو پروا نه لرم، هر څه چې وايې حق دې دی، زه او ته پخواني ياران يو. ستا کنځلې ما نه خواشينی کوي. هغه وخت چې لا زلميان و تا به دا ډول خبرې کولې خو ما به درته خندل. نن چې زه بې حوصلې کېږم، درد لرم، زما لور يې ووژله، زما نګاره يې وسوځوله. سبحانه! اوس چې دلته راغلی يې پيغراتې مه راته کوه، پرېږده چې زه خپل رنځ وګالم او لاره مې ووهم.

سبحان د هغه خبرې وانه ورېدې، د ديواله هغې ډبرې ته ځير و، چې لا پرې د هغه سړي د تورو وينو رنګ معلومېده چې يو وخت دوی دواړو وژلی و. يوازې يې د هغه لاسونه تړلې و او دلته يې غورځار کړی، هغه د ډبرو له ديوال سره لګېدلی و او ځای پر ځای مړ شوی و. د سبحان بدن ولړزيد او له کلونو وروسته يې پر هغه سړي زړه وسوځيد. هغه وخت يې څومره په آساني او ساده ګۍ سره خلک وژل، د عاطفې او رحم په نامه يې څه نه پېژندل، وژل يې او چور کول يې او بله ورځ يې هيرول. خو اوس داسې نه و، سبحان د يوې څپېړې د وهلو توان نه درلود، اوس يې پر انسان او حيوان زړه سوځېده. زړه سوانده شوی و، غوږنتل يې بل څوک واوسي، غوښتل يې شل کاله دمخه سبحان ونه اوسي. نه يې غوښتل نور ناحقه وينه تويې کړي. له ځانه سره به يې ويل: نادره زما له لارې چپ شه، پرېږده چې خپل زوی راسره بوځم، زه ستا پر کار غرض نه لرم . سړی وژنې، چور کوې، لارې نيسې، هر څه چې کوې په تا پورې اړه لري. زه ستا مخه نه نيسم. اوس زه راغلی يم تر څو چې مصطفی را نه کړې، نه دې پرېږدم چې په آرامي مړۍ تر ستوني تيره کړې. نن يې ستا لور ووژله سبا دې د کورنۍ بل غړی در وژني. اوس هغه وختونه غوايي خوړلې چې هر څه به دې کول چا به دې مخه نه نيوله. اوس بل وخت او بل زمان دی. په لاره نيولو او ناحقه وينو تويولو خلک نه شې ډارولی، اوس د خلکو سترګې او غوږونه خلاص شوي دي. يوه ورځ نه يوه ورځ در پسې راځي او نور ختم يې. زه نه غواړم زوی مې له تا سره تباه شي، هغه ځوان دی لا ډېر کلونه په مخ کې لري چې د نورو غوندې بې ډاره ژوند وکړي، واده وکړي او کورنۍ ولري. نه، نه پرېږدم د مصطفی برخليک ستا په ټوپک پورې وتړل شي، هغه ولم، که زما په مرګ هم تمامه شي هغه له دې ځايه ژغورم.

په دې وخت کې د کوټې دروازه خلاصه شوه او د باندې سړه هوا له مصطفی سره يو ځای چې د پسه ځيګر په لاس کوټې ته راننوت، راغله. له ځيګر څخه وينې بهېدې، تاو ترې پورته کېده او دواړو خواوو ته رګونه يې لا غورځېدل نادر د ځيګر په ليدو سره له ځايه را پورته شو د مصطفی هماغه لاس يې ونيو، نادر ته يې وويل:

– اوس د ځيګر کباب در کوم چې بيرته په حال شې.

سبحان څه ونه ويل، هغه د ازوغ له منځه دوه نري لرګي را جلا کړل ځيګر يې پکې وپيايه او پر اور يې ونيو، ځيګر د سترګو په رپ کې رنګ بدل کړ او په کوټه کې د کباب بوی پورته شو. د نادر رنګ واوښت او د کباب له بوی سره يې هغه بوی ور ياد شو چې د نګارې له سوي بدنه پورته شوی و. د مخ کرښې يې سره واوښتې، د غاړې رګونه يې وپړسيدل، خو ژر يې  بيرته ځان سم کړ له ځانه سره يې وويل: خدايه! همت راکړې، مه مې پرېږده چې سبحان ته کمزوری ښکاره شم.

سبحان چې ډېر وږی شوی و، بې طاقته شو خو ځان یې ناګاره واچاوه. تر سترګو لاندې یې ځیګر ته وکتل او هغه وخت یې وریاد شو چې هره ورځ به یې د خلکو له رمو څخه مزي پسونه را جلا کول او قرارګاه ته په رسیدو سره به یې کباب پخاوه.

نادر په داسې حال کې چې خپله ناراحتي یې پټوله سبحان ته یې مخ واړاوه، ویې پوښت:

– د پخوا غوندې یې نیم خام خورې؟

– که د غلا مال نه وي، هو نیم خام یې خورم.

نادر وخندل ویې ویل:

– نه، ستا په سر پخپله مو ساتلی دی.

دایې وویل په زوټه یې وخندل کباب یې له اوره ایسته کړ، ویې ویل:

– راځه دا هم ځیګر کباب تر څو چې پسه تیاریږي دا وخوره چې لږ سم شې.

سبحان له ځایه را جګ شو، ډوډۍ یې راواخیسته نادر ته یې وویل:

– پر ډوډۍ یې کیږده!

نادر ځیګر د ډوډۍ پر سر کیښود، سیخونه یې ترې وایستل، مالګه یې د سبحان د لاس خواته کیښوده ویې ویل:

– هه مالګه هم پرې وشینده. یو څه یې پر ځیګر وشیندله ویې ویل:

– وخوره ته یې هم وخوره، وروسته سره خبرې کوو. مصطفی در څخه ولم له دې کبابونو چې هر څومره راته پاخه کړې له خپله هوډه نه په شا کیږم.

– هغه له نادره مالګه را واخیسته

نادر ډوډۍ ور جلا کړ، ځیګر لا وینې لړلې او ګرم و، ویې ویل:

– هه وخوره، ډېر ګرم دی، ډېر مه سره ایشه هر څه به سم شي.

هغه دا وویل او مړۍ یې خولې ته یووړه او په داسې حال کې چې ګرم ځیګر یې په خوله کې دې خوا ها خوا کاوه چې خوله یې پرې ونه سوځي، سبحان ته یې په اشاره د ډوډۍ خوړلو بلنه ورکړه. ځیګر ته یې لاس ور اوږد کړ لومړۍ ګوله یې خولې ته یوړه بیا یې د نادر سترګو ته وکتل، په هغو کې یې تیر شرارت بیا ولید، له ځانه سره یې وویل: زه ستا لعنتي په ژبه ښه پوهیږم. هغه څه چې وایې او هغه څه چې کوې ځمکه او آسمان سره فرق لري.

هغه دواړه د ځیګر کباب په خوړلو بوخت ول چې ناڅاپه د کوټې دروازه خلاصه شوه. مصطفی په داسې حال کې چې نازنینه یې په غیږ کې وه کوټې ته راننوت. سبحان هغې ته وکتل او د کباب مړۍ یې په لاس کې په هوا پاتې شوه. مصطفی ددوی ترڅنګ کیناست او نازنینه یې پر خپل زنګانه کینوله، نادر ته یې مخ ور واړاوه:

– له بیګا تر اوسه زګیروی کوي، تبه لري او کله کله ټوخیږي هم.

نادر د نازنینې پر تنده لاس کیښود ویې ویل:

– حتماً زکام شوې ده.

سبحان چې لاس يې لا خولې ته نږدې نيولی و او نجلۍ ته يې په حيراني کتل، وپوښتل:
– دا بيا څوک ده؟
نادر مصطفی ځواب ورکولو ته پرې نه ښود، په بيړه يې وويل:
– د سياوشيانو له منګولو مو وژغورله، ژر به يې خپلې کورنۍ ته ور وسپارو.
سبحان د نادر پر ځواب قناعت ونه کړ، مصطفی ته يې وويل:
– له تا مې وپوښتل، دغه نجلۍ له تاسره څه کوي؟
– پلاره! نادر کاکا رښتيا وايي له سياوشيانو څخه مو ونيوله په دې دوو دريو ورځو کې به يې خپلې کورنۍ ته ورتسليم کړو.
سبحان نازنينې ته وکتل په ناباوري يې وويل:
– خدای دې وکړي چې رښتيا وي، که دې دروغ ويلي و، بيا دې ګيله له ځانه کوه.
نازنينې خپلې سترګې په سختۍ خلاصې کړې، د سبحان زيړې او سره تاو شويو بريتونو ته يې وکتل، ترې وډاره شوه په مصطفی پورې ونښتله، مصطفی هغې ته ډاډ ورکړ:
– نازنينې ډارېږه مه، دازما پلار دی.
هغه دا وويل او بيا يې له نازنينې وپوښتل:
– کباب خورې؟
نازنينې ځواب ور نه کړ، اوښکې يې توې شوې، لاسونه يې د مصطفی په غاړه کې واچول، ورو يې وويل:
– هو.
مصطفی د ځيګر يوه وړه ټوټه ور جلا کړه او د نازنينې خولې ته يې ورنږدې کړه:
نازنينې خوله خلاصه کړه په داسې حال کې چې له سترګو يې اوښکې بهيدې، د ډوډۍ په ژولو پيل وکړ. نازنينه لړزيده او له سترګو يې اوښکې روانې وې. سبحان چې نازنينې ته کتل زړه يې پرې وسوځيد. هغه د ځيګر ټوټه بيرته کېښوده، له ځايه را پورته شو خپله کمپله يې را واخيسته او په بيړه دباندې ووت. نادر پسې کتل کله چې دروازه وتړل شوه، مصطفی ته يې وويل:
– نه شوای کيدای چې دا اوس دې هغه نه وای راوستې چې د پلار له ستونې دې په ارامي سره څو مړۍ تيرې شوې وای.
– څه فرق کوي اخير يې هم نازنينه ليدله. موږ بايد هغه ته ويلي وای چې هغه څوک ده او دلته څه کوي.
نادر د ډوډۍ يوه ټوټه ورجلا کړه نور کباب يې مصطفی ته پريښود ويې ويل:
– واخله ته او دا نجلۍ يې سره وخورۍ زه ځم وګورم چې ستا ترياکي پلار څه کوي.
هغه دا وويل او له کوټې ووت.

سبحان له کوټې څو متره لیرې شوی و، د درې په خوله کې د تورې او غټې ډبرې خواته روان و. نادر په چټکو ګامونو ځان ور ورساوه:

– چیرې ځې راځه چې ظاهر ته ورشو او د غوښې په ټوټه کولو کې ورسره مرسته وکړو.

– ما څو شیبې یوازې پرېږده ته ورځه زه ورروسته درځم.

نادر هغه همداسې پرېښود پخپله د پسونو د جارګي خواته ولاړ بیرته یې د سبحان په خوا ور وکتل سبحان تورې ډبرې ته رسیدلی و او تر هغې لاندې وغځید تر دې ډبرې لاندې د کوټې په اندازه ځای و. پخوا دغه ځای د سبحان د یوازیتوب ځای و او د ګرمي په موسم کې به د هغې تر یخ سیورې لاندې پریووت. کله چې هلته ورسید سترګې یې پټې کړې تر څو یې چې کولی شوای ویې ژړل: ناوخته راغلم کار له کاره تیر دی مصطفی نور له نادر سره په ظلم کې شریک شوی دی هغه زما په پله پل ایښی دی له ځانه یې دوهم سبحان جوړ کړی دی، هیڅ فکر مې نه کاوه چې یوه اته ـــ لس کلنه ماشومه په آسماني غره کې ووینم.

موږ هیڅ وخت دې غره ته کوم ماشوم نه و، راوستی. دا لعنتي دومره له خدایه نه ویریږي چې اوس یې ماشوم تښتونه هم شروع کړې او مصطفی یې هم ورسره شریک کړی. یه مصطفی نور له دې لعنتي سره نه شم پرېښودلای، هغه ددغه ځناور له منګولو ژغورم که زما سر هم ولاړ شي مصطفی نه پرېږدم چې دده د چټلیو شریک واوسي. هغه دا وویل او اوښکې یې په لاس پاکې کړې هغه غار ته یې وکتل چې اوبه تر ځڅیدې، څاڅکی به شوې او معلومه ټګاب یې زیږاوه. اوبه به کله چې له غټې ډبرې تیریدې، واورې ته رسیدې او سوکه تر واوره لاندې شوییدې او ژورې خواته یې لاره پرانیستله. سبحان پخوا څو ځله دې منظرې ته کتلې و او ښه پوهیده چې له دغې ډبرې څخه د اوبو راتلل خلاصیده نه لري.

هغه اوبه وڅښلې لاسونه او پښې یې ومینځلې او هلته کیناست له هغه ځایه یې سره پیچلې درې ته وکتل دا ټوله لاره راغلی و او داسې ځای ته رسیدلی و چې لږ خلک ترې خبر وو، آیا کیدای شي له همدې لارې له مصطفی ته سره یو ځای کورته ولاړشي؟ د خپلې پوښتنې ځواب یې ور نه کړ. لاس یې جیب ته یووړ، د تریاکو یوه ټوټه یې را جلا کړه او خولې ته یې واچوله، ورو یې وویل: خدایه ته قوت راکړه!

نادر د پسونو جارګي ته ورسید. ظاهر او عثمان هغې لارې ته نږدې چې د نګارې قبر ته تله، د غوښې په ټوټه کولو بوخت ول. د پسونو دغه ځای هیڅ وخت بې پسونو نه و په ژمي کې له یخنۍ څخه د پسونو د ژغورنې لپاره یې د هغه پر ډبرین دیوال توره خیمه هواره کړې وه، په جارګي کې اته پسونه د خپل چاغ او مزي ملګري له جلاوالي په بې خیالي د وښو په خوړلو بوخت وو. نادر په دې باور و چې په غره کې د پسونو نشتوالی په دښته کې د اوبو نشتوالی دی. په همدې خاطر یې غر هیڅ وخت بې پسونو نه و. کله به چې د پسونو شمیر څلور پنځو ته راټیټ شو تر څو د لومړۍ رمې په راسریدو سره څو پسونه ترې راجلا کړي او دلته یې ورته راولي.

نادر چې هلته ورسید له خپل خوریې عثمان څخه یې وپوښتل:

– کوم یو مو حلال کړ؟

عثمان چې په وینو لړلې چاړه په خوله کې ټینګه نیولې وه او د کلمو په راټولولو بوخت و، هغه یې کیښودې ویې ویل:

– هغه تور خصي مو حلال کړ ډېره نازکه غوښه لري، خام خوړل کیږي.

– د کلمو پیېه یې په مغز او لم ډک کړه چې سبحان بې حاله کړي او مصطفی هیر کړي.

هغه دا وویل او په ټټکي یې وخندل، دومره یې وخندل چې غړ یې په دره کې را تاو شو، له غره سره په لګیدو سره بیرته را وګرځید، د تورې غټې ډبرې لاندې ننوت او د سبحان تر غوږه ور ورسید. سبحان چې د تریاکو له خوړلو وروسته یې بدن سست شوی و، تر شونډو لاندې وویل: وخانده بې غیرته غله.

عثمان د ظاهر همزولی او د نادر ډیر باوري کس ګڼل کیده. نادر خپلې زیاتې شپنۍ خونړۍ

حملې د هغه په وسیله تر سره کولې او ظاهر چې نیمه سواد یې درلود د نادر حساب و کتاب په دفترچه کې ثبتول. په لارو نیولو کې به یې لږ ګډون کاوه او نادر هم ډیر نه په عذاباوه. هغه به هره میاشت د غلاوو او لارو نیولو درامد حساباوه او د نادر له اجازې وروسته به یې یوه اندازه د ګروپ پر غړو ویشلې. ظاهر د ډلې خزاندار و.

عثمان چې د کلمو پیبیه ډکه کړه، ودریده ملا یې سیخه کړه، نادر ته یې وویل:

– له سهاره تر اوسه لطیف سیاوشاني دوه واره په مخابره کې اړیکه ونیوله او په درې بجې یې وعده ایښې چې له تاسې سره خبرې وکړي.

د نادر سترګې چې ډیر لیرې یې د څو زرکو د آواز ځای معلوماوه، ناببره عثمان ته ور واوښتې:

– څه دې وویل؟ څوک و؟

– لطیف سیاوشانی و، ویل یې عاجل کار لري پوره په درې بجې درسره خبرې کوي.

– حتمآ خپلې پیسې غواړي. لس زره ډالره یې پوروړی یم او مصطفی سبحان زاده دلته زما ترخنګ ناست دی، د ځیګر کباب یې چې وخوړ، پیسې راکوي!

ظاهر او عثمان وخندل. عثمان ورو وویل:

– اجازه راکړه له زوی و پلار څخه دې یو ځای بې غمه کړم.

نادر د هغه په وینو لړلې چړې ته وکتل ویې ویل:

– له تا لکۍ پرې کړې شک هم نشته چې زما خوارکي انډیوالان لکه پسه حلال کړې.

– ماما جانه! ستاسې د سترګو مازې اشاره او زما د پښو پر ځای په سر منډه.

– پوهیږم، پوهیږم چې ستا چاړه ډیره تیزه ده، خو فکر نه کوم چې ستا چاړه دې خپلوان هم وخوري.

– که خپلوان راته بلا شي، بیا یې نو دا چاړه ډیر ښه خوري نادر ماما!

– تر اوسه لا څوک نه دي راته بلا شوي. زه له سبحان سره په ژبه پوهیږم، زه کلونه کلونه له هغه سره اوږه په اوږه له دې غره هغه غره ته تللی یم. له هغه سره به خبرې وکړو که لا یې سر ټمبګي کوله بیا به فکر پرې وکړو چې له هغه سره څه وکړو. اوس نو لطیف راته بلا شوی او خپل لس زره ډالر غواړي. نن ماښآم پلار او زوی دواړه کینوم،

مصطفی ته وایم چې د نجلۍ کار یو طرفه کړي. پلار ته یې د نجلۍ په تسلیمولو سره لس زره ډالر تر لاسه کړي چې د لطیف له شره بې غمه شو. که لطیف کوم للو پنجو وای بیا مې ری نه پکې واهه، ته مې ور لیږلې چې د څټ له خوابې حلال کړې، خو لطیف ساده سړی نه دی په یوه ګانټه کې هرات تر پښو لاندې کوي. دری سوه سمبال ټوپکیان لري، پیسې یې بې حسابه دي. اصلاً د هرات ټولې پیسې د هغه دي هر تجار ته چې احوال ور ولیږي، متیازې یې ځي او په دواړو لاسو پیسې ورته راوړي. موږ له هغه سره مقابله نه شو کولی. پوهیږې دغه نجلۍ یې په رڼا ورځ له مهتاب واټ څخه چې په یوه سر کې یې د امریکایانو اډه ده او په بل سر کې یې امنیتي حوزه ده، را وتښتوله.

نادر ډا وویل او غلی شو. ظاهر او عثمان چې د نادر د خبرو تمامیدو ته سترګې په لاره وو. د پسه پوست یې، چې پکې غوښه ټوټه ټوټه شوې وه، راټول کړ. او د کوټې په منځ کې چوترې ته، هغه ځای چې د کباب خوړلو لپاره تیار شوی و، روان شول.

نادر هم د پسه سر و پښې را واخیستې او په هغوی پسې روان شو. کله چې چوترې ته ورسیدل، نادر د پسه سر و پښې پر ځمکه کیښودې ویې ویل:

– زه ځم چې د سبحان خان احوال واخلم تاسې ترتیبات ونیسئ.

نادر د تورې ډبرې په لوري رهي شو، وریځې سره شیندل شوې وې او کله کله به لمر ښکاره شو د لمر وړانګې به چې په واوره ولګیدې سترګې به یې بریښولې. سبحان د نادر د پښو ښکالو واوریده.

نادر له لیرې غږ وکړ:

– سبحانه څه شوې؟ لکه چې زړه دې نه دی چې له غاره راووځې؟

سبحان چې لا پخپل بدن کې د تریاکو سستي احساسوله، ځواب یې ور نه کړ. سترګې له ډبرې څخه په را څڅیدونکو څاڅکو کې خښې کړې وې د اوبو له ډمبکو څخه یې، چې په ځمکه کې د کوچنې کندې په اوبو کې جوړیدې خوند اخیست. نادر تر ډبرې لاندې له واړه کڅوړې سره نږدې کیناست، سر یې ټیټ کړ او د ډبرې لاندې یې وکتل. سبحان ډبرې ته تکیه وهلې وه او لکه نادر یې چې نه وي لیدلې د اوبو څاڅکو ته یې کتل.

– سبحانه راځه چې ځو تر دغې تورې ډبرې لاندې زکام کیږې.

سبحان ونه خوځید ویې ویل:

– ځه، زه لږ ناوخته درځم.

– سبحان خانه! تریاک دې وهلي؟

– په تا پورې اړه نه لري.

– لري یې سبحان خانه، لري یې. زه ستا دوست یم پر تا مې بده ورځ نه پیرزو کیږي.

– زما حال بد دی، ځکه خو تریاک څکوم. ستا زوی هم چې څوک اسیر کړي، تریاکي به شې.

– سبحانه ستا زوی چانه دی تښتولی، ولې د شیطان له خره نه را کوزیږې!

– زه د شیطان پر خره سپور نه یم. ته سپور یې نادره! پوه شوې؟ ته له شیطانه، شیطان یې. زه تا ښه پیژنم.

نادر ورغی د سبحان لاس یې ونیو ویې ویل:

– پاڅه چې ځو، ټول هلکان ما وتا ته معطل دي، ځه چې ډېر ښه کباب یې تیار کړی دی.
سبحان په داسې حال کې چې پخپلو اوږو کمپله سموله ویې ویل: ځه.
دواړه له تورې ډبرې راووتل. نادر چې غوښتل یې یو ځل بیا د مصطفی په مخ کې د هغه له پلار سره خبرې وکړي، وویل:
– ساړه دې شوي، تر دغې لعنتي ډبرې لاندې د سړي هډوکي یخ وهي، ځه کوټې ته ولاړ شو ځو شیبې اور ته کینو بیا د کباب خوړلو ځای ته ورځو.
سبحان په پټه خوله د هغه خبره تایید کړه او د کوټې په لوري روان شو.
کوټه ګرمه وه، اور نورې لمبې نه کولې د بخارۍ په منځ کې د انګار کوټ تر سترګو کیده مصطفی لا د نازنینې څنګ ته ناست و او هغې ته یې د باز او کوترې کیسه تیروله.

د نازنینې تبجنې سترګې نیمې خلاصې وې او په داسې حال کې چې د مصطفی کیسې ته یې غوږ نیولی و د پلار، مور او ماما په باره کې یې فکر کاوه. هغوی یې لیدل چې په کوڅه کې په ویره ویره منډې وهي او دا لټوي. هغې هغه شیبه ور په یاد کړه چې تور موټر د هغې او ددې د خورلڼو خواته دریدلی و او وسله وال کسان ترې راکوز شوي او ددوی په خوا یې منډه را اخیستې وه له دې فکرونو سره هم مهاله د مصطفی کیسه هغه ځای ته رسیدلې وه چې باز خپلې منګولې خلاصوي او د کوترې بچی(ارکوټی) له ځالې څخه تېښتوي. د نازنینې له خولې ناڅاپه چیغه ووتله له توشکې یې سر راپورته کړ لاسونه یې بې ارادې خلاص شول، مصطفی یې تر ستوني ونیو. په دې وخت کې دروازه په شدت سره خلاصه شوه. لومړی نادر او بیا سبحان کوټې ته رانوتل. نازنینه بیا سخته وډاره شوه، ژبه یې بنده بنده شوه. نادر پوښتنه وکړه: خیریت دی؟ مصطفی ځواب ورکړ: تبه لري، لیونتوب کوي.
سبحان د بخارې څنګ ته کیناست دیوال ته یې ډډه ووهله په نهیلۍ سره یې وویل:
– ستاسې حال تردې بدتر ښه دی. په تاسې کې د مردۍ کومه نښه نشته، خوارکې ماشومه له خپلې مور وپلاره جلا کوئ چې پیسې په لاس راوړئ، دا پیسې د سپي تر... هم مرداري دي.
نادر په خندا وویل:
– دا غول خو تا هم خوړلي دي!
– هو خوړلي مې دي، خو نور یې نه خورم، توبه مې کړې ده.
– سبحانه ځو واره درته ووایم دا نجلې مورږ نه ده راغلا کړې، هغه لطیف سیاوشاني اختطاف کړې وه چې مورږ له هغه څخه ونیوله اوس غواړو مورو پلار ته یې ور تسلیم کړو.
هغه دا وویل، مصطفی ته یې مخ واړاوه:
– مصطفی څه ته منتظر یې؟ څه وخت نجلۍ ور ولې؟
– نادر کاکا ما پرون شپه له عتیق سره ټیلیفوني خبرې وکړې، درې ورځې وروسته له بادغیس څخه حرکت کوي، موټر یې چې مسجد چوبي ته راورسید، نازنین ور تسلیموم چې ښار ته یې یوسي او کارونه سم کړي.

نادر چې د عتيق د نوم په اوريدو سره د مصطفی له تدبيره راضي برېښيده، وويل:

– سبحان خانه اوس ډاډه شوې؟ درې ورځې وروسته خبره ختمه ده، نجلۍ بې خپلې کورنۍ ته سپارل کيږي.

– سبحان د ملنډو په خندا وويل:

– زه هيڅ وخت په ليوه باور نه کوم.

– نه ولې کاوه دې، شل کاله له ماسره يو ځای اوږه په اوږه په ډاډ سره په غرونو کې ګرځيدې.

– هغه وخت زه پخپله هم ليوه وم.

نادر غلی شو. د سبحان له خبرو په تنګ شوی و. زړه يې غوښتل ور ټوپ کړي او تر ستوني يې ونيسي او دومره يې غاړبوجن کړي چې ساه يې وخيږي. خو مصطفی او نازنيني ته يې وکتل په آرامي يې وويل:

– نجلۍ د باندې مه وړه چې هوا سړه ده، درې ورځې نور هم زحمت ورسره وکړه، انشاالله کارونه سميږي.

نازنينې چې د مصطفی پر اوږه سر ايښی و، ورووړو يې اوښکې تويولې. د هغوی خبرو يې زړه نازک کړی و، فکر يې وکړ چې لا مور و پلار ته ور سپارلو کې يې دروغ وايي. کله يې چې د سبحان خبرې واوريدې احساس يې کړه چې دغه زوړ سړی سره له دې چې خواشيني او وحشتناکه څيره لري خو بيا هم مهربانه زړه لري. خو په هيڅ يې باور نه شوای کولی، ټول کسان يې چې ليدل ترې ويريدله. هغوی څو ځله د ليوه کلمه په خوله راوړې وه، آيا دوی په رښتيا ليوان دي؟ آيا مصطفی هم ليوه دی؟ نه مصطفی هغه نازولې وه، مصطفی هغې ته ډاډ ورکړی و او ژمنه يې ورسره کړې وه چې هغه مور و پلار ته ورولي، نه شوای کيدای چې هغه دې ليوه وي. هغې د ليوه او وزې کيسه اوريدلې وه، پوهيده چې ليوه ځان د وريو مور معرفي کوي او راځي وري او سيرلي يو په بل پسې خوري. هغې اوريدلي و چې د وزګوريو مور په يوه جنګ کې د ليوه ګيډه څيروي او خپل بچيان ترې راباسي، خو ولې يې مور او پلار نه راځي؟ ولې دا د ليوانو له دې ګلې څخه نه ژغوري. فکر يې وکړ ښايي تللي وي چې خپل ښکرونه تيره کړي، خو مور و پلار يې ښکرونه نه لرل چې هغه تيره(تيز) کړي.

نو مصطفی هم ليوه دی، يو مهربانه ليوه چې په يوه موقع کې به هغه په کراري سره وخوري. بنيادمان ليوان کيدای شي؟ پخپله يې دمخه وويل چې ليوان دي. نو هغه به ډير ژر وخوري ناڅاپه يې په ذهن کې د ليوانو لويه ګله راغله، چې تيره غاښونه يې لرل او له خولو څخه يې ژبه راوتلې وه چې اوبه ترې څڅيدې، ليوان رانږدې کيدل، دومره ورنږدې شول چې د هغوی بد بوی يې احساس کړ او د هغوی لاړې پرې تويې شوې، ويې غوښتل چيغه کړي، ويې غوښتل مور ته ور ږغ کړي، خو له ستوني يې آواز نه راووت. ژبه يې بنده شوې وه او هرڅومره يې چې د چيغو کولو هڅه وکړه ويې نه شوای کولی. د نازنينې تبه زياته شوې وه او ټول بدن يې سوځيده. مصطفی چې نازنينه يې لا په غيږ کې وه، فکر يې وکړ چې د اور سپرغۍ يې په غيږ کې نيولې. د هغې په لمده غاړه او بدن يې لاس راتير کړ په انديښنه يې وويل:

– د نجلۍ حالت ښه نه دی. تبه يې زياته ده ټول وجود يې خولې خولې دی.

نادر تشویشونو پسې واخیست، فکر یې وکړ د لسو زرو ډالرو د له لاسه تللو په درشل کې دی.له ځایه راولاړ شو او د هغې په غاړه یې لاس کېښود، لاس یې وسوځید او په بیړه یې لاس بیرته ایسته کړ. وویرید او ناڅاپه په دې فکر کې شو چې نجلۍ مړه کیږي او لس زره ډالره به لطیف ته تاوان ورکوي، وارخطا شو ویې ویل:

– مورې خو درمل لرل، هغه دوا څه شوه؟

مصطفی چې د درملو له شتونه خبر نه و، وویل:

– نه پوهیږم شاید له ظاهر سره وي.

– هله ورشه ژر ظاهر را خبر کړه.

نادر دا وویل خو ژر پښیمانه شو:

- نه زه پخپله ورته غږ کوم.

له ځایه را پورته شو دباندې ووت او له دروازې څخه یې ظاهر ته ور غږ کړ، بیرته راوګرځید او په کوټه کې یې په قدم وهلو پیل وکړ. څو شیبې وروسته ظاهر راغی ویې ویل:

– دادی راغلم نادرخانه.

– دوایانې دې چیرې ایښې دي؟

– کومې دواګانې؟

– څو شپې مخکې چې زما په زړه درد و.

– له ماسره دي.

– راوړه چې نجلۍ سخته تبه لري.

– نادر کاکا! ښایي ستا دوا د هغې تبې ته کومه ګټه ونه لري، خو زه هغه زمری چاپ ګولۍ لرم، د سر درد او تبې لپاره ډیرې ښې دي.

– ښه ورشه ژر یې راوړه.

– په سترګو.

ظاهر ولاړ او څو شیبې وروسته یې دوه پاکټه ګولۍ راوړې، نادر ته یې ورکړې ویې ویل:

– دا یو یې شیر چاپ ګولۍ دي د سردرد او تبې لپاره ډیرې ښې دي او دا نورې یې هم د زکام لپاره دي.

نادر په بیړه د هغه له لاسه تابلیټونه واخیستل او د مصطفی مخې ته یې واچول:

– هه واخله له دواړو څخه یې ورکړه، که پر هغې څه وشول د تاوان په سر تاوان دی.

مصطفی تابیلټونو ته وکتل ویې ویل:

– دې ماشومې ته په یوه ځای دوه ګولۍ زیاتې نه دي؟

- ښه که زیاتې وي یوه اوس ورکړه یوه بیا دوه ساعته وروسته ورکړه.

سبحان له ځايه راولاړ شو او له چايجوشه يې ځان ته يوه پياله چاى واچاوه، له پاکټه يې د ريزش يوه ګولۍ را جلا کړه مصطفى ته يې ورکړه ويې ويل:

– واخله دا ورکړه.

مصطفى د نازنينې سر له خپلې اوږې را جلا کړ د هغې پر تندي يې لاس راتير کړ ويې ويل:

– نازنين جانې! دا ګولۍ وخوره چې په خير روغه شې.

نازنينې خپلې له اوښکو ډکې سترګې يو څه خلاصې کړې ګوليو ته يې وکتل. مصطفى د هغې په لړزيدلو شونډو ګولۍ کيښوده د چاى پياله يې راواخيسته ويې ويل:

– واخله وخوره.

نازنينې په سختې سره له يخ چاى سره ګولۍ تر ستوني تيره کړه، بيرته يې د مصطفى په اوږه سر کيښود. مصطفى نجلۍ ورو په توشکه کيښوده، خپل پټو يې پر هغې هوار کړ، ورو يې وويل:

– نازنينې لږ ويده شه! زه دلته ستا تر څنګ ناست يم.

په کوټه کې چوپتيا خوره وه. سبحان د خپل زوى د ژغورنې په باب فکر کاوه، نادر د لطيف او له هغه سره د خبرو او مصطفى په مات زړه د نازنينې او هغې غوټې په اړه فکر کاوه چې د پلار په راتلو سره يې په کارونو کې لويدلې وه.

دروازه پخپلې هميشنۍ غنګا سره خلاصه شوه دا ځل عثمان د کباب له بوى سره يو ځاى کوټې ته راننووت ويې ويل:

– ماما جانه کبابونه مې په اور کيښودل.

نادر د خپلو چورتونو له ژورتيا راووت او د کباب له بوى سره والوت:

– د نګارې بوى! نګاره کبابوي! مه پريږدئ چې لور مې وسوځوي.مه پريږدئ چې کباب شي. زه تاسې ټول وژنم، که زما د لور يوه ګوته وسوځي تاسې ټول په راکټ ولم. خايينانو، زما لور مو کباب کړه؟!

هغه دا وويل خپل دراګنوف يې را واخيست دباندې يې منډه کړه. سبحان، مصطفى او عثمان په وارخطايي پسې منډه واخيسته. نادر مخامخ چوترې ته ورغى د منقل ډبره يې په لغته ووهله او د کباب سيخونه يې ايسته وغورځول، د ټوپک قيد يې وواهه، له خولې ځګونه باديدل، چيغه يې کړه:

– چا زما لور کباب کړه؟ چا زما لور په اور کيښوده؟ بې ناموسانو مخکې له دې چې ستاسې له کونې مرمۍ وباسم خبرې وکړئ! ياالله وواياست، چا زما لور ته د لاس ور وړلو جرآت وکړ؟

ظاهر او مصطفى په دوو کسو هغه د شا له خوا ونيو، عثمان ورغى چې ټوپک يې له لاسه واخلي، هغه عثمان ته نږدې دوه پرله پسې مرمۍ وويشتې، مرمې د عثمان پښو ته پر ځمکه ولګيدې او په واوره کې يې کنډى جوړ کړ. نادر په غوصه وويل:

– مخ ته مه راځه چې سورى سورى به دې واچوم!

ظاهر او مصطفی د شا له خوا د هغه لاسونه د ځانونو په خوا ټینګ ور تاو کړل، هغه چې هر څومره زور وواهه ویې نه شوای کړای ټوپک په لاس کې سم کړي. عثمان چې ولیدل نور خطر ورته نشته، ورغی د هغه له لاسه یې ټوپک په زور واخیست ویې ویل:

– ماما په سد شه! نګاره هلته پورته خبنه ده. آرامه ویده ده ولې غلط فکرونه کوې؟

نادر یې چې لا یې د خلاصیدو کوښښ کاوه، یوه څنګ ته کړ، عثمان ولاړ له واورو څخه یې د پسه سر او پښې را واخیستل، نادر ته یې راوړل ویې ویل:

– ماما دادی وګوره موږ ستا په امر پسه حلال کړ، دایې هم سر او پښې.

نادر د پسه پرې شوې او په وینو لړلې غاړې ته وکتل وډار شو، د کوټې دیوال ته یې ځان تکیه کړ ویې ویل:

– ژر یې یوسه! لیرې کړه دا نجس! نګاره څه شوه؟

– ماما جانه! نګاره هلته پورته خبنه ده، کراره ویده ده.

عثمان دا وویل او دپسه سر او پښې یې ایسته و غورځول. سر و ګرړید، په واروه کې یې پوزه خبنه شو او ودرید پښې یې شاوخوا پرتې وې. د نادر سترګې د پسه له سره بلې خواته نه اوښتې.

سبحان په یوه ډبره ناست و په داسې حال کې چې لاسونه د سترګو د پاسه نیولي وو، نادر ته یې کتل، په زړه کې یې ویل: لیونی شوی دی. دې وحشي خپل عقل بايللی دی. زوی مې باید ډیر ژر دده له منګولو وژغورم. دا لیوه اوس لیوني سپي ته ورته دی. کله چې لیوه لیونی شي خپل او پردي خوري. باید مصطفی ترې خلاص کړم.

نادر سوکه سوکه په خود شو، سترګې یې د پسه له سره واړولې او سبحان ته یې کتل په ملنډو یې وویل:

- سبحان خانه! وډار شوې؟ د کبابو میله دې ګډه وډه شوه؟

سبحان چې غوښتل څه ووایي، وخت یې ورنه کړ:

– چورت مه خرابوه، نس دې مړوم.

هغه دا وویل وروسته یې عثمان ته امر وکړ چې پاتې غوښې په دیګونو کې واچوي او یخني تیاره کړي او هماغسې چې آرام له ځایه را پورته کیده سبحان ته یې وویل:

- راځه چې کوټې ته ولاړ شو چې بې کمپلې دې یخني کیږي، اوس ته راباندې تاوان نه شې او زکام دې ونه نیسي.

هغه دا وویل د کوټې په لوري رهي شو، په لاره یې په ټیټکي وخندل.

یو ساعت وروسته ټول له ټوکر څخه په جوړ شوي دسترخوان سره راټول وو چې غوښنه پکې انبار شوې وه، نادر ته یې سترګې نیولې وې چې ډوډۍ ته لاس ور اوږد کړي. نازنینه هم چې اوس یې سر یو څه سپک شوی و، د مصطفی خواته ناسته وه. او لمر سوځلو، ږیوررو او د خیرنو پټکیو لرونکو سړیو ته یې کتل، چې د ښار له خلکو سره یې ډیر فرق درلود. هغه همدا ډول له غوښې څخه ډک دسترخوان ته کتل چې د دوی د کور د دسترخوان برخلاف پکې د ترکاري، وریجو، سابه او مستو درک نه لګیده.

نادر د غوښې پتنوس ته لاس ور اوږد کړ او د پسه د ورون یوه غټه ټوټه یې د سبحان مخې ته کېښوده، په خندا یې وویل:

– کباب دې په قسمت کې نه و، وخوره! دا ماهیچه وخوره چې قوي شې.

سبحان چې سر ښکته ځړولی و، د غوښې ټوټې ته یې وکتل، وروسته یې نادر ته وکتل په آرامه لهجه یې وویل:

– ډیر وخت کیږي له ځناورتوب سره مې خدای پاماني کړې ده.

نادر د ملنډو خندا وکړه:

– وخوره، وخوره! اوس چې تر موږ پورې راغلی یې پخواني عادتونه بیرته پخپله خپلوې.

نورو هم په ډوډۍ خوړلو پیل وکړ، مصطفی د غوښې یوه ټوټه د نازنینې مخې ته کېښوده او هغې ته یې د ډوډۍ خوړلو وویل خو نازنینې هیڅ اشتها نه لرله او هماغسې یې د غوښو ټوټو ته کتل چې څو شیبې وروسته یې ځای هڅوکو ونیو.

کله چې دسترخوان ټول شو، نادر پخپله ګیډه لاس راتیر کړ، ساعت ته یې وکتل، نابیره له ځایه پاڅید:

– د خره زامنو له دریو بجو هم تیرې دي او تاسې د غوښو په خوړلو لګیا یاست.

– ددې خبرې په اوریدو سره ظاهر او عثمان هم په بیړه پاڅیدل او په نادر پسې له کوټې ووتل. عثمان مخابره له جیبه را وایسته، ویې لګوله، نادر ته یې وویل:

– د تورې ډبرې سر ته به وخیږو، هلته غږ ښه اوریدل کیږي.

درې واړه تورې ډبرې ته وختل، عثمان مخابره خپلې خولې ته نږدې کړه:

– عقاب یک، عقاب یک!

څو دقیقې وروسته د لطیف آواز راغی: مې‌شنوم کبوتر، مې‌شنوم. وروسته یې په زوټه وخندل.

نادر د عثمان له لاسه مخابره واخیسته ویې ویل:

– لالا موږ بیا څه وخت کوترې شوو؟

– ښه نو کله چې موږ عقابان یو، یو څوک باید کوتره وي نو.

– نه ګرانه، کله چې ته عقاب یې موږ باید د لوړو غرو شاهین واوسو.

– ټوکه مې وکړه، یې، ته یې! ښه کارونه څنګه دي؟ چیرې یې؟ شل دقیقې کیږي چې په مخابره کې چیغې وهو، خو ستا مخابره بنده وه.

– لیرې دې له زړه غوښې مو خوړلې.

– نوش جان! ښه خو یې، ستاسې خواته خریت(خیرت) دی؟

– شکر دی دې خواته خریت دی، ستا پیسې مې هیرې نه دي، ژر به یې برابرې کړم.

– نه بیړه مه کوه، ما له تاسره بل عاجل کار درلود.

– په خدمت کې یم، په دواړو سترګو، هر امر چې وي، سرته به یې رسوم.

– باید له نږدې سره خبرې وکړو، دا ځل مې له تاسره کار بند دی.
– ته تل پر موږ مهربانه یې ، موږ په خدمت کې یو.
– نو زماوستا وعده سبا د حاجي په ځای کې ده، ته له هغې خوا حرکت وکړه، زه له دې خوا، د لمرختو په وخت کې سره یو ځای کیږو.
– په سترګو، نو خدای پامان.
– د خدای پامان.
نادر مخابره بنده کړه عثمان ته یې ورکړه، څو شیبې هماغلته ودرید، لږ فکر یې وکړ، وروسته یې ظاهر ته وویل:
– آسونه ماړه کړه، چې نن شپه د حاجي د کوډلې په خوا حرکت کوو. هو رښتیا ورشه مصطفی ته ژر غږ وکړه چې باید له هغه سره خبرې وکړم.
ظاهر د کوټو په لوري ولاړ، څو دقیقې وروسته له مصطفی سره یو ځای راغی. نادر مصطفی ته وویل:
– نن شپه د حاجي د کوډلې خواته ځو، لطیف سیاوشاني عاجل کار لري. په مخابره کې یې ونه ویل چې کار یې څه دی، ته عتیق ته د نجلۍ ورسپارل د کار تر معلومیدو پورې وځنډوه.
مصطفی په مایوسي سره وویل:
– نادر کاکا د نجلۍ وضعه خرابه ده، هغه سخته ناروغه ده او تبه لري، ویریږم دلته مړه نه شي او زموږ کار له بدو بدتر شي.
– خاورې دې شي، که د مړه کیدو وي دلته دې مړه شي چې موږ هم ترې بې غمه شو او پخپل کار پوه شو. څه دلیل مه وایه، څه مې چې وویل هغسې وکړه.

٦

لا لمرختو ته وخت پاتې و، لا تراوسه هیڅ ډبرې او ونې سیوری نه و، کړی. هغه اوبه چې باید پرون د غره له ډبرو را تویې شوې وای او د تګاب معلومه په جنوبي څانګه کې تویې شي، په نیمه لاره کې د تیرې شپې د یخنې له وجې یخې شوې وې. یخني د هر ژوندي ساري تن لړزاوه.
څلور آسان د غره له لوړې د حاجي عزیز د کوډلې په لوري ځنګ په ځنګ سره ولاړ وو. نادر، مصطفی، ظاهر او عثمان ملوني په لاس، چې سر او مخونه یې له یخنې پټ کړي وو، د هوا تر رڼا کیدو پورې په دره کې سترګې په لاره ولاړ وو. تر څو په احتیاط او ډاډه زړه درې ته ور ښکته شي.
د هغه ځای چوپتیا کله کله د آسانو ششنهار ماتوله. په لاره بلدو او تیز بینو آسانو له سپوږمۍ پرته توره شپه تیره کړې وه او تر سپړو د مخه یې د حاجي عزیز د کوټۍ مخې ته د چارمغزو تر ونو لاندې لس آسان لیدل چې ساه یې جوړوله.

رڼا سوکه سوکه زیاتیدله او سترګو د ښکته او پورته سیمو د لیدلو نور توان هم پیدا کاوه. هغه خپل دوربین سترګو ته ونیو، ځو شیبې یې په دقت ولیدل، له یوه تر لسو یې وشمیرل، هماغسې یې چې دوربین سترګو ته نیولی و، وویل:

– لس آسونه، د چارمغزو تر ونو لاندې تړلي دي.

هغه خپل دوربین لږ ښکته او پورته کړ ویې ویل:

– د کوټې شاوخوا شپږ تنه پهره کوي.

عثمان له جیبه مخابره را وایسته، چالان یې کړه:

– عقاب یو، عقاب یو!

لږ وروسته له هغې خوا آواز راغی((عقاب یو)) ځالې ته رسیدلی دی((شاهین)) ته سترګې په لاره دی او وروسره آسان له ګردنې ځخه مخ ښکته روان شول او ورووړو یې د حاجي د کوډلې په لوري مخه کړه. د درې په ژورو کې اوبه یخ شوې وې تر یخي لاندې هغو اوبو چې لا ژوندۍ وې خپل یخ وهلی بدن له دغې او هغې ډبرې سره جنګاوه او ښکته خواته یې لاره خلاصوله. د اوبو په غاړه ونو او بوټو چې د لمر د شغلو په انتظار وو، هیڅ شروشور نه درلود. او د پرون ورځې له ساړه باد وروسته یې ټوله شپه په ارامي سره تیره کړې وه.

نادر مخې ته او درې نور سپاره ورپسې ورووړو په غره کې په هغه لاره چې د حاجي کوډلې ته تله، روان و. نادر او انډیوالان یې چې تمامه شپه یې سترګې نه وې پټې کړې، سترګې یې پړسیدلې وې. هیله یې لرله چې ژر کوټې ته ورسیږي، د اور ترځنګ کیني او یوه پیاله ګرم چای وڅښي، تر ځو یې ستوماني ووځي.

کله چې د کوډلې مخې ته ورسیدل د لطیف ټوپکیان یې مخې ته راغلل آسان یې ونیول، له دوی سره یې له آسه په راکوزیدو کې مرسته وکړه او تر کوټې یې ملګرتیا ورسره وکړه.

لطیف د اور خواته ناست و، د شنه چای پیاله یې په لاس کې وه او سترګې یې د کیشتو، چارمغزو او توتو په پیشقاب کې نیولې وې. هغه د زردالو د کیشتو په خوړلو سره د هغو په صفت پیل کړی و، چې په دې وخت کې دروازه خلاصه شوه. نادر او انډیوالان یو په بل پسې دننه راغلل. لطیف د هغو په لیدو سره له ځایه راپاڅید، نادر ته یې غیږ خلاصه کړه، له روغبړ وروسته یې وویل:

– راځه چې بیګا عجب یخ و، زموږ خو هډوکي یخ وهلي دي.

بیا یې د نادر نورو ملګروته لاس ورکړ هغوی ته یې وویل چې د اور له څنګه کیني. په یوه شیبه کې ټوپکونه له دیوال سره کتار کیښودل شول او درانه جمپرونه او پټوګان په دیوال راوځړول شول. په بخارۍ کې د لرګو ځو ګرګې په بیړه سوځیدې، د کوټې په چت کې یو څه لوګي خیمه وهلې وه او لږ لږ د دروازې د سر له چولو ځخه دباندې تیښتیدل.

حاجي عزیز تور چایجوش را واخیست، په دوو پیالو کې یې چای واچاوه، د نادر او مصطفی مخې ته یې کیښودې، ویې ویل:

– پیالې کمې دي، پاتې وروڼه دې لږ صبر وکړي.

نادر په خندا وویل:

– حاجي! وايي پياز دې وي په ناز دې وي، هلکان چې لږ تاوده شي تر هغو يې د چای څښلو وار هم رسيږي.

حاجي عزيز په موسکا وويل:

– خدای مو راوله!

په دې وخت کې لطيف د حاجي عزيز کړوپې ملا ته وکتل ويې پوښت:

– حاجي هغه بل وار چې راغلي و، تکړه وې!

– زوړ شوم، سپين ږيری شوم لطيف خانه! د دوندر يخني د سړي هډوکي سوځوي. څو کاله کيږي چې د ژمي په شروع کې مې بندونه وچيږي او لاسونه مې له کاره لويږي.

– نه همدا تيرکال چې راغلی وم ښه وې.

– پروسږکال په دوبي کې راغلی وې، په توده هوا کې بد نه يم.

– حاجي دا د دوندر غر له کومه ځايه تر کومه ځايه غځيدلی دی؟

حاجي عزيز پخپله ږيره لاس راتير کړ، وروځې يې سره وروستې، نادر ته يې وکتل، تر څو يې چې خوله خلاصوله، نادر وويل:

– حاجي ولې دې ماته وکتل؟

حاجي عزيز موسکی شو:

– اخر ته هم د دوندر ژبی يې، فکر مې وکړ ستا په اجازه د لطيف خان ځواب ورکړم.

نادر پخپله پټکي لاس راتير کړ ويې ويل:

– حاجي اجازه ده، کيسه وکړه!

حاجي عزيز شميرلي شميرلي وويل:

– زما پلار دې خدای وبخښي ويل يې دوندر د هرات په ختيځ کې د ويده اوښ په څير دی، چې سر يې په جنوب کې او شا يې شمال ته ده. هغه ويل دغه«خوله جوزها» چې د دروازې له دباندې څخه هم مالوميږي، دايې کوو(کوهان) دی. هغه ويل دا اوښ د هرات او کرخ د سيندونو ترمنځ ويده دی تر څو په پسرلي کې چې اوبه ډيريږي هرات په امان کې وي.

لطيف يو څه چهارمغز او توت ور واخيستل، خولې ته يې واچول، پوښتنه يې وکړه:

– نو دوزخ دره د دوندر زړه دی.

حاجي عزيز وخندل ويې ويل:

– لطيف خانه سمه خبره دې وکړه، موږ يې تر کواو (کوهان) لاندې يو.

حاجي عزيز له ځايه را ولاړ شو، صندوق يې خلاص کړ يوه اندازه توت، چارمغز او کيشتې يې په پيشقاب کې واچولې او د نويو راغليو ميلمنو مخې ته يې کيښود. نادر پيشقاب ته وکتل ويې ويل:

– يره حاجي ډير بركتي سړی يې هلكان چې هر وخت له دې لارې تيريږي ستا د ميوو صفتونه كوي.

حاجي عزيز په موسكا وويل:

– ونې مې د خدای په ملک او لاره ولاړې دي. تر څو چې ژوندی يم دغه ځای به آبادوم. هيله مې داده چې له مرګه وروسته دعاګوی ولرم.

پر مصطفی ددغه زاړه سړي خبرو زيات تاثير وكړ له ځانه سره يې وويل چې زموږ او دغه سپين ږيري كار يو له بله ډير توپير لري. يو له ښاره او آبادۍ ډير ليرې نيالونه كري او غر په بڼ بدلوي تر څو يې خلكو ته خير ورسيږي او خلک ورته دعا وكړي او دا بل لارې نيسي په غلا او وژلو سره بربادي او كركې كري. بدن يې ولړزيد او خپله راتلونكې يې ډيره تياره وليده. نادر او لطيف ته يې وكتل پوه شو چې هغوی د حاجي عزيز د خبرو په ژورتيا پوه نه شول او له هغه شخه په پوښتنو ګرويږنو غواړي پوه شي چې په سياوشان او بند سبزک كې وضعه څنګه ده.

د پلار خبرو يې په غوږونو كې انګازې كولې: « مور دې ستا له غمه يو موټی شوې ده، نااهله! ستا له غمه سل مرضونه ورته پيدا شوي دي. شپه ورځ مصطفی مصطفی كوي او ته ددې ډېرو په منځ كې د نادر تر شا روان يې. دا كارونه ښه عاقبت نه لري، ما پنځلس كاله ظلم وكړ، لارې مې ونيولې او خلک مې ووژل، اوس څه لرم؟ له ځانه كركه لرم، پوهيږې! كركه لرم او باور لرم ترڅو چې ژوندی يم خوښی به ونه وينم. مه كوه! مخكې له دې چې ناوخته شي، ټوپک دې تسليم كړه چې كورته ولاړ شو، مور دې درته سترګې په لاره ده.» د مصطفی له خولې سوړ اسويلی ووت په زړه كې يې وويل: ناوخته شوي پلاره! د بيرته ګرځيدو لاره نه لرم.

دوه چايجوشه چای تمام شو. وچه ميوه د وريو تر غاښونو لاندې ژرنده شوه او يخ وهلي بدنونه يې وغوړول. لطيف نادر ته وويل:

– خوښه دې ده چې اصلي خبره را واخلو؟

نادر ځان سره راټول كړ ويې ويل:

– ولې نه په خدمت كې يم.

لطيف نورو ته مخ واړاوه ويې ويل:

– نو د دوندر هلكان دې موږ يوازې پريږدي.

مصطفی، ظاهر، عثمان او حاجي عزيز له ځايه را پاڅيدل. جمپرونه او پټوګان يې واغوستل، ټوپكونه يې را واخيستل او د باندې ووتل. چې هغوی ووتل، نادر چې په موضوع پوهيدو ته يې تلوسه لرله وويل:

– لطيف خانه! لكه چې د نجلۍ موضوع جنجالي شوې كه څنګه؟ كه خبره د هغې په باره كې وي، هغه لا له موږ سره ده. كولی شم هغه بيرته در تسليم كړم.

– يه نادره! خبره د نجلۍ په باب نه ده، هغه دې له ما وغوښته، درته ومې سپارله، ولاړه پخپله خولۍ پسې. اوس زه له تا سره بل كار لرم. تاته مې خدمت وكړ، غواړم ته هم ماته خدمت وكړې.

هغه دا وویل او د نادر سترګو ته یې وکتل. د نادر تلوسه زیاته شوه بې له دې چې نور څه ووایي د لطیف د خبرو ادامې ته منتظر شو.

– غواړم یو ایټالوي سرتیری اسیر کړې.

نادر په حیراني وویل:

– څه؟ ایټالوي سرباز؟

– هو نادرخانه! یو ایټالوي سرتیری مې په کار دی.

– عجب! دا کار ناشونی دی.

– ناشونی نه دی نادرخانه! زه یې لاره درته ښییم.

– موږ تر اوسه لا له خارجیانو سره ښکر په ښکر شوي نه یو. لطیف خانه پوهیږې! موږ ستا غوندې په غټو خانو لاس نه دي وهلي، موږ ته دا کار ډېر سخت دی. موږ تر تاپوري د یوه خلي غوندي یو.

لطیف په زوټه وخندل:

– خلی نه یې نادرخانه! ځان ته په کمه مه ګوره، موږ ستا له کارونو خبر یو، که هوډ وکړې ناشونې نه ده.

نادر چورتونو پسې واخیست، د یوه ایټالوي سرتیري نیول ډېر لیرې ورته ښکاریدل. نه یې ښې درنې وسلې لرلې نه یې د هغوی د ټانکونو زور درلود. په عجز یې وویل:

– لطیف خانه! ناشوني کارونه راباندې کوې. که ماته دې خدمت کړی، پیسې دې درکوم، خو د ایټالوي عسکر نیول چیرې او زه چیرې.

لطیف له ځایه را پاڅید پر اور یې لرګی کیښود، بیرته پخپل ځای کیناست، ویې ویل:

– نادرخانه! څو کسه ټوپکیان لرې؟

– کابو شل کسه.

– ښه بد نه دي، ددغه غره په سر شل کسه د یوه لښکر کار ورکوي.

– خو له خارجیانو سره سخته ده لطیف خانه!

– د نجلۍ پیسې دربخښم او یو لک نور ډالر هم درکوم چې ټول یولک و لس زره ډالره شي.

د نادر بدن ولړزید، ژبه یې بنده شوه:

– مګر...

– اګر مګر نه لري، څه کار شروع کړه، لاره یې هم زه درښییم.

نادر چې د سل زره ډالرو مزد په اوریدو، بې واره شوی و، وپوښتل:

– سخت کار دی خو مخکې له دې چې پریکړه وکړم باید پوه شم چې نقشه دې څه ده؟

لطیف خپله رنګه شوې لونګۍ بیرته وتړله، په کراره یې وویل:

– ایټالویان په اوونې کې دوه درې ځله له بند سبزک څخه تیریږي او په لاره ګزمه کوي، داچې ستا له خوا هیڅ وخت پر هغوی برید نه دی شوی، دوی هم په دې لاره نه ویریږي، دوی فقط فکر کوي خطر د «مسجد

چوبي» او «آب‌خوبان» په سیمه کې دی، خو ته خپل کار په بل ځای کې کوې او د «دمجو» په سیمه کې پرې برید کوې.

- ښه...

- اول د ریموټ دار ماین برید کوې، کله چې لومړی موټر تیر شو د ګردنې په سر چاودنه ورکوې، چې لاره بنده شي او بل د هغه موټر مخې ته چې له خپلو ملګرو جلا کیږي او ته ګردنې ته نږدې د غونډۍ پرسر ځای کیږې نور کاروان له هماغه پورته ځایه تر اور لاندې نیسې تر څو ونه شي کولی د مخینې موټر مرستې ته راشي. هغه وخت دې ستا کسان په «آر پي جي» موټر کلابند کړي، داچې «آر پي جي» دوی ته مطلق مرګ بریښي، تسلیمیږي او ته له هغوی څخه یو نیسې او له هغه ځایه وځې.

لطیف دا وویل او غلی شو. یو ځل بیا یې په لونګې لاس راتیر کړ، شمله یې شاته وغورځوله، نادر ته یې سترګې ونیولې. نادر چې د هغه نقشه په زړه کې تلله وویل.

– ریموټ کنترول ماین نه لرو او که ولرو هم دا کار ډېر سخت راته ښکاري.

– ما ماینونه درته راوړي دي، چې لږ جرآت ولرې دا کار سخت نه دی.

ناڅاپه نادر پوښتنه وکړه:

– ته پخپله ولې د هوایي ډګر پر سرک چې درته نږدې هم دی، دا ډول کار نه کوې؟

– پوهیدم چې دغه پوښتنه له ما کوې، ګوره نادره! د هوایي ډګر سرک پوخ دی او ددې سرک غوندې چې ستا په لاس کې دی، غر او پل نه لري. هلته تګ راتګ زیات دی دا ډول نقشه هلته عملي کیدای نه شي.

لطیف له دې خبرې وروسته جیب ته لاس کړ، د ډالرو یو لس زریز بنډل یې را وایست، د نادر مخې ته یې واچاوه ویې ویل:

- هه واخله دا دې هم بیعانه چې ډاډه شې، هلکانو ته وایم چې ماینونه درته وسپاري.

نادر د پیسو بنډل ته وکتل، لاړې یې تیرې کړې، لاس یې ور اوږد کړ ویې ویل:

- توکل په خدای. دا ځل ستا په خاطر چې تل پر موږ مهربانه یې خطر منم.

لطیف چې کار یې خلاص کړ، له ځایه را پاڅید، دروازه یې خلاصه کړ، غږ یې وکړ:

– د حاجي یو پسه حلال کړئ چې په نس کې مې له لوږې کونګري غاپي.

لمر د دوندر غره له جګې څوکې څخه سر رایستلی و او د سهار لمرینې وړانګې یې په دره ویشلې وې. د دروازې په خلاصیدو سره رڼا کوټې ته رامنډه کړه او د نادر سترګې یې وریټې کړې. د دروازې په بیرته بندیدو او پر ځای د لطیف له کیناستو سره کوټه له رڼا څخه بې برخې شوه. نادر وویل:

– ښه نو دا سرباز دې څه وخت په کار دی؟

– هر څومره ژر، بهتر. که د پنجشنبې په ورځ عملیات وکړې، ښه وخت دی.

– نن کومه ورځ ده؟

لطیف وخندل:

– لکه چې جنجالونه دې ډېر شوي دي چې د هفتې حساب درنه ورک دی؟

– پسې ګرځه مه، که ما وپوښتې ته به وتښتې. په دې غره کې ژوند آسانه نه دی. دا څو ورځې دمخه مې لور مړه شوه. لا د هغې له مرګه څلور ورځې تیرې نه وې چې د مصطفی د پلار سبحان مخ راښکاره شو. او د راته د بړستنې سپړه شو. بس شله دی وایي مصطفی درځخه ولم. ته پوهیږې چې مصطفی زما مټ دی او دا لعنتي په دې حساس وخت کې غواړي زما مټ پرې کړي. چې له دې ځایه په خیر ولاړم د هغه کار یو طرفه کوم. ښه و دې نه ویل چې نن څو شنبې ده؟

– نن دوشنبه ده نادرخانه!

– نو تر پنجشنبې دوه ورځې نور وخت هم لرو؟

– هو دوه ورځې نورې.

– کمې دي

– نه، پنجشنبه مناسبه ورځ ده.

– نو زه ولاړم.

– چیرې؟ ومې ویل چې پسه حلال کړي، نسونه به ماړه کړو بیا به ځو.

- نه لطیف خانه! کارونو ته مې اندیښنه ده. ستا کار پرې سرباری شو، یوه شیبه هم راته مهمه ده باید ولاړ شم.

- ښه ولاړ شه، په خیر ولاړ شې. ماینونه له هلکانو څخه واخله او که دې بل څه په کار و ماته مخابره وکړه.

- حتماً.

- نادر دا وویل پټو یې را واخیست له کوټې ووت. لطیف هم خپلې موزې په پښو کړې او کرتی یې واغوسته، دباندې ووت او دهغه پسه د حلالیدو ننداره ته کیناست چې حاجي عزیز په زړه کې پرې ژړل.

څلور سپاره یو ځل بیا روان شول. دوزخ دره له لمرختو سره راویښه شوې وه. نری باد چلیده او د ونو شاخونه یې سوکه سوکه خوځول. د دوندر زرکې چې تر بل هرځای په دوزخ دره کې ډیرې وې، له خپلو پناه ځایونو راوتلې وې. د ډبرو سرونو ته پورته شوې وې له یوبل سره سینه په سینه وې او یوبل ته یې سهار په خیر ویل. هر ځای یې آوازونه و، دوزخ دره د زرکو اوازونو په جنت بدله کړې وه. سپاره چې هرڅومره مخکې تلل هغومره یې د زرکو غږونه اوچت اوریدل د «مل منچې» حصار ته په رسیدو سره یې هره خوا زرکې لیدلې چې پورته یې منډې وهلې او ځانونه یې د سپرو له مخې لیرې کول. دلته د زرکو د غاړو یو محشر جوړ و. نادر او ملګرو به یې چې ځای ځای داسې صحنه لیدله، دریدل به، له هرې ډبرې د زرکو آوازونه راپورته کیدل. یوې به چې غاړې بس کړې بلې به غاړې کولې، آوازونه یې په دره کې تاویدل راتاویدل. ټوله دره د زرکو آوازونو په سر اخیستې وه.

نادر سترګو ته دوربین ونیو، غر یې په دقت ولید بیا یې وویل:

– میرګنیانو ویلي و چې «مل منچه» بې شمیره زرکې لري او هره یوه د چرګ په اندازه ده خو ما باور نه پرې کاوه.

مصطفی لاسونه سترګو ته چترۍ کړل ویې ویل:

– د حاجي عبدالباقي میرګن دې یاد په خیر وي.

په دې وخت کې عثمان خپل کلاشینکوف د زرکو یوه کتار ته ونیو، تر څو چې مصطفی ترې منع کاوه یو شارجور مرمۍ یې وویشتې او د مستو او سندرمارو زرکو حنجرې یې بندي کړې.

نادر وخندل:

– مضر سړی هر ځای ضرر رسوي.

مصطفی چې د زرکو د غاړو له خونده بې برخې شوی و، په ګیله یې وویل:

– عثمانه، نه شوای کیدای صبر دې کړی وای ، څه ښې غاړې یې وهلې.

عثمان هغه ځای ته وکتل چې مرمۍ پرې لګیدلې وې، بې له دې چې د مصطفی ځواب ورکړي ویې ویل:

– ونه لګیدې.

نادر په زوړه وخندل:

– که د زرکو ښکار داسې آسانه وای اوس به د قرارګاه جارګی له زرکو ډک و.

هغه دا وویل خپل آس یې رهي کړ او دریو نورو هم حرکت پسې وکړ له مل منچې چې تیر شول «خواجه نخچیر» ته ورسیدل. مصطفی نادر ته ور په څنګ شو، ویې پوښت:

– نادرخانه!ودې نه ویل چې د لطیف کار څه و؟

نادر خپل مول له خولې خلاص کړ، مصطفی ته یې مخ واړاوه:

– خپل پور یې غوښت، غوښتل یې د نجلۍ پر ځای یو خارجي سرتیری ورته اسیر کړو. دا سیاوشاني داسې سړی نه دی. داسې ځای نه څملي چې تر نس لاندې یې اوبه تیرې شي.

– ورته ویلي به دې و، چې لس زره ډالر دې درکوو.

– ورته ومې ویل، ویې نه منله. ویل یې نورې پیسې نه غواړم پر ځای یې یو ایټالوي سرباز راته اسیر کړئ.

– تا ومنله؟

– نو څه مې کړي وای. ستا له خاطره چې دوه پښې دې په یوه موزه کې اچولې او غواړې نجلۍ خپل پلار ته ورسوې، ځکه مې ومنله. نو نجلۍ مې بیرته ورکړې وای او ورته ویلي مې وای امانتي دې واخله او ځه! مورږ دا کار کولی نه شو.

مصطفی په چورتونو کې لاهو شو له ځانه سره یې وویل: دا سیاوشانی څه ډول حرامزاده سړی دی، هر ورځ یو نوی چل لري.

د نادر غږ د چورتونو له نړۍ راوایست:

– په تنګ غار کې بند پاته يو، له يوې خوا ستا پلار راته بلا شوی دی، بل خوا لطيف او په منځ کې هم دا نجلۍ لکه د غوايي کوږی راپورې نښتې ده، تا پرې نه ښودم چې ځان ترې خلاص کړم، اوس نو هرڅه په تا پورې اړه لري. کله چې قرارګاه ته ورسيدو له پلاره سره دې کينه او خبرې ورسره وکړه. ورته ووايه چې پخپل کار پسې دې ولاړ شي. وعده ورسره وکړه چې درځم. ورته ووايه چې ته ما په زور دلته نه يې ساتلی. زه خپله زر انديښنې لرم که مې اعصاب ورته واوښتل خدای خبر دی چې څه به پرې راولم

. له هغه وخته چې ستا کوژدنه مړه شوې ځان نه شم کنټرول کولی. که پرون مو زه نه وای نيولی ، اوس به عثمان له مونږ سره نه و، وژلی به مې و. دغه لعنتي ټوپک چې خوله خلاصه کړي بيا خپل او پردي دوست او دښمن نه پيژني. ورته ووايي چې ولاړ شي ما د شيطان په خره سپور نه کړي. ورشه خبرې ورسره وکړه ورته ووايه چې زما اعصاب دې نه خرابوي، مجبوريږم چې لاس او پښې يې ور وتړم او په محبس کې يې واچوم تر څو پوه شي چې زه هغه پخوانی نادر نه يم او په چا رحم نه کوم.

د محبس د نوم په اوريد د مصطفی بدن ولړزيد. محبس، د قرارګاه شاته د آسانو د طويلې تر څنګ يوه توره سپرغه وه چې يخ، خزندو او چتلي يې د فيل هډوکي هم اوبه کول. مصطفی په عاجزۍ وويل:

– نه نادرخانه! د محبس په فکر کې مه اوسه. چې قرارګاه ته ورسيدو ورسره خبرې کوم، قناعت ورکوم چې له تاسره سرټمبګي ونه کړي او کورته ولاړ شي.

نادر راضي معلوميده ويې ويل:

– ما ستا له غوږه تيره کړه، ته پوهيږې او پلار دې، هرڅه چې ورته پيښ شول ستا له لاسه به وي.

– نه ان شاالله خبرې ورسره کوم او هغه کورته ليږم.

– کله چې ورسيدو ته له هغه سره په کراره خبرې وکړه چې مونږ ددغه سړي د کار په باره کې فکر وکړو. که هغه يو خارجی اسير نه کړو کار خلاص دی. له دې سړي سره ډغرې نه شو وهلی.

د غره کمر ته رسيدلي و، د لارې نري والي د مصطفی آس شا شا ته کاوه، مصطفی خپل آس يو څه سوکه کړ. آسونه يو ځل بيا کتار شول. عثمان او ظاهر د نادر د ګواښونو په اوريدو تر شونډو لاندې وخندل، مصطفی خپل سر وخوځاوه په ټيټ غږ يې څو کنځلې هغوی ته وکړې، خو هغوی پرېښودنکي نه وو، عثمان په زوټه غږ وکړ:

- ماما! مصطفی غواړي قرارګاه ته په رسيدو سره خپل پلار ته يو بل پسه هم حلال کړي، ستا څنګه خوښه ده؟

- نادر د عثمان ريشخند ته په ملنډو ځواب ورکړ:

– سبحان هغه وخت په کراريږي، چې ما حلال کړي.

ظاهر او عثمان وخندل او مصطفی خپل ټوپک ته په اشارې سره هغوی وپوهول چې کرار کيني، خو ګټه يې ونه کړه، دا ځل ظاهر وويل:

– ښه به واي چې د مصطفی مور يې هم راوستې وای، دلته به مو يوه کوټه ورکړې وای ټول معلومې ته له تلو بې غمه شوي وای.

د ظاهر ټوکې نادر ته خوند ورکړ. په زوړه یې وخندل:
– که ستا او عثمان ښځې او اولادونه هم را وغواړو څنګه؟
– نیکي او پوښتنه.
نادر هماغسې چې پر آس یې پښې دربولې تر څو آس وځغلوي وویل:
– له تاسې کوټیو څخه شک هم نشته چې له قرارګاه زایشګاه(زیږنتون) جوړ کړئ.
دا ځل د مصطفی وار و چې پر هغوی وخاندي:
– آخ نادرکاکا! تر سترګو دې جار شم څه ځواب دې ورکړ!
غرمه مهال قرارګاه ته ورسیدل، لمر د یخ وهلې درې واورې اوبه کولې. د نادر له کوټې څخه نری لوګی آسمان ته پورته کیده دوه کسه د کوټې مخې ته پیره وو او درې نور د غره پر سر وو. دوی ته څو شیبې د مخه عثمان احوال ورکړی و او پوهیدل چې نادر او انډیوالان یې په لاره دي او رارسیږي ځکه خو یې د لمر وړانګو ته له پریوتو ډډه کړې وه او په لوړو ځایونو کې یې څلورو خواوو ته کتل.
نادر او مصطفی چې سبحان او نازنینې ته یې اندیښنه وه چې له آسونو را ښکته شول، مخامخ په بیړه کوټې ته ولاړل. سبحان د نازنینې سرته ناست و او نقل یې ور اچولی و. نازنینې چې سخته شپه تیره کړې وه د مصطفی په لیدو یې د هغه په خوا ورمنډه کړه. مصطفی خپل ټوپک دیوال ته ودراوه او نازنینه یې په غیږ کې واخیسته، لاس یې د هغې پر تندي کیښود، په خوشحالي یې وویل:
– شکر تبه نه لرې!
سبحان وویل:
– دوا مې ورکړه. نن تبه نه لري خو ډیره ټوخیږي.
مصطفی بخارۍ ته ورنږدې شو، تور چایجوش یې راواخیست ویې خوځاوه، ویې ویل:
– بابا خیر یوسې چای دې جوش کړی دی، د دوندر د غره یخني مو په زړونو ننوتې ده.
هغه دا وویل وروسته یې په یوه خیرنه پیاله کې چې په ورځو ورځو یې اوبه نه وې لیدلې چای واچاوه، لومړۍ پیاله یې د نادرخان مخې ته کیښوده، له پلاره یې وپوښتل:
– بابا ته چای نه څښې؟
– نه زویه، لږ مخکې مې سور کړ.
نادر سبحان ته وکتل. هغه ارام ښکاریده په څیره کې یې هیڅ اندیښنه نه تر سترګو کیده. د نادر سودا شوه:
– سبحان خانه! څنګه یې د شپې خو به دې ساړه نه وي شوي؟
– یه، لږګي ډیر و، سر په سر مې اور بلاوه.
– نجلۍ خو به نه یې په عذاب کړی؟
– زه په بې خوبي عادت یم، تمامه شپه مې ورته نقلونه کول، زه او هغه سره ملګري شوو.
– عجیبه ده، نو ته ملګرتیا هم لرې؟

– لرم يې نادرخانه!لرم يې. که ملگرتيا نه وای اوس به مې خبره لا پخوا خلاصه کړې وه.
– ښه شکر چې باالاخره د شيطان له خره راښکته شوې.
سبحان د هغه ځواب ورنه کړ، خو پر ځای يې وپوښتل:
– بيا چيرې لارې وهلو ته تللی وې؟
– سبحان خانه! لارې وهلو ته نه وم تللی، دوزخ درې ته تللی وم د حاجي عزيز احوال مې واخيست.
– عجب! له څه وخته د خلکو احوال اخيستونکی شوې؟ زه ستا له احوال اخيستلو خبر يم، پوهيږم چې چاته بې مطلبه نه ورځې.
– رښتيا وايې، هلته مې له چا سره وعده کړې وه، دهغه احوال مې واخيست.
سبحان وخندل. خپل گڼ بريتونه يې تاو کړل ويې ويل:
– ودې ليدل چې زما خبره سمه وه!
په دې وخت کې نازنينه وټوخيده دومره وټوخيده تا به ويل بلهوډې يې له خولې راوځي. رنگ يې تور واوښت. پرله پسې ټوخي يې کمزوری وجود لړزاوه او سترگې يې اوښلنې کولې. مصطفی وډار شو او نادر نازنينې ته وکتل ويې ويل:
– لږ تود چای ورکړه.
مصطفی خپله نيمه پياله د نازنينې خولې ته نږدې کړه، چې ټوخی يې لږ ودريد، د هغې په خوله کې يې چای ور تويې کړ، خو چای د نازنينې په ستوني کې بند شو او په يوه بل ټوخي سره يې چای دباندې وپاشل شو. مصطفی پياله پر ځای کيښوده او د هغې پر ملا يې لاس تير کړ، خو هيڅ گټه يې ونه کړه، د نازنينې ټوخی نه کراريده.
مصطفی له ځايه را پاڅيد نازنينه يې په غيږ کې واخيسته او په کوټه کې په گرځيدو يې پيل وکړ، څو شيبې وروسته د نازنينې ټوخی ودريد. هغې بيا سترگې پټې کړې او سر يې د مصطفی پر اوږه کيښود. مصطفی بيرته خپل ځای ته را وگرځيد، ويې ويل:
– خدای دې نازنينې ته خير کړي، په ټول ژوند کې مې داسې ټوخی نه دی ليدلی.
نازنينې د مصطفی له اوږې سر راپورته کړ، په کمزوري آواز لکه له ځانه سره چې خبرې کوي وويل:
– مصطفی کاکا! څه وخت کورته ځو؟
مصطفی نادر او خپل پلار ته وکتل ويې ويل:
– په خير د جمعې په ورځ.
– جمعه څه وخت ده؟
– درې ورځې وروسته جمعه ده.
د نازنينې شونډې و لړزيدې، سترگې يې له اوښکو ډکې شوې:
– مصطفی کاکا ته دروغ وايې.

– دروغ نه وایم نازنین جانې، دروغ نه وایم.

– دروغ وایې مصطفی کاکا! دا څوم وار دی چې ته درې ورځې وروسته وایې.

– نازنین جانې! داچې ته ناروغه یې ځکه وځنډېدو. په دې واوره کې چې تر څو جوړه شوې نه یې، له کوره وتل خطرناک دي. تا یخني وهي او ناروغي دې تر دې هم زیاتیږي.

نازنینې نورې خبرې ونه کړې. سبحان له ځایه را ولاړ شو، پټو یې واغوست ورغی چې خپل کره بین ټوپک راواخلي، په دې وخت کې نادر وپوښت:

– په خیر سبحان خانه!؟

– ځم چې نازنینې ته یوه زرکه ښکار کړم، یخني ښوروا یې سینې ته فایده لري.

مصطفی نازنینه پر ځمکه کېښوده ویې ویل:

– پلاره که ستا اجازه وي، زه به هم درسره ولاړ شم، له تاسره مې کار دی، که دې خوښه وي خبرې به سره وکړو.

نادر وار ړومبی کړ:

– خبرې مو چې وکړې ته هم یو دوه زرکې ووله، چې زما بیچاره سینه هم اغزي اغزي ده.

مصطفی خپل جمپر او ټوپک راواخیستل په پلار پسې روان شو ویې ویل: په سترګو.

پلار او زوی یو ځای روان شول. سبحان چې غره ته نږدې ورسید ودرید. غره ته یې وکتل، د ماسپښین دوه نیمې بجې وې او زرکو یو ځل بیا خولې خلاصې کړې وې، غاړې یې کولې. سبحان وویل:

– ډېر وخت کیږي چې ټوپک مې نه دی ویشتی، خدای پوهیږي چې ښکار به وکړای شم.

هغه دا وویل بې له دې چې د زوی ځواب ته منتظر شي، غره ته پورته شو. مصطفی هم ورپسې شو. سبحان چې د غره سر ته ورسید د یوې ډبرې پر سر کیناست، څو دقیقې یې ساه واخیسته، څو شیبې یې قرارګاه او شاوخوا ډبرو ته وکتل، بیا یې وویل:

– نااهله مصطفی نیت دې څه دی؟ دا نادر لیونتوب کوي، ما تیره شپه له ځانه سره ډېر فکر وکړ، هر څومره چې له دغه نامسلمانه سره په نرمه ژبه خبرې کوم، ځان تیروي. زه نور له هغه سره خبرې نه کوم، ستا پریکړه ماته مهمه ده، ته په څه خیال کې یې؟ له ډاره پرته ماته صاف صاف ووایه چې کورته ځې که نه؟

– مصطفی د پلار سترګو ته وکتل، زړه یې لوی کړ:

– نه پلاره له تا سره تلای نه شم.

– د مصطفی غږ د پلار په غوږ د بم غوندې ولګید: ((نه پلاره له تا سره تلای نه شم. نه پلاره له تا سره تلای نه شم.)) د سبحان زړه نازک شو، ستونی یې را ډک شو، په مایوسۍ یې وویل:

– ولې؟

- پلاره کله چې ما شپني بس کړه او پسونه مې پرېښودل، د نادر کاکا پر لور نګارې مې زړه بايللی و. نادر خپله لور ماته راکړې وه او واده مې کېدونکی و. نه پوهېږم د زينليانو قادر له کومه شو، نجلۍ يې يووړه، موږ هم پسې ولاړو چې نجلۍ بيرته ترې راولو، خو هغه واده تيار کړی و او غوښتل يې نګاره په زور ځان ته نکاح کړي. نګارې ځان ته اور واچاوه، موږ هم کرار نه کيناستو او د قادر کلا مو ور ګډه وډه کړه، د کور ښځينتن او ميلمانه مو ټول ووژل. اوس حکومت پوهيږي چې دا کار چا کړی، که له تاسره ولاړ شم، نور مې کار ختم دی، تر څو چې ژوندی يم په زندان کې به يم. پلاره ته ولاړ شه او زما له بيولو لاس واخله. پلاره زه نور د بيرته ګرځيدو لاره نه لرم، ټولې لارې تړلې دي.

د سبحان له سترګو اوښکې تويې شوې، په ستوني کې يې درد تاو را تاو شو، شک يې سم و. زوی يې نور له لاسه وتلی و. خلک يې وژلي و د پلار په پله يې پل ايښی و، سبحان په سلګو شو، د مصطفی زړه هم مات شو، د پلار ژړا يې هيڅ وخت نه وه اوريدلې.

مصطفی ځان د پلار په غيږ کې ور واچاوه او ويې ژړل، پلار او زوی چې تر څو کولی شوای ويې ژړل. ددغه غره پر سر تر اوسه چا د چا په حال نه و ژړلي، هيڅ کومه ډبره د چا د عاطفې او نازک زړه شاهده نه وه، خو نن دغه ډبرې د داسې بې رحمه چا د ژړا شاهدې وې چې کلونه کلونه يې د رحم او عاطفې په نامه څه نه پيژندل، ډبرو د سبحان په ژړا خندل او ويل يې: ((هاها سبحانه ستا هغه بې رحمه زړه څه شو؟ ستا د ډبرې زړه څه شو؟ را په ياد کړه هغه ورځې چې دلته دې زموږ پر متو څه په بې خيالۍ او بې رحمۍ پښې ايښودې او په هيچا دې هيڅ رحم نه کاوه؟ که ستا هير وي، زموږ ټول په ياد دي. ستا د ډبرې زړه ددغه غره د هرې ډبرې په زړه دی او هغه وينې هيڅ وخت نه هيروې چې تا يې پر سر تويې کړې دي. اوس دې خپل زوی ته خواشينی يې؟ د ډبرې زړه دې خپل زوی ته موم شوی دی؟ د زوی په خاطر ژاړې؟ مهربانه شوې؟ ودې ليدل باالاخره د ډبرې زړه دې نرم شو! په پای کې پوه شوې چې ډبره کيدل د ډبرې لپاره ښه دي نه د انسان لپاره))

د سبحان ناڅاپه له مصطفی کرکه راغله، خپل ګران زوی يې بد وايسيد، هغه يې له ځانه ليرې کړ:

– ځه! زما له غيږې ليرې شه! نور په دې غيږه کې ستا لپاره ځای نشته. زه نور ستا پلار نه يم، ځه او ژاړه هم مه. ته زما غوندې نفرين شوی يې.

ته به ښه ورځ ونه وينې، تر څو چې ژوندی يې فراري به يې. ځه منتظر شه چې مرګ دې څه وخت راځي. ولاړ شه او ګرمو مرميو ته سترګې په لاره واوسه، چې يوه ورځ دې بدن سوری سوری کړي، ځه د مرګ په انتظار ورځې وشميره! هغه وختونه غوايي وخوړل چې څوک به د چا په قاتل پسې نه ګرځيدل، اوس دې پيدا کوي، اوس چې تر مځکې لاندې هم ننوځې پيدا کوي دي او له تا خپل غچ اخلي. ځه او مرګ ته سترګې په لاره اوسه او نور ماته پلار مه وايه!

سبحان غلی شو، خپلې اوښکې يې پاکې کړې، څو شيبې يې مصطفی ته ساړه ساړه وکتل، ورو يې وويل:

–رښتيا چې د ليوه زوی، ليوه کيږي.

وروسته يې جيب ته لاس کړ، د ترياکو يوه ټوټه يې را جلا کړه، خولې ته يې واچوله، مصطفی ته يې وويل:

– دا ستا له لاسه دي كه ته پخپل كور كې واى او خپل ژوند دې كولاى زه نه ترياكي كيدم او دې حال ته نه رسيدم. اوس مې بلا درپسې. ماته صفاسوتره ووايه چې له نجلۍ سره څه كوې؟ هغه څه وخت خپل كورته رسوې؟

مصطفى پلار ته چې نور د خپل زوى برخليک ورته كوم ارزښت نه درلود، وكتل او په ټول صداقت يې وويل:

– پلاره كه مې رښتيا وپوښتې ما ددغې نجلۍ د وژلو مخه ونيوله، ډيره سخته وه تا د نادر ليونتوبونه وليدل. ما دا نجلۍ د مرګ له خولې وژغورله او پرې مې نه ښوده چې نادر هغه ووژني. دا نجلۍ د زينلياتو د قادر وريره ده. نادر غوښتل هغه د قادر د خپلوانو او انډيوالانو د ډارولو په خاطر ووژني. غوښتل يې هغوى ته ووايي چې كه بيا يې دده كورنۍ ته چپ وكتل د قادر او دغې نجلۍ په برخليک به اخته شي. خو ما پرې نه ښودله چې دا بې ګناه نجلۍ ووژل شي او اوس لطيف سياوشاني د هغې په بدل كې يو خارجي اسير غواړي. په پام كې ده د پنجشنبې په ورځ د سبزک له لارې دغه اسير ورته ونيسو او ده ته يې ور وسپارو، كه مور په دې كار كې بريالي شو، زه پخپله د جمعې په ورځ دغه نجلۍ ور ولم او مورو پلار ته يې ورسپارم. ته ډاډه اوسه كه سرمې هم ولاړ شي نجلۍ خپلې كورنۍ ته ور سپارم دا مې قول دى. ته ولاړ شه پلاره! ته مې مور ته ورشه. نادر ليونى دى، زه ويريږم چې ستاسې شخړه لا پسې بده نه شي. ته ولاړ شه پلاره!

– يه مصطفى! زه نور له هغه سره كار نه لرم. زه نور دلته زوى نه لرم چې په باره كې يې له هغه سره جنجال وكړم، ته نور زما لپاره مړ يې، خبره خلاصه شوه. خو تر څو مې چې له نجلۍ څخه زړه آرام شوى نه وي، له دې ځايه نه ځم.

سبحان له دې خبرو وروسته سترګې په ليرې سيمه كې وګنډلې، د دوو سوو مترو په شاوخوا كې ليرې د زركو اركوڼو(بچيانو) ورورو غاړې وهلې. سبحان سوكه خپل كره بين راپورته كړ، نشان يې ونيو. مصطفى مخ را وګرځاوه په هغه لوري چې پلار يې نشان نيولى و، وكتل ويې ويل:

– پلاره ډيرې ليرې دي، مرمۍ دې خطا كيږي.

سبحان څه ونه ويل، ټوپک يې هماغسې په لاس كې نيولى و څو څو دانې زركې وولې. هغه پوهيده چې په جنګي ټوپک بايد يوازې يوځل وار وكړي كه يې نښه خطا كړه بيا د غره په دې ډبرو كې د ګرځيدو توان نه لري، هغه ناڅاپه پر ماشه ګوته ټينګه كړه. ګولۍ د ټوپک له ميله راوتله او وچ غږ يې د درې ارامي ګډه وډه كړه. سبحان له ډبرې را ولاړ شو ويې ويل:

– ورشه را وايې خله!

مصطفى په بيړه د ګولۍ د لګيدو ځاى ته ور منډه كړه، چې هلته ورسيد، باور يې نه كيده چې پلار دې يې له دومره ليرې ځايه درې زركې ويشتي وي، زركې يې په چاقو حلالې كړې او راغى. پلار يې ټوپک اوږې ته اچولى و او سوكه سوكه له غره راښكته كيده. مصطفى په چټکۍ ځان ور ورساوه:

– پلاره نشان دې خطا نه ځي! ته لا اوس هم داسې نښه ولې چې جوړه نه لري.

– سبحان څه ونه ويل، د غره ډبرو ته يې كتل.

کله چې کوټې ته راورسیدل، دسترخوان غوړیدلی و او په منځ کې یې د غوښو پتنوس ایښی و، چې یوه خوا یې تشه شوې وه. نادر تر ټولو مخکې موړ شوی و او د لاسونو غوړي یې په دسمال پاکول. د دسترخوان دوو خواوو ته لا ظاهر او عثمان له هڅوکو څخه د غوښې په جلا کولو بوخت ول. نازنینه چې په مور وپلار پسې یې بیا ډیر ژړلي و او د مصطفی راتلو ته سترګې په لاره وه، سر یې پر بالښت ایښی و، سترګې یې چت ته نیولې وې او د کوټې بازوان یې شمیرل، چې د کلونو لوګي او اور پوره تور کړي وو او لایې هم د درندو ډبرو بار پر اوږه و او د کوټې یوې بلې خواته یې په دیوال کې سرونه ننویستي و.

سبحان خپل ټوپک د کوټې په کونج کې کیښود او د ظاهر تر څنګ کیناست. مصطفی خپل لاس پورته کړ نورو ته یې زرکې ور ښکاره کړې ویې ویل:

– نادر کاکا وګوره، پلار مې درې واړه په یوه مرمۍ وویشتلې.

نادر زرکو ته وکتل په ستاینه یې وویل:

– کله چې مې د کره بین آواز واورید، پوه شوم چې سبحان یوه زرکه نه ولي. ددغه زاړه لیوه سترګې لا تودې دي، نښه یې خطا نه ځي.

مصطفی د عثمان څنګ ته کیناست، د غوښې پتنوس ته یې لاس ور اوږد کړ، ویې ویل:

– نادر کاکا! له پلار سره مې خبرې وکړې. ما له ځانه سره نه بیایي، خو که ستا اجازه وي څو ورځې به دلته میلمه وي. هغه به د شنبې یا یکشنبې په ورځ کور ته ولاړ شي.

– په سترګو، تر هر وخته چې غواړي، کولی شي دلته پاته شي، دایې خپل کور دی.

سبحان نازنینې ته وکتل ویې ویل:

– نجلۍ ته ډوډۍ نه خورې؟

نازنینې ځواب ور نه کړ، مصطفی له ځایه را پاڅید، هغه یې خپل څنګ ته راوستله ویې ویل:

– نازنینې بیخي را څخه هیره شوې وې.

۷

نادر د نګارې قبر ته تللی و، څو ډېرې یې د قبر پرسر سمې کړې وې او اوښکې یې تویې کړې وې، ولاړ و او د هرات لمر لویدو ته یې کتل چې ورووړو یې د وینو رنګ خپلاوه او خپلې وینې یې د هرات په بدن پاشلې. لمر روان و تر څو سبا بیرته راوګرځي او د شپې تیاره ورکه کړي. تر څو د نادر د سباني برید لپاره رڼایي وي.

نادر له هماغه پورته ځایه لاندې وکتل. هغه ځای ته چې درې پسونه تر چړو لاندې و تر څو شیبې وروسته غوښې کباب شي. او بیا یې هغه وړې ټوپکوال وخوري چې برید کوي او د برید لپاره قوت ولري. هغه هم زیاتې انرژۍ ته ضرورت درلود، باید یو وړون وخوري چې په شپه کې په غره کې ښه وګرځیدی شي او ځان «دمجو» ته ورسوي. خو د کباب بوی یې حالت بل ډول کاوه، لیونی کاوه یې، وینه یې په جوش راتله او خپل کنترول یې له لاسه ورکاوه.

له غره رابښکته شو او د کباب د ځای په لوري روان شو. هلکانو غوښه وړه کړې وه او اور یې ورته بل کړی و، ده ته سترګې په لاره و، تر څو راشي او د اور پر سر د هغو د ایښودلو اجازه ورکړي. نادر چې ور ورسید، ویې پوښتل:

– ولې ورته ګورئ؟

عثمان نږدې ورغی ویې ویل:

- تاته سترګې په لاره وه، موږ ویل ستا اجازه واخلو او د کباب میله د څو ورځو مخکې غوندې ګډه وډه نه شي.

- نن شپه مجبور یم، دغه لعنتي بوی وزغمم. باید ستاسې نسونه ماړه کړم چې په لاره تیز او ګړندي ولاړ شئ او له یوې ډېرې بلې ډېرې ته چابک منډې کړئ. په دې هډوکي سوځونکي یخ کې له غوښې پرته بل خوراک قوت نه لري.

هغه دا وویل وروسته یې پوښتنه وکړه:

– پسونه مزي وو؟

عثمان وویل:

– ماما! وروستي یې وو، پسونه خلاص شول دا یې هغه مزي مزي وو.

– مالګه پرې واچوه، په اور یې کیږده، په دې یخني کې د سینې کباب ډېر ښه لګیږي. سبا چې بیرته راوګرځیدو په لاره کې چې هره رمه په مخه راغله یو څو به یې ترې را جلا کړو او دلته به یې راولو.

نادر دا وویل مصطفی ته یې مخ ور واړاوه:

– پلار دې چیرې دی؟

– په کوټه کې دی.

- ورشه ورته غږ کړه.

مصطفی کوټې ته ولاړ څو دقیقې وروسته له پلار سره یو ځای د نادر مخې ته ولاړ و. سبحان خپل پټو په اوږو اچولی و، نادر د هغه په لیدو وخندل ویې ویل:

– چې لا راغلی نه وې، فکر مې کاوه ته هماغه پخوانی چټک او چالاکه سبحان یې، ماویل که تا دلته راولم او عمومي قوماندان دې مقرر کړم لاس به مې درباندې سپک شي. خو اوس چې ستا دا څادر وینم پخپل کار پسې تللی یې، څو کسو ته ضرورت دی چې پر تا پام وکړي چې یخ دې ونه وهي.

سبحان د اور خواته په یوه ډبره کیناست، ځان یې ور ټول کړ، ورو یې وویل:

– ستا غوندې هر څوک بې غمه نه وي. که زما غوندې په درد او مرض اخته نه یې، زر ملا تړلي دښمنان لرې!

نادر داسې وښوده چې ګویا د هغه خبرې یې نه دي اوریدلې، نږدې ورته راغی، د هغه پر غوږونو یې خوله ور کیښنوده:

– تریاک لرې؟

سبحان هغه ته د پوښتنې په ډول وکتل، پوښتنه یې وکړه:

– بیا څه نقشه لرې؟

– لږ راکړه چې د کباب بوي مې بې طاقته کوي.

– ته له څه وخته راسي تریاک وهې؟

– کله کله یې خورم. خو ستا غوندې هره ورځ نه، بس ځینې وختونه.

سبحان ورو جیب ته لاس کړ، له پلاستیک څخه یې یو څه تریاک ورکړل ویې ویل:

– ستا عاقبت دې خدای په خیر کړي.

نادر د تریاکو ټوټه خولې ته یې واچوله او له هغه ځایه ولاړ. د ګروپ ټول غړي راټول شوي ول، بې له دې چې د سباني جنګ په باره کې فکر وکړي، غوښه یې جلا کوله تر څو یې کباب کړي. عثمان یو څه غوښه په سیخانو کې پیيلې وه چې پر اور یې کیږدي. سبحان ورته وکتل ویې پوښت:

– ستاسې نادر نن شپه بیا څه مکرونه لري؟

– سبحان خانه! عملیات لرو. لږ ناوخته حرکت کوو سبا سهار د خارجیانو د کتار لاره نیسو. د سبحان زړه ولوید، مصطفی ته چې د غوښې د پتنوس خواته یې ځیګر ټوټه ټوټه کاوه، وکتل. لا یې له هغه سره په زړه کې مینه پاتې وه، لایې د هغه د بیرته بیولو غوښتنه په وینه کې ایشیدله. د خپلې میرمنې نجیبې خبرې یې ور په یاد شوې، چې ویل یې:

(زما مصطفی بیرته راوله. زما زوی د لیوانو له منګولو وژغوره. هغه کورته راوله چې دوه ورځې چې ژوندۍ یم هغه ته وګورم. د هغه د کوژدې ارمان لرم، ارمان مې دی چې لمسیان ولرم او تر هغوی قربان او صدقه شم، سبحانه زما زوی راوله چې پښې مې د ګور په غاړه دي.)

سبحان بل رقم شو، ټول وجود یې ولړزید. سبا جنګ ته ځي، ځي چې بیا وینې تویې کړي، ځي چې د خارجیانو لاره ونیسي. له خارجیانو سره جنګیدل آسانه خبره نه ده، نادر لیونی شوی خپل عقل یې بایللی دی، ځي چې خپل بیخ وباسي. زه یې نه پریږدم چې مصطفی دې جنګ ته ورسره بوځي. نه پریږدم زوی مې مسلخ ته بوځي. چې هر ډول وي

مخه یې نیسم. باید هغه خپلې مور ته ور ولم. که ور یې نه ولم مړه کیږي. پوهیږم چې هغه به شپه ورځ په دروازه کې ناسته وي او د خپل زوی لارې به څاري، باید هغه خپلې مور ته وروولم.

مصطفی! تا راسره بیا یم، تا کورته ولم پریږده چې حکومتیان راشي ستا لاسونه وتړي او له ځانه سره دې بوځي. تر دې وژنتون د زندان کونج ښه دی. که په زندان کې یې، لږترلږه زما او د مور زړه خو به دې جمع وي، چې زوی مو د چا وینه نه تویوي، زړه به مو له نادره بې غمه وي چې نور تا د ځان په مخ کې ډال کوي نه. لږترلږه ډاډه به یو چې نور دا نامسلمان زموږ زوی د بل د لوټلو لپاره له ځانه سره نه بیایي.

مصطفی! زه نور نه غواړم ته ددغه نامرده د لاس لرګی واوسې، هغه کلونه کلونه زه د خپل لاس لرګی کړی وم، کلونه کلونه مې دده لپاره انسانان ووژل، لارې مې ونیوې، چور مې وکړ، ناحقه وینې مې تویې کړې، اوس څه؟ د ټولو د کرکې وړ یم، میندې اوس هم رانه کرکه کوي، د خلکو اسویلي اوس هم د تور لوګي غوندې راپسې دي، نه غواړم د خلکو کرکه او اسویلی تا هم خاورې کړي، ته لا ځوان یې او ډیر عمر دې په مخ کې دی، ټوپک دې ایسته واچوه چې کورته ولاړ شو. مور ته دې ورشو چې تاته انتظار ده او نور توان نه لري، راځه هغه چاته ورشو چې سترګې یې په لاره درته فرش کړې دي. کباب دې وخوره! نن شپه دې بیایم! کار یو طرفه کوم. او ته نادره زما له ټټره خپله پښه ایسته کړه! پریږده څو ورځې مې خپل زوی ترڅنګ وي. د تلو مخه یې مه نیسه زما له لارې چپ شه، پریږده چې له خپل زوی سره کورته ولاړ شم، مور یې ورته سترګې په لاره ده.

سبحان د نادر په غږ له خپلو خیالونو راووت، هغه ته یې وکتل ویې پوښتل:

– څه دې وویل؟

نادر په سرو سترګو چې د تریاک له خوړلو وروسته سرې شوې وې، سبحان ته وکتل، ویې خندل. تریاکو یې حال خراب کړی و، د نادر سر ګرځیده ځان یې نه شوای تکیه کولی:

– هی سبحان خانه! له دې پټو سره چې په اوږو دې اچولی د زړې کلا د زاړه کونګ غوندې شوی یې.

د نادر په دې خبره د اور دواړو خواوو ته هلکانو وخندل. سبحان وویل:

– یم نادرخانه! هرڅه چې وایې یم. له ما تا کونګ جوړ کړ، له اوله کونګ نه وم. له اوله میړګن وم هر کونګ به مې چې لید په مرمۍ به مې ویشت. خدای ووهلم چې ستا په لومه کې ګیر شوم او کونګ رانه جوړ شو او اوس هم دغو ځوانانو ته ګورم چې ورووړو له ټولو کونګان جوړیږي.

نادر ډیر وخندل، وروسته یې چیغه کړه:

– هی مصطفی کونګزاده، دلته نږدې راشه. ځیګر راوړه چې له دغه زاړه کونګ سره یې یو ځای وخورو.

مصطفی له ځیګر سره نږدې راغی. نادر د کباب لرګی اورته نږدې کړ او چیغه یې کړه:

– های د کونګ زامنو! راځئ کباب یې کړئ چې نن شپه حرکت دی. وظیفې ته ځو، ځو چې دا وار قیامت جوړ کړو، ځو چې خارجیانو ته وښیو چې موږ هم یو څه یوو. ورځو او ورته وایو چې دا سرک او دا خاوره زموږ ده، تر څو چې ژوندي یو په ګردنو به یې ولاړ یو او چاته د هوسا تیریدو اجازه نه ورکوو. خپل نسونه ماړه کړئ، تر څو چې کولی شئ وخورئ چې سبا سهار سرک بندوو تر څو هیڅ ژوندی ساری روغ تیر نه شي.

هغه دا وویل یو ځل بیا په ټیټکي وخندل د ځیګر کباب یې سبحان ته ونیو:

- سبحانه وخوره، وخوره چې قوي شې، سبا چې بیرته راوګرځیدو دلته په همدې چوتره د خارجي په شاوخوا اتڼ کوواو سیاوشانیانو ته وایو چې راشئ خپل امانتي مو بوځئ. مورې هم تر تاسې کم نه یو راشئ خارجي بوځئ، پر ما مو غږ وکړ ستاسې خبره مې پر ځمکه وانه چوله.

هغه کباب په اور وګرځاوه، ورته ویې وکتل ویې ویل:

- هه سبحانه واخله ګرم ګرم یې وخوره.

سبحان لاس ور اوږد کړ او د ځیګر ګرمه ټوټه یې له سیخه را وایستله، په خوله یې کړه ویې ویل:

– نادرخانه! سر دې ګرم دی فکر کوې د خارجي نیول آسانه کار دی. یو ځل چې ورشې خوند به یې وویني.

نادر په ټیټکي وخندل:

- سبحانه! فکر مې نه کاوه چې چرګ به هم درځخه جوړ شوی وي، تا یو وخت د زمري په خوله کې هم همت نه پرینښود.

- هو همداسې وه نادرخانه خو اوس مې عقل سر ته راغلی دی او پوه شوی یم چې د زمري خولې ته ورتلل ناپوهي او جهالت و.

نادر د کباب سیخ بیا سبحان ته ونیو ویې ویل:

- ما وتا خو ویلي و چې نور به شخړه نه سره کوو، خو ته پخپل قول ونه دریدې.

- تا شروع کړه.

- یه سبحان خانه! تا شروع کړه.

مصطفی چې غوښتل نازنینې ته یو څه ځیګر ور وړي، په اندیښنه بیرته راوګرځید. د نادر او دده د پلار ژبنۍ جګړه بیا پیل شوې وه او نادر قهرجن معلومیده، د سبحان چې د خپل زوی اندیښنې ته پام شو ویې ویل:

- نادرخانه! خپل کباب دې وخوره چې یخ شو. ځه زه دې ملامت یم، وخوره چې سخته جګړه په مخ کې لرې.

نادر چې د سبحان د دومره ژر په شاتګ تمه نه لرله په ناباوري یې د هغه سترګو ته وکتل ویې ویل:

– واخله دا یوه ټوټه وخوره چې ژر شاته ولاړې. زما اندیښنه مه کوه زه نن شپه نیم پسه خورم.

څو شیبې وروسته له اوره ایرې او د پسونو له غوښو یوازې پوست او هډوکي پاتې وو. نسونه ماړه شوي وو او غوړې غوښې د جګړه مارو سرونه درانه او بدنونه یې ګرم کړي ول.

نادر د ځیګر او غوړې سینې له خوړلو وروسته تللی و د چوترې پر سر یې دیوال ته تکیه وهلې وه. لا یې سر د تریاکو نشې دروند او ګیچ کړی و او سترګې یې سرې وې. هغه له لیرې سبحان ته کتل او په زړه کې یې هغه پیغور ته چې ورکړې یې و او ورته ویلي یې و چې د کونګ غوندې یې، خندل.

له کباب وروسته د چای او چلم میله ګرمه شوه. هغو هلکانو چې د تنباکو څکولو عادت یې درلود یو بل ته چلم ور وړاندې کاوه، لکه چې د سباني جنګه څخه هیڅ اندیښنه ونه لري، ټوکې یې کولې او خندل یې. سبحان چې څو

ورځې له چلمه ليرې و، زړه يې و چې له چلمه لوګي پورته کړي. مصطفی په بيړه چلم تازه کړ او د پلار مخې ته يې کيښود، چې غوښتل يې پورته شي، پلار يې لاس ونيو، ځان ته يې ورکش کړ، د هغه په غوږ کې يې وويل:

- ته به دې جنګ ته نه ځې، پوه شوې!

هغه دا وويل او د مصطفی لاس يې خوشی کړ. مصطفی له ځايه راولاړ شو مخکې له دې چې روان شي، نادر پرې غږ کړ:

- راشه!

مصطفی په لړزيدلو ګامونو د هغه خواته ورغی. نادر وپوښت:

- څه يې وويل؟

مصطفی تلولی شو، نه پوهيده څه ځواب ورکړي. سبحان له هغې خوا پرې چيغه کړه:

- نادره! مصطفی نه پريږدم چې دې جنګ ته ولاړ شي، پوه شوې؟

نادر د زخمي زمري غوندې له ځايه را جګ شو او وغوريد:

- څه دې وويل؟

- ومې ويل نه پريږدم چې مصطفی دې جګړې ته ولاړ شي، ته دې له خپلو انډيوالانو سره ولاړ شه، له هرچا سره چې جنګ کوې ويې کړه، پوه شوې؟ زه هغه دې جنګ ته پريږدم.

نادر نږدې راغی د هغه سر ته ودريد، سترګې يې لکه د وينو کاسې داسې شوې وې او د غاړې رګونه يې پړسيدلي وو:

- ته دلته ميلمه يې نه قوماندان. دلته زه پريکړه کوم چې څوک جنګ ته ولاړ شي څوک ولاړ نه شي. پوه شوې؟ مصطفی په سباني جنګ کې په اول خط کې دی. دا د مصطفی جنګ دی نه زما. هغه د نجلۍ ضامن شو زه يې نه پريښودم چې هغه ووژنم اوس هم بايد هغه بدل ورکړي.

نادر له هغه وروسته د سبحان پټو ونيو او هغه يې سپک له ځايه راولاړ کړ، خپل تندی يې د هغه پر تندي کيښود په داسې حال کې چې شونډې يې لړزيدې، په غضب يې خوله خلاصه کړه:

- سبحانه ډير مې وزغملې، له تا مې ډيرې سختې خبرې واوريدې، بس ده بس ده، نوره مې حوصله ختمه ده، نور ستا د چيچلو حوصله نه لرم.

نادر دا وويل او هغه يې پريښود، عثمان ته يې ور غږ کړ، عثمان د سترګو په رپ کې له خپلې پيکا سره حاضر شو:

- امر کوه ماما جانه!

- لاسونه يې ور وتړه!

- په سترګو ماماجانه.

نادر ظاهر او دلاور ته وکتل، په دې ډول يې هغوی پوه کړل چې ورسره مرسته وکړي. سبحان چې له نادر څخه د داسې جرات تمه نه لرله، په غوصه وويل:

- هر څوک چې رانږدې شي ګيله دې له ځانه کوي.

دغه اخطار کومه ګټه ونه کړه. ظاهر، عثمان او دلاور ورمنډه کړه د هغه لاسونه يې شاته په هغه په وينو لړلې رسۍ وتړل، چې څو شيبې دمخه يې د پسه پښې پرې تړلې وې.

نادر چې لا هم له قهره سره ايشيده امر وکړ چې پښې يې هم ور وتړي. عثمان خپل ماما ته وکتل، تر څو يې چې غوښتل څه وو‌ايي د قوماندان امر بيا تکرار شو:

- مه ورته ګوره، ومې ويل چې پښې يې هم ور وتړئ.

سبحان يې پر ځمکه واچاوه او د سترګو په رپ کې يې د هغه پښې هم وتړلې. نادر وويل:

– هغه محبس ته بوځئ چې عقل يې سرته راشي او بيا څوک ونه چيچي.

مصطفی چې حک حيران ولاړ و او په انديښنې سره يې حالت څاره، په بيړه نادر ته ورمنډه کړه په زاريو يې وويل:

– نادر کاکا! هغه زما پلار دی، بد يې نه غواړم، دا کار چې ته کوي هغه يې لايق نه دی، مه کوه نادر کاکا! پلار مې د يوې شپې محبس توان نه لري. د سمڅې يخ هغه له پښو غورځوي. مه کوه، د خدای په لحاظ مه کوه. زارۍ درته کوم.

– ماته زارۍ مه کوه، پلار ته دې زارۍ وکړه، چې زما شپه ورځ يې تياره کړې ده، له هغې ورځې چې دلته راغلی يو مرۍ مې له ستوني په ارامي نه ده تيره شوې.

سبحان چې د سترګو په رپ کې خپلې پښې او لاسونه تړلي وليدل، چيغه يې کړه:

– مصطفی دغه نامرد ته زارۍ مه کوه! پريږده چې ما سمڅې ته واچوي. زه نه له هغه ويريږم نه يې له سمڅې. ماته چې هر څه رارسيږي له خپله لاسه رارسيږي. ما سل ځله ددغه نامرده ژوند ژغورلی دی اوس لکه سپی پښيمانه يم. که هغه وخت مې پرې ايښی وای چې دا نامرد مړ شوی وای اوس به نه ته دلته وې نه زه او نه به په ګردنه کې ناحقه وينې تويېدې. مصطفی ته زما په خاطر دې نامرده ته زارۍ مه کوه! پريږده څه يې چې زړه غواړي ويې کړي.

د سبحان په دې خبرو د نادر قهر دوه چنده شو او خوله يې په سپکو سپورو خلاصه کړه:

- حرام زاده ګانو څه ته منتظر ياست؟ درته ومې ويل هغه يوسئ او سمڅې ته يې واچوئ.

عثمان د سبحان نس ته اوږه ورکړه په يوه حرکت سره يې هغه له ځايه را جګ کړ او په داسې حال کې چې ظاهر او دلاور سبحان له دواړو خواوو نيولی و، د سمڅې تکاو ته روان شول.

مصطفی په ژړا شو:

– نادر کاکا مه کوه! پلار مې د سپرغې طاقت نه لري. که غواړې زه په ډاډه زړه جنګ ته ولاړ شم، پلار مې سپرغې ته مه اچوه نادر کاکا زارۍ درته کوم.

نادر مصطفی ته ځیر شو، ورو یې ورته وویل:

– پوهیږې! پلار دې لیونی کړی یم، بله چاره مې نه لرله، هغه مې وډار کړ. نه یې پرېږدم چې هغه سپرغۍ ته واچوي، خو لاسونه یې نه ورخلاصوم، تر سبا باید تړلی وي چې عقل یې سرته راشي.

هغوی د سمڅې پای ته ورسیدل هغه ځای چې څو ګامه هاخوا د سپرغۍ په لور ورتاویدل، نادر غږ وکړ:

– بیرته راوګرځئ او هغه همداسې لاس وپښې تړلی په کوټه کې واچوئ، د مصطفی زور نه لرم.

عثمان، ظاهر او دلاور یو بل ته وکتل بیرته راوګرځیدل سبحان یې ډبرینې کوټې ته بوت هلته یې د بخارۍ خواته په توشکه واچاوه، نازنینه چې ویده وه د دوی په ورتلو سره ویښه شوه او د تړلي سبحان په لیدو سره یې چیغه کړه له دیوال سره ودریدله، عثمان ویریدلې نازنینې ته وکتل ویې ویل:

– نجلۍ مه ډارېږه ستا سبحان کاکا ډیره شوخي کوله ځکه مو د هغه لاسونه او پښې ور وتړل.

هغوی په خندا له سمڅ ډول کوټې راووتل او نادر ته ورغلل، نادر د تیارسئ امر ورکړ، ټولو د خپلو ټوپکو په خوا منډه کړه او څو شیبې وروسته د پوځي قطعې غوندې د نادر په مخ کې ودریدل. هغه هریوه ته په ځیر ځیر وکتل وروستي کس ته یې وویل:

ماینونه له چا سره دي؟.

دلاور ور غږ کړ:

– له ماسره دي نادرخانه!

– هر څه سم دي؟

ټولو یو ځای چیغې کړې:

–هو صاحب!

– بوټونه، پایتاوې، جاکټونه او جمپرونه مو ګرم دي؟

– هو صاحب!

– پلي ځو، پام کوئ چې د چا لاس یا پښه مات نه شي چې بیا یې قرارګاه ته نه شو لیږدولی، نو د لارې واورو او یخک ته مو پام وي.

– په سترګو.

نادر له ظاهر څخه خپل دوربین او ټوپک واخیستل او روان شو، ورپسې مصطفی، ظاهر، عثمان، دلاور او د ګروپ نور غړي په ځنځیري شکل پسې روان شول. داسې ځنځیر چې هره کړۍ یې یوه لیوه و.

هغوی په ارامي سره له غره راتاو شول او د «بادامتو» په لوري وګرځیدل، په دې وخت کې عثمان نادر ته ورنږدې شو ویې ویل:

– نادر ماما! د سبحان لاس او پښې ورتړل او سمڅې ته اچول یو څه عجیب راته ښکاره شول.

نادر په تعجب سره وپوښتل:

– ولې؟
– هغه مو په کوټه کې له نجلۍ سره واچاوه، نجلۍ یې لاس ور خلاصوي.
نادر وخندل:

- کمعقله پوهیږم چې یا پخپله یا هم نجلۍ د هغه لاسونه ورخلاصوي، یوازې مې غوښتل په دې ډول هغه له خپلې مخې چپ کړم تر څو د هغه له مزاحمته پرته حرکت وکړو.

عثمان چې خپل ځواب اوریدلی و بیرته د کتار منځ ته ورغی، خو نادر مصطفی ته مخ ور واړاوه ویې ویل:

- مصطفی خانه سبا چې بیرته راوګرځیدو یو ځل بیا ستا د پلار لاسونه او پښې ترم او هغه پر آس ترم خپل کلیوال ظاهر ته یې سپارم چې هغه «معلومه» ته بوځي او له شره یې خلاص شم. که د هغه پر ځای هرڅوک وای اوس به یې هډوکي سپي خوړلي وو، لا پخوا به مې وژلی و.

مصطفی خپل سر د خپل جمپر په خولۍ کې د ننه کړ، ځواب یې ورنه کړ، هغه په یو عجیب حالت کې و، فکر یې کاوه نه کورته د تلو لاره لري او نه هغه غوټه خلاصولی شي چې پلار یې جوړه کړې وه. نازنینه یوه بله ستونزه وه چې بیرته ورسپارل او د نادر د لسو زرو ډالرو ترلاسه کول آسانه خبره نه وه.

له نادر سره یې د پلار ناندریو زړه خوړ او هره شیبه پیښې ته منتظر و، ویریده هسې نه نابېره د نادر ټوپک میل دده د پلار خواته واوړي او مخکې له دې چې کوم کار وکړي مرمۍ یې د پلار تن سوری سوری کړي. ښایي دا د نادر خبره وي چې وايي لاس او پښې ورترم او کورته یې استوم خو له دې ټولو دمخه باید خپل ټول توان د یوه بهرني سرباز د نیولو لپاره په کار واچوي. نادر ویلي و چې دا جنګ د مصطفی جنګ دی. که د نجلۍ ضامن شوی نه وای نن ښایي کار دې ځای ته نه وای رسیدلی.

سپوږمۍ بشپړه وه او ټول ځایونه یې روښانه کړي وو، په آسمان کې هیڅ وریځ نه وه هغوی د آسماني غره له لوړو څخه راتیر شوي وو او د بادامتو د کلي له څنګه چې سپیو یې پرله پسې غپل، تیریدل. سوړ باد چلیده او له یخیو او واورو څخه په تیریدو سره یې سخت ساړه له ځانه سره هرې خواته وړل. یو ساعت ورروسته «دمجو» ته رسیدل. نادر باید لومړی په لاره کې ماینونه ایښې وای.

نادر د دمجو له هرې ډېرې او بوټي سره بلد و او دا ځای یې د سبزک بند تر هر ځای ښه پیژاند. دمجو دده د زیږیدو د ځای میرزابهار ترڅنګ پروت و او نادر خپلې لومړۍ غلاوې او لارې نیونې له همدې ځایه پیل کړې وې. هغه په تیرو دوو ورځو کې پر ایټالوي ځواکونو د برید پلان په دقیق ډول سنجولی و او د جګړې او تیښتې لارې یې یوه یوه څیړلې وه.

د میرزابهار دښتې ته ورسیدل او له لیرې د شپوږمۍ په رڼا کې د نادر کلی راښکاره شو. ډیره وخت کیده چې هغه خپل کور ته نه و، تللی، ډاریده هسې نه په دې هواره سیمه کې ونه نیول شي. هغه د لور له پیښې دمخه کله کله پټ پټ کلي ته ورتلو څو ساعته به یې د خپلې ځوانې میرمنې ترڅنګ تیرول او له لمرختو دمخه به له کلي څخه ووت.

نادر د میرزابهار په لیدو ناڅاپه خپل کور ته د تلو هوس وکړ، ودرید او ټوله ډله یې ځای پرځای پښنه نیولې شوه، ظاهر چې ډیر هوښیار و، ورو یې وخندل د عثمان غوږ ته یې خوله ورنږدې کړه ویې ویل:

– نادرخان ستا د ترور هوس کړی دی!

ظاهر سمه خبره کړې وه، نادر ژغ وکړ:

- هلکانو څوبجې دي؟

مصطفی خپل ساعت ته وکتل ویې ویل:

- دشپې دوه بجې دي.

- نو لا وخت لرو، زه په بیړه کلا ته ځم. د عثمان د ترور احوال اخلم ژر راځم، تاسې ددغه خوړ په بیخ کې کینئ چې خطر درته نه وي.

هغه دا وویل او چټکو ګامونو د میرزابهار په لوري تاو شو، ظاهر ورژغ کړ:

– څوک له ځانه سره نه بیایې؟

– نه، اضافي ښځه نه لرم.

ټولو هلکانو د نادر په دې ټوکه وخندل او کډې ته ورکوز شول. پوره دوه ساعته یې کیسې وکړې او په یوه بل یې ټوکې وکړې چې نادر بیا راښکاره شو، هغه نوې لونګۍ او جامې اغوستې وې چې د ګلاب د عطر بوی ترې لتیده. کله چې روان شول ظاهر وویل:

– نادرخانه نوی نوزی شوی یې!

– بس برابري ده نو، کله چې د کور له څنګه تیریدم رګ رګ مې راباندې آواز کاوه، ومې ویل یو احوال واخلم، ښځه ښه شی دی. اوس نو جنګ کوو.

یو ساعت وروسته دمجو ته ورسیدل نادر په یوه لوړ ځای ودرید او له هغه ځایه یې کرخ ته وکتل د سیند له څنګه لاره چپیدله او شمال خواته تلله له دری سوه متره وروسته بیا راګرځیدله او له یوه کږلیچه د ارملک دښتې ته سمیدله. ددغې سیمې په ختیځ کې یوه غونډۍ پرته وه چې د هغې له سره د لارې کږلیچونه یوځای ښکاریدل. له سیند څخه دوه ویالې لکه پړسیدلي رګونه جلا شوې وې. یوه شمال ته تله بله لویدیځ ته. د سیند دشمال ویاله ارملک کلي ته او د لویدیځ خوا ویاله د میرزابهار کلي په لوري بهیدله. دغه دواړه ویالې د برید لپاره مناسب سنګرونه وو.

نادر ټول ګروپ راټول کړ سیمه چې د سپوږمۍ رڼا ته ښه معلومیدله دوی ته وروښودله ویې ویل:

- دوه ماینونه تر کږلیچ لاندې د سلو مترو په واټن خښ کړئ، ریموټونه له ماسره دي کله چې لومړی موټر راورسید او له ماین څخه تیر شو ماین ته چاودنه ورکوم چې د نور کاروان لاره بنده شي.

دویم ماین هم له کاروانه د جلا شوي موټر مخې ته چووم چې نه د بیرته ګرځیدو لاره ولري نه هم په مخه تلای شي. مصطفی، عثمان، دلاور او اووه کسه نور له هغې غونډۍ څخه د ماین له چاودنې وروسته نور موټرونه تر اور لاندې نیسي. لس پنځلس دقیقې باید توغندي او ماشینګنې بې له ځنډه فیرونه وکړي. سلطان او نور شپږ کسه سرک

ته نږدې د ویالې له غاړې د موټر نیولو ته منتظر دي او د دویم ماین په چاودیدو سره د آر پي جي په وسیله پر موټر برید کوي. په موټر کې څلور کسه سپاره دي فقط یو تن یې ژوندی غواړم که یې مقاومت وکړ پاتې کسان ووژنئ پر هیڅا رحم مه کوئ ټول کوښښ مو باید دا وي چې یو یې ژوندی ونیسئ کله چې کار خلاص شو له سینده دې غاړې ته مه راځئ. هغوی چې د سرک پر سر دي په یوه منډه دې غونډۍ ته وخیږي او هغوی چې پورته دې لاندې دې را کوز شي او له نورو سره یو ځای دې«خواجه چهارشنبې» ته وتښتي کله چې تنګي ته ورسیدل له سرک دې ژر تیر شي او د کوه شصت له لارې دې د درو په منځ کې ځانونه قرارګاه ته ورسوي. زه او ظاهر هم دلته د جر تر څنګ پټېږو تر څو هم تاسې او هم کاروان ولیدلای شو. مخابرې مو چالانې پریږدئ که کومه بله خبره شوه زه له دې ځایه تاسې خبروم.

هغه د دندو له ویشلو وروسته د میرزابهار دښتې له لوړ ځایه راښکته شو له سیند څخه واوښت له خپلو کسانو سره یو ځای ګردنې ته ولاړاو د ماینونو له خښولو وروسته یې یوه ډله له سرکه لږ پورته د خاک ریزجو سیمې خواته او بله ډله یې د مصطفی په مشرۍ د غونډۍ سرته ولیږله. دی او ظاهر بیرته له سینده پورې وتل او خپل لومړي ځای ته راوګرځیدل او د کاروان تیریدو ته سترګې په لاره پټ کیناستل .

د هغه ځای چوپتیا د خواجه چهارشنبې له تنګي څخه د لګیدونکي باد آواز ماتوله. سپوږمۍ ورووړو کمیدله او د سپیدو په چاودیدو سره یې خپله رڼایي له لاسه ورکوله، سپوږمۍ روانه وه چې د چهارتاق د غره شاته پټه شي.

کله چې رڼایي زیاته شوه، د مسافرو لومړني موټرونه راښکاره شول. څو سراچه، تونس او پیک اپ موټرونه تیر شول او په دمجو بیا چوپتیا خوره شوه. نادر خپله مخابره چالان کړه او دوربین یې لیرې ځای ته برابر کړ چې د لطیف غږ واوریدل شو:

– «شاهین»... «شاهین»... زما آواز اورې؟

نادر په بیړه د مخابرې تڼۍ کیکاږله ویې ویل:

– «عقاب یک» ستا آواز اورم.

– چیرې یې؟

– د وظیفې په ځای کې.

– ډیر ښه! میلمانه دې شل دقیقې وروسته در رسیږي. ښه میلمه پالنه یې وکړه.

– په سترګو! مورږ خدمت ته چمتو یو.

– خدای پامان.

مخابره بنده شوه نادر ګردنې او بیا لارې ته وکتل. لاره ښه رڼا شوې وه او له هغه پورته ځایه یې لوړې ژورې ښکاریدې. دده کسان پخپلو پټنځایونو کې داسې برخلیک ټاکونکې جګړې ته سترګې په لاره و، چې ګټل او بایلل یې د دوی په دقت او چټکیتا پورې تړلي و. شیبې ورووړو تیریدلې ، د مسافرو څو نور موټرونه هم د ټوپکوالو له شتونه ناخبره تیر شول د سیند له څنګه تیر شول او وروسته د واټ په کږو ونو کې پټ شول.

نادر خپل دوربین سترګو ته ونیو او هغه لاره چې د مارغوندې د ارملک له دښتې د شربت کلا په لوري پیچ غځېدلې وه وکتله. لا کوم کاروان نه ترسترګو کېده. یوازې لیني او شخصي موټرونه ښکارېدل چې په لاره تېرېدل.

لمر د دوندر له غره سر راښکاره کاوه او شپې خپله ورروستۍ ساه ایستله د نادر سترګې د دوربین له شا په پوځي کتار ولګېدې. هغه په بېړه مخابره راپورته کړه تنۍ یې کیکاږله ویې ویل:

– هلکانو! تیار اوسئ چې میلمانه راورسېدل.

مخابره یې ظاهر ته ورکړه یوځل بیا یې دوربین سترګو ته ونیو. کاروان سوکه په سرک روان و او هغه ځای ته په رسېدو و چې پوخ سرک ختمېده او خامه سرک شروع کېده. نادر یویو موټر حساب کړ. اته ټانکونه او شپاړلس زغره وال جیپان ول چې په منځ کې یې د افغان ځواکونو لس رینجیرې هم تر سترګو کېدې. د ایټالوي ځواکونو په منځ کې د افغان سرتیرو شتون نادر ته پوښتنې راپیدا کړې. نادر له ځانه سره وویل: دا نو بیا له کومه شول؟ دا نابللي میلمانه ګردنې ته نارسیده کباب کوم. ددوی اجل رارسیدلی دی چې ځانونه یې ددغه کتار په لکۍ پورې تړلي دي.

کاروان چې د کړلیچ یو کیلومتري ته ورسید، ودرید. نادر یو ځل بیا دوربین سترګو ته ونیو په حیراني سره یې ولیدل چې کاروان له لنډې تمیدا وروسته په بیړه په دښته کې وپاشل شو او جګړه ایز حالت یې غوره کړ.

د نادر زړه ولړزیده فکر یې وکړ چې سرتیري یې له کمین څخه خبر شوي دي.

هغه په بیړه دوربین ایسته کړ په نږدې فضا کې یې څلور هلیکوپټر ولیدل چې د سیند تر څنګ د دمجو سرته رسیدل، ده په بیړه ظاهر ته وویل:

– ژر ځانونه ویالې ته واچوئ!

پخپله یې ځان شاته واچاوه یو څه ورغړید او ویالې ته ولوید ظاهر هم د سترګو په رپ کې ځان ور ورساوه کله یې چې ځان د جر په اوبو وړي ځای کې پټاوه د مخابرې تنۍ یې کیکاږله ویې ویل:

– هلکانو! ژر بیرته وګرځئ چې په تلکه کې ولویدو.

خو نور ناوخته شوي و. د هغه ځای چوپتیا د څو بمونو چاودنې ماته کړه له هغه وروسته له هرې خوا د توغندیو او سپکو وسلو ډزې واوریدل شوې. نادر چې هلته ښه بلد و په منډه د هغه جر له لارې چې یو ځل پخوا یې هغه ژغورلی و په منډه شو. وروسته یې خپل ګامونه سست کړل او د یوه غار په لیدو سره په چټکتیا له ظاهر سره یو ځای په هغه غار ننوت. دغه کنده د میرزابهار دښتې په منځ کې غځیدلی و. چې د بادامتو کلي له لوړو څخه پیلیده او د څو څانګو له جوړیدو وروسته د کرخ سیند ته رسیده. دغه کنده له ډیرو کلونو مخکې د اوبو له امله جوړه شوې وه او د دښتې په منځ کې یوه لوی چاک ته ورته وه چې زرګونه چولې او غارونه یې لرل. نادر له دې کندې څخه سل ځله برید کړی و او سل ځله تښتیدلی و دلته ښه بلد و ځکه خو د نني برید په وخت کې هم دلته ناست و چې د خطر په وخت کې په یوه چوله ننوځي.

چې ساه یې جوړه کړه ظاهر ته یې وویل:

– لکه چې جګړه ودریده.

ظاهر غوږ ونیو وروسته یې وویل:

– د ډزو آواز نه اوریدل کیږي، خو طیارې لا ګرځي.

نادر غلی شو. تر اوسه په داسې لومه کې نه و، ګیر شوی. کالي یې ککړ شوي او د ګلاب د عطرو د بوی هم کوم درک نه و، کندې ته د ورلویدو له امله یې ټول وجود درد کاوه، هغه ظاهر ته په مایوسي وویل:

- هلکان ټول ووژل شول، تباه شوو. لطیفه! لعنت په مورې چې په تا خایین مو باور وکړ. تا مورې خرڅ کړو، تا له مورې سره خیانت وکړ، له تا به غچ واخلم.

ظاهر هم تر نادر په ښه حالت کې نه و. سره له دې چې د جګړې له ډګره تښتیدلی و، خپلو انډیوالانو ته په اندیښنه کې و .

د نادر د غاړې دردونو سوکه سوکه ځان راښکاره کاوه. هغه د خپل غوږ شاته لاس یووړ، لږ یې ټینګ کړ ظاهر ته یې وویل:

- یوه مخابره چالان کړه! وګوره له هغې خوا ځواب درکوي؟

ظاهر وویل:

- تر څو چې طیارې په آسمان کې وي، د مخابرې چالانول ښه نه دي.

نادر څه ونه ویل، زړه یې له غمه ډک و. یو ځل بیا یې لطیف ته درد راغلی و: خایینه کثیفه، نامرده، پسته، ټول هرات دې چور کړ، د هرات ټولې پیسې له تاسره دي، لا مورې نه یې، بیا دې هم زه خرڅ کړم! پسته خایینه! چې په لاس راغلې په دراګُنوف به دې مغز باد باد کړم هغه وخت به پوه شې چې د نادر خرڅول یعنې څه؟

نادر دا وویل بیا د قادر خبرې وریاد شوې چې له وژلو دمخه یې په ټیلیفون کې ورته کړې وې(( هغه ورځې چې تا د کرخ په خلکو حکومت کاوه، ولاړې. اوس ته پخپله د حکومتیانو له ویرې لکه موږک په غرونو کې پټیږې. ما ستا پته هغوی ته ورکړه او ورته ومې ویل چې د ارملک– بند سبزک د لارې جوړیدل تا ځنډولي دي. ورته ومې ویل هغه غنم چې د بادغیس خلکو ته لیږل کیدل تا غلا کړل. ورته ومې ویل چې ته د ګردنې د سر غل یې بس. حکومت هم ستا له ټولو شهکارونو خبر دی، ډیر ژر به دې پخپله سزا ورسوي))

نو دا برید د قادر د راپور او لطیف د خیانت له وجې شوی و؟ عجب نو هر څه ښکاره دي او ما ساده فکر کاوه چې دا کار یوه معامله ده. لطیف نو نه اسیر غوښت نه هم کوم جنګ، هغه غوښتل په دې ډول مورې په دام کې ګیر کړي او ووژل شو. عجب خر وم چې د قادر اخطارونو ته مې توجه ونه کړه عجب خر وم چې د هغه وریره مې ونه وژله.

اوس نو هیڅ ځای زما لپاره امن نشته. اوس نو د آسماني غره قرارګاه هم راته امن نه ده. که خبر شي چې د نن ورځې په کمین کې وژل شوی نه یم د آسماني غره قرارګاه هم پیدا کوي. قادر د هغه ځای پته ورکړې ده نور هیڅ ځای امن نشته. په هیڅ ځای او هیچا باور نه لرم. قادره! تر خاورو لاندې دې هم ارام نه پریږدم. چې څنګه قرارګاه ته

ورسیدم وریره دې حلالوم. سبحان هم وژنم. نور د هغه د خبرو حوصله نه لرم. هر څوک چې مې مخې ته راشي سوری سوری کوم یې. نفر مې چیرې دي؟ عثمانه ووژل شوې؟ مصطفی ته څه شوې؟ دلاوره ته چیرې یې؟

نادر وحشت زده ظاهر ته وکتل ویې پوښت:

–ظاهره ته ژوندی یې؟

– هو نادرخانه! ژوندی یم.

– ظاهره تباه شوو. مونږ یې خرڅ کړو، زما ګروپ تارومار شو. زه ټول عمر له خارجیانو سره له جګړې ویریدم. نه مې غوښتل ورسره مخامخ شم خو زه یې وغولولم او په چل یې دې جنګ ته راوستم. که په دې معامله کې صداقت وای او هغوی بې خبره دمجو ته رسیدلي وای مونږ وړونکي و. زما نقشې کوم عیب نه درلود. هیڅ نیمګړتیا یې نه لرله د هرڅه په اړه مې فکر کړی و. اوس پوهیږم چې لطیف ولې ټینګار کاوه چې کمین دې په دمجو کې وي. لطیفه! وینې به دې وڅښم. ځیګر به دې کباب کړم، سترګې دې راباسم. پیدا کوم دې، کله چې زما دراګُنوف ته برابر شوې پوهیږې چې خیانت یعني څه. پوهیږې چې نادر څوک دی ټټه دې سوری کوم حکومتیانو چې تاته پیسې درکړې را دې شي ستا په مردار جسد دې وژاړي، ها ی های دې وکړي...

– ظاهره مونږ چیرته یو؟

– د دښتې په منځ کې په کنده کې.

– راځه چې ورو ولاړ شو، طیارې لا ګرځي؟

– باید ویې ګورو، آواز خو یې نه راځي.

ظاهر دا وویل له غاره راووت او ورو د لوټو په منځ کې پورته ولاړ، اول یې آسمان ته وکتل بیا یې دمجو ته سترګې واړولې، ډیر لیرې لا الوتکې په هوا کې ګرځیدې، هغه بیرته نادر ته راغی ویې ویل:

– هلیکوپټر لا پر دمجو راتاویږي، خو د ډزو هیڅ ژغ نه اوریدل کیږي.

نادر په نهیلۍ وویل:

– ټول یې ووژل، زما کسان یې راتمام کړل، زما ډله ختمه شوه، هغوی ډیر بد ځای و له طیارې څخه خلاصیدای نه شوای ما د طیارو فکر هیڅ نه و کړی. اصلاً دا جنګ یوه دسیسه وه، مونږ یې خرڅ کړي و. نن شپه حتماً په راډیو کې اعلانوي چې نادر او ډله یې تاورمار شوه. وایي چې نادر او ډله یې د خلکو په مرسته د امنیتي ځواکونو د هڅو په پایله کې له پښو وغورځول شوه. خبر نه دي چې یو خایین  د دوست په جامه کې راغی مونږ یې خرڅ کړو. زه نور په هیڅا باور نه لرم. له دې ځایه ځم، که مې نفر وژل شوي وي څو نور راټولوم له «بند سبزک» څخه ها پلو ځم. نور نه پریږدم چې پر دې لاره ژوندی سری هم روغ تیر شي. چې یوڅه برابر شوم په لطیف پسې ځم او تی خوری ماشوم یې هم تر تیغ تیروم لکه قادر چې خپله کلا مې ورته په جهنم بدله کړه. سیاوشان یې په وینو او خاورو ورته لړم، څه چې ځو. باید سوکه سوکه ځانونه «بادامتو» ته ورسوو. دغه کنده مو د بادامتو خواته رسوي. هلته چې ورسیدو، یو څوک لیږو چې له سرکه راته احوال راوړي.

نادر په داسې حال کې چې خپله غاړه موښله له غاړه راووت اوږه يې هم خوږ شوې وه ټول بدن يې خوږيده.

- ظاهره ته راشه ترما مخکې روان شه پام دې وي! زه ډار شوی يم. له دې نامردي او خيانته وروسته زه له خپل سيوري هم ډاريږم، راځه مخکې شه.
- په سترګو نادرخانه!
- ظاهر ماشيندار په لاس کې ونيو او لاس په ماشه په کنده کې مخ په وړاندې روان شو. نادر په ځيګروي او کنځلو پسې رهي شو، هغوی اوږده لاره ووهله د کندې د ختميدو په درشل کې نادر ناڅاپه ودريد:
- ظاهره دلته مخابره چالان کړه نور زغم نه لرم غواړم پوه شم په نفرو مې څه راغلي دي، هرڅه چې کيږي ودې شي نوره حوصله نه لرم مخابره چالان کړه.

ظاهر له کندې يوڅه راپورته شو مخابره يې له جيبه راوايستله کله يې چې غوښتل هغه چالان کړي ناڅاپه لاندې راولويد نادر يې پټنځای ته راکش کړ ويې ويل:

- طيارې موږ ته رانږدې کيږي.

د نادر زړه په لړزيدو شو. هغه په يوه شيبه کې مرګ پخپلو سترګو وليد احساس يې کړه چې ډير ژر به په توغندي ټوټه ټوټه شي. هليکوپترونه له هغوی لږ لاندې خوا له کندې تير شول او ولاړل. ظاهر څو دقيقې نور هم هغه ډول نادر ته ډال و چې له ويرې يې ساه بنده شوې وه.

هغه هيڅ حرکت نه کاوه او لا يې خپل غوښن بدن په ځمکه پورې نښلاوه او سر يې په چوله ننويست. نادر غوږ ونيو چې کوم آواز يې وانه وريده له نادر څخه راپورته شو ويې ويل:

- ولاړل.

نادر ورو سر راپورته کړ په نباوری- يې وويل:

- نن موږ نه پريږدي، ټول يې ووژل اوس په ماپسې ګرځي. هيڅ وخت په داسې لومه کې نه وم لويدلی.

ظاهر د ځوځو د يوه بوټي خواته اوږد وغځيد خپل دوست مصطفی يې ورياد شو چې ورته ويلي يې و(( ما د نګارې په خاطر ټوپک په اوږه کړی دی د نګارې له مرګه وروسته دغه ټوپک زما پر اوږو دروند دی اوس له غره کرکه لرم، د نادر ليدل راته يو عذاب دی که د زينليانو په وژلو کې شريک نه وای يوه شيبه هم دلته نه پاته کيدم. که پيسې مې مطلب وای لطيف سياوشاني ته ورتلم اوس هم که د نادر دا ليونتوبونه همداسې روان وي که بيا معلومه ته تلای نه شوای سياوشان ته ځم تا هم له ځانه سره ولم))

د ظاهر په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې له ځانه سره يې وويل: مصطفی! په هيڅا باور نه شي کيدای، نن هرڅوک د ځان په فکر کې دي. هغه لطيف چې تا غوښتل ورشې دادی موږ ټول خرڅ کړو ټول يې وژلو ته ورکړو، اوس څوک په چا رحم نه کوي ټول يوازې د ځان په اړه فکر کوي. ظاهر نابېره متوجه شو چې دی هم د مصطفی په برخليک اخته دی او د بيرته ګرځيدا لاره نه لري. پام يې شو چې دی هم نور کورته نه شي تلای. مور يې هيله لرله چې زوی يې زوم شي. خو ده نور د زوم کيدو شرايط نه لرل تر څو چې ژوندی وي بايد د غرونو په منځ کې په تيښته

ژوند تیر کړي. ناڅاپه په دې فکر شو چې نادر یې ژوند ور خراب کړی دی. دی یې خوشحاله کړی چې خزانه دار یې ټاکلی دی. په پیسو څه وکړي؟ په دې پیسو یې نه واده کولی شوای نه یې کور اخیستی شوای نه یې کولای شوای د نورو غوندې ښار ته ولاړ شي او په دکانونو او لوکسو مغازو کې څه شی واخلي. نو دا پیسې دده کوم درد دوا کوي؟ نادر د ژوند لپاره او د ځان ژغورلو لاره چاره سنجوله چې نادر پرې ژغ کړ:

– ورشه ورو وګوره چې حالت څنګه دی.

نادر هغه ته وکتل چې لا یې په کلږي کې ځان په ځمکه پورې نښلولی و، ویې ویل:

– سمه ده وبه ګورم.

هغه ورو پورته وڅکید څلورو خواوو ته یې وکتل له هماغه ځایه یې وویل:

– کراري ده، طیارې تللې دي.

– نادر له ځایه را ولاړ شو د خپلو جامو دوړې او ګرزونه یې وڅنډل، ټوپک یې راواخیست ویې ویل:

– څه چې ځو.

دواړه په کنده کې روان شول چې کنده اخیر شوه، نادر ظاهر ته وویل چې اوس دې مخابره چالان کړي. ظاهر مخابره چالان کړه چې غوښتل یې څه ووایي له هغې خوا د عثمان آواز واوریدل شو:

–«شاهین» اورې؟

ظاهر په بیړه وویل:

– هو اورم، اورم.

نادر په بیړه له ظاهره مخابره واخیسته:

– ژوندی یې؟

– هو زه او مصطفی روغ یو، زخمیان هم لرو. د دلاور یوه پښه پرې شوه اوس مصطفی په اوږو کړی دی.

– نور هلکان څه شول؟

– ټول ووژل شول.

د نادر بدن ولړزید غږ یې نیولی و:

– اوس چیرې یاست؟

– اوس له سیمې راوتلي یو د پسرلني کور په لور روان یو.

نادر د پسرلني کور په معنا پوه شو ویې ویل:

– سمه ده نادر هم تاسې ته درلیږم چې د دلاور لپاره پیسې راوړي. هغه قرارګاه ته مه وړئ. مصطفی ته ووایه چې هغه د سیمې له خلکو څخه له یوه کس سره ښار ته ولیږي. زه په آره کوه کې درته سترګې په لاره یم. همدا اوس حرکت وکړه. ظاهر چې هلته ورسید او ټپي یې روغتون ته ولیږه، له مصطفی سره یو ځای قرارګاه ته راوګرځه.

– په سترګو.

مخابره بنده شوه او هماغسې د نادر په لاس کې پاتې شوه. پر ځمکه د نادر سیوری لړزیده.

– زما حدس سم و. زما ګروپ له منځه ولاړ، تباه شوم. دا هلکان مې د زړه په وینو سره راټول کړي وو.

نادر سوړ اسویلی له خولې وایست له لږ چوپتیا وروسته یې وویل:

– ظاهره ته کوه شصت ته ولاړ شه مصطفی او عثمان پیدا کړه، دلاور ته یو څه پیسې ورکړه چې علاج پرې وکړي. هغه دې چې ښار ته ولیږه له مصطفی سره یو ځای قرارګاه ته راشه. له بادامتو چې تیر شوو زه له تا جلا کیږم ښايي عثمان تر ما مخکې اره کوه ته ورسیږي. زه له هغه سره قرارګاه ته ځم او هلته به تاسې ته سترګې په لاره یم چې تاسې هم هلته راورسیدئ کینو او خبرې کوو. نور په آسماني غره کې پاتې کیدل له خطره خالي نه دي باید یوه لاره چاره وسنجوو.

نادر او ظاهر چې له بادامتو تیر شول سره جلا شول نادر د اره کوه په خوا لاره چپه کړه او ظاهر شصت غره ته.

نادر د خپل برخلیک درد پخپلو اوږو او هډوکو حس کاوه. غر اودرد درد او غر. دا دواړه سره نږدې شول دده د بدیو په اندازه یې بار جوړ کړ. نادر ډیر بد کړي و او اوس یې د هغو درندوالی پخپلو اوږو احساساوه. د دوندر غره د لیوانو مشر اوس په خاورو کې پروت و. نه د تلو نه د ولاړیدو.

دوندر د لیوانو سرګروپ د غره په واورینو ډبرو پښې ایښودې او په ستما یې د پورته کیدلو هوډ کاوه خپل غم یې د خپلې ډلې د قدمونو له نښو سره ویشه چې تیره شپه له دې غره تیر شوي وو.

هغه له ځانه سره ویل: بیا باید هرڅه له سره پیل کړم. دا ځل د ټولو دښمن کیږم. نور داخلي او خارجي نشته د ټولو دښمن یم. نه په حکومتي رحم کوم نه په خارجي، دا ځل داسې یوه ډله جوړوم چې د نوم په اوریدو یې د لطیف متیازې ولاړې شي. اول هغه ته ورځم او خپل غچ ترې اخلم. لمسیان یې لا ژوندي نه پریږدم، سیاوشان ته اور اچوم. داسې محشر به جوړ کړم چې د زینلیانو عام وژنه د خلکو هیره شي. داسې قتلونه کوم چې په اوریدو یې د هر ژوندي ساري بدن ولړزیږي.

نادر په زګیروي اره کوه ته ورسید. او د غره په سر یې په عثمان سترګې ولګیدې. عثمان له ډیرو کلونو راهیسې داسې شوی و، لکه دی. ربښتیا وایي چې اوسي په خوی به د هغو سې. عثمان د نادر خوی خپل کړی و.

– عثمانه ته زخمي شوی یې؟

– یه ماماجانه! ما او مصطفی دلاور تر کوه شصته په اوږو یوړ.

– تاسې طیارو وویشتئ.

عثمان سوړ اسویلی وکیښ ویې ویل:

– هو ماما هماغه وخت چې ستا آواز مو په مخابره کې واورید او ودې ویل چې طیارې راغلې. موږ هم ولیدې او ژر له غونډۍ را ښکته شوو. خو هغه څو کسه چې له موږ لیرې د غونډۍ پر سر و د راکټ خوراک شول او هغه هلکان چې لاندې وو هم روغ پاته نه شول.

– عثمانه ته پوه شوې چې موږ لطیف خرڅ کړي وو؟

– پوه شوم همدا چې کتار ودرید، پوه شوم چې دوی زموږ له کمینه خبر دي، خو نور ناوخته شوي و او طیارې رارسیدلې وې. موږ په چټکۍ را کوز شوو خو دلاور چې ناوخته له ځایه را پاڅیدلی و راکټ پرې ولګید او د غونډۍ له سره لاندې زموږ مخ ته ولوید. هغه مو راپورته کړ په بیړه تر یوې ډبرې لاندې ننوتلو. طیارې هلته ډیرې وګرځیدې. یو په بل پسې یې توغندي ویشتل ډیر وخت زموږ پر سر وګرځیدې همدا چې زموږ له سره لړ لیرې شوې په چټکۍ سره د خواجه چهارشنبې په لوري وتښتیدو او له سیمې را لیرې شوو.

نادر د عثمان د کیسې په اوریدو سره پر یوه ډبره کیناست ستونی یې راډک شوی و، شونډې یې لړزیدې او د غاړې رګونه یې پړسیدلي و. د لونګۍ په شمله یې پوزه پاکه کړه په نهیلۍ سره یې وویل:

خوریې پوهیږې! دې لطیف موږ خرڅ کړو، موږ یې تباه کړو، ما تراوسه داسې ماته نه وه لیدلې. اوس باید هرڅه له سره پیل کړو. کسان راټول کړو او ډیر ژر په هغه پسې ولاړ شو، زه خپل غچ اخلم، نه پریږدم چې هغه داسې بې خیاله اسوده وګرځي، تباه کوم یې، تخم یې له ځمکې ورک کوم.

عثمان ورغی د نادر پر اوږه یې لاس کیښود ویې ویل:

– څه چې ځو ماما، قرارګاه ته چې ورسیدو، خبرې به سره وکړو.

□

تیره شپه سخته شپه وه، بد خوبونه یې لیدل، سره له دې چې د نازنینې په مرسته یې لاسونه خلاص کړي و، خو تمامه شپه د اور تر څنګ ناست و او تریاک یې خوړل، چلم یې څکولی و او چای یې سور کړی و. د نازنینې ټوخې یې زړه خوړلی و او د زوی برخلیک هغه تر پخوا زیات اندیښمن کړی و.

هغه تمامه شپه چورت وهلی و: زوی مې وژل کیږي که نن نه وي سبا وژل کیږي. نادر لیونی ټول د مرګ خولې ته ورکوي تر څو چې خپله وژل کیږي په زرګونو نور مرګ ته برابروي. زه دلته نندارچي شوم. لاس وپښې مې تړي او د سمڅې په کونج کې مې اچوي، زوی مې ګوري. حالت مې تردې نه بدتریږي. هی هی مصطفی زما لاس وپښې تړلي و تا راته وکتل او ولاړې. ولاړې او هیڅ فکر دې ونه کړ چې زوړ او ناتوانه پلار دې له څومره لیرې ستا د بیولو لپاره راغلی دی او نادر له هغه سره دا وکړل. آی نامرده بې احساسه! پلار دې تړي او ته ورته ګورې او بیا هم له هغوی سره ځې چې لاحقه وینه توی کړې. نه پریږدم، نه پریږدم چې د نادر یوه پښه زما پر سینه او بله یې ستا پر ټټر وي.

مصطفی په سد شه، نادر په تا کوډې کړې دي، له تا څخه د مزدور په ډول کار اخلي. مصطفی لږ غیرت در وړاندې کړ صاف ورته ووایه چې ته دده غلام نه یې، ټوپک یې مخې ته ور واچوه چې ولاړ شو. مه پریږده تا هم زما غوندې د ځان سپی کړي، مه پریږده له تا جلاد جوړ کړي.

سبحان تمامه شپه نازنینې ته چې سخت ټوخي يې له غمجنو سترګو خوب تښتولی و، کتل. نازنينه شيبه په شيبه کمزورې کیده نور يې د ټوخيدو توان هم نه درلود. هغه لکه د پروړې پاڼه داسې شوې وه نور يې د ژړيدو توان هم نه درلود.

سبحان ټوله شپه د مصطفی او نازنینې د ژغورلو په اړه فکر کړی و ، سهار ژر وتلی و قرارګاه ته مخامخ د دوو ډبرو په منځ کې ناست و، ټوپک يې په ډبره ايښی و، هوډ يې کړی و چې کار تمام کړي.

ساعت لس بجې شوې وې، يوولس شوې وې، دولس شوې وې او دوو ته نږدې شوې وې، سبحان لا لکه ډبره پخپل ځای ناست و او سترګې يې کړليچ ته نيولې وې. په اندیښنه کې و سوکه سوکه په دې فکر شوی و چې له خارجيانو سره له جګړې څوک روغ رمټ نه شي راستنيدای دوی ټول وژل شوي نو د ډبرې ترڅنګ کیناستل بې ګټې دي. کم کم نهيلی کيده او غوښتل يې چې له خپله ځايه راپاڅي او کوټې ته ولاړ شي چې نابېره نادر او عثمان له کړليچه را ښکاره شول.

سبحان چې هرڅومره انتظار وکړ بل څوک راښکاره نه شول. د عثمان په وينو لړلو جامو په ليدو سره يې زړه ولويد، فکر يې وکړ چې مصطفی او د ګروپ نور غړي ټول وژل شوي. له ځانه سره يې وويل: مصطفی ورسره نشته، مصطفی يې پرې وژلی دی، زما زوی يې وواژه.

ويل مې چې اخير وژل کيږې، درته ويل مې چې دغه نادر به دې اخير په چا وژني. پوهيدم چې دغه نامرد به مې اخير بې زويه کړي. هغه دا وويل ټوپک يې ورو د هغوی په خوا واړاوه او نشان يې برابر کړ، هماغسې يې چې نادر په نښه کاوه، پرې يې ښودل چې هغوی د کوټې مخې ډګر ته را ورسيږي . کله چې هغوی ميدان ته راورسيدل د ټوپک ميل يې ښکته کړ دوه ګولۍ يې د هغوی پښو ته وويشتلې، پرې چيغه يې کړه:

- له ځايه و نه خوځيږئ!

نادر او عثمان ځای پر ځای ودريدل. غږ پيژندوی و. د سبحان غږ يې وپيژاند. نادر په ناباورۍ وويل:

خدايه ! دا نن څه ډول ورځ ده؟

د نادر مخې ته بلې ګولۍ د هغه له پښو سره واوره باد کړه او د ځمکې خټه يې د هغه پر بوټانو ور وشيندله.

- تر شونډو لاندې مه بونګيږه، ژر ووايه چې مصطفی چيرې دی؟

- مصطفی نيم ساعت وروسته رارسيږي په کوه شصت کې دی.

- دروا غ مه وايه نامرده! د عثمان په کاليو له وينو څخه مالوميږي چې پر تاسې څه تير شوي دي.

- سبحانه زړه مې ټوټې ټوټې دی. د خبرو توان نه لرم، پريږده چې کوټې ته ولاړ شم، په کراره به خبرې سره وکړو.

- زما وستا خبرې خلاصې دي، زه نور د ويلو لپاره څه نه لرم. که نر يې او غيرت لرې رښتيا ووايه. ووايه چې په مصطفی مو څه کړي دي؟

- سبحانه! په خدای قسم چې مصطفی ژوندی دی.

- نور چيرې دي؟

نادر بې حوصلې شو:

– سبحانه اجل دې راغلی چې زموږ لاره دې نيولې ده، پريږده چې کوټې ته ولاړ شو.

– د کره بين ميل ته ترڼلی يې او لاس مې پر ماشه دی. عزراييل ستا پر سر دی نه زما. ژر ووايه چې مصطفی چيرې دی؟

– سبحانه زړه مې له وينو ډک دی. نن مو کمين خطا شو زموږ پنځلس کسه يې را ووژل. خو مصطفی ژوندی دی او نيم ساعت وروسته به راشي.

– ټوپکونه مو واچوئ!

نادر هغې خواته وکتل چې د سبحان غږ راته، ورو يې عثمان وپوښت:

– ته هغه وينې؟

– يه، خو غږ يې د هغو دوو ډبرو له منځه راوځي.

– پرې ضربه يې کړه!

سبحان د هغوی له پُس‌پُسي پوه شو چې څه چل کوي. عثمان ته يې په ځير وکتل ويې ليدل چې د هغه لاس ماشيندار راپورته کوي. سبحان د هغه د ټنډې منځ په نښه کړ او پر ماشه يې ګوته ټينګه کړه. يو ځل بيا د کره بين وچ غږ په دره کې تاو شو او عثمان دوه متره ليرې وغورځيد نور يې حرکت ونه کړ. نادر عثمان ته وکتل د هغه لګيدلې تندي په ليدو سره يې زړه په لړزيدو شو. سبحان وغوريد:

– ټوپک دې واچوه او ته ورشه د خورډې سرته دې کينه!

نادر ورو خپل ټوپک له اوږې راښکته کړ تر څو يې چې غوښتل ټوپک ليرې وغورځوي د کره بين آواز بيا واوريدل شو او د نادر ورنونه وسوځيدل. هغه خپلو پښو ته وکتل وينو په بيړه د هغه پرتوګ رنګاوه او بوټونو ته تويېدلې. هغه په چټکۍ سره ټوپک ايسته وغورځاوه ويې غوښتل عثمان ته ورشي خو پښې يې ورسره مرسته نه کوله، پرځمکه ولويد سر يې په لمر وهلې لمده واوره کې ننوت. سبحان په داسې آواز چې دره يې لړزوله بيا وغوريد:

– ځه! وځکيږه ورشه!

نادر له واورې سر را وايست په داسې حال کې چې پر مخ يې واوره او خټې نښتې وې مخ راواړاوه او هغې ډبرې ته يې وکتل چې نادر يې شاته ناست و. سبحان هيڅ وخت نادر داسې خوار او کمزوری نه و ليدلی.

– ګوره مه، ولاړ شه!

نادر د واورې پر سر وشويېده ځان يې عثمان ته ور ورساوه بې له دې چې دهغه جسد ته وګوري، سريې راپورته کړ غوښتل يې په خټو ککړو سترګو د سبحان دقيق ځای معلوم کړي، خو هر څومره يې چې وکتل پيدا يې نه کړ. سبحان د کره بين جيجوری بدل کړ په داسې حال کې چې بيا يې نادر په نښه کاوه، وويل:

–هغلته کينه د خپل خورډې تندي ته ګوره تر څو چې مصطفی راځي.

نادر عثمان ته وکتل د هغه د ددو ورو‌ځو منځ سوری شوی و لړ وینې یې له ښی‌ خوا راوتلې او په سترګه څڅیدلې وې. نادر عثمان تر اوږو ونیو، د ځان په خوایې ورکش کړ او د هغه سر یې پخپل جوړ زنګون کیښود. د سر شاته یې لوی غار جوړ شوی و او لاتر اوسه ترې وینې بهیدې.

نادر په نهیلۍ وویل:

– سبحانه تا څه وکړل؟ تا زما خوریې وواژه، په ما هغه د ټولې دنیا په اندازه ګران و.

– ته ځناوره زما تر مخ د دوستي او ګرانښت خبرې مه کوه! زه تا پیژنم. پر تا هیڅ وخت ځوک ګران نه و او هیڅ وخت به هم درباندې ګران نه شي، که پر تا هغه ګران وای د هغه پر اوږو به دې ټوپک نه باراوه. ته پردې ښه پوهیږې ځوک چې ټوپک واخلي او بل ځوک ووژني اخر پخپله هم وژل کیږي. اوس هم هغه ستا له خاطره ووژل شو که تا ورته ویلي نه وای چې پر ما ډزې وکړې، ما هغه نه ویشت.

د نادر د زنګنو درد ځړیکې وکړې هغه یې بې تابه کړ، په عاجزۍ یې وویل:

– سبحانه زه او ته یو عمر سره یو ځای و، انډیوالان و د یو بل په غم او ښادي سره شریک و او اوس هم یو. ما خپله ګرانه لور نګاره ستا زوی مصطفی ته ورکړې وه. دهغې قبر د غره پر سر دی. هغه له هغه ځایه تاته ګوري. د هغې په خاطر او زموږ د ملګرتوب په خاطر له ما لاس واخله.

– ماته بابولالې مه وایه! زه تا ښه پیژنم او پوهیږم چې له لیوه سره د پسه لم خورې او له شپانه سره ژاړې. تا مکار ښه پیژنم او پوهیږم چې ولې دې خپله لور مصطفی ته ورکړې وه. غوښتل دې تر څو چې ژوندی وي ستا مزدور واوسي او له خپل ټوپک سره لکه د رمې سپی په تاپسې په منډو وي. زه تا ښه پیژنم او ښه پوهیږم هر کار چې کوې سل خواوې یې سنجوې.

– سبحانه ما پریږده چې کوټې ته ولاړ شم، خپله پښه وتړم، وینه یې ډیره ولاړه.

– تر څو چې مصطفی نه وي راغلی له خپله ځایه خوځیدای نه شې!

سبحان د ډبرې شاته ډبره شوی و د نادر زاریو هیڅ اغیز پرې نه کاوه. نادر له درده سره تاو شو او په زاریو یې له هغه وغوښتل چې پرې یې ږدي. خو سبحان لکه چې کوڼ وي د هغه سوې نارې او زارۍ یې نه اوریدلې. ساعت تیر شو د مصطفی پته ونه لګیده. وخت ورو‌ورو تیریده او نادر د ضعف په خوا روان و. سبحان له څو دقیقو وروسته وویل:

- که مصطفی په شصت غره کې وای اوس به دلته رسیدلی و. تا نامرده خاین هغه د مرګ لپاره بیولی و.

نادر غلی و او ورو‌ورو یې د مصطفی د راتلو هیله په نهیلۍ بدلیده. هغه مخامخ دووو ډبرو ته په دقت کتل ناځاپه یې په سبحان سترګې ولګیدې چې ټوپک یې د ډبرو په منځ کې ایښی پخپله بې حرکته دی. نادر د هغه په لیدو سترګې پټې کړې او له دې حالته د وتلو د چارې په فکر کې شو. د هغه فیر شوې مرمۍ یې وشمیرلې. سبحان پنځه ګولۍ ویشتلې وې په دې حساب د هغه کره بین اوس تش و. ناځاپه یې ټوپ کړ د عثمان پر ټوپک چې په دوه متري کې یې پروت و ور ولوید تر څو یې چې غوښتل ټوپک راپورته کړي، د سبحان د کره بین آواز بیا د درې چوپتیا ماته کړه او نادر په اړخ ولوید.

سبحان له ځايه راولاړ شو، پټو يې پر اوږو واچاوه تر شونډو لاندې يې وويل: په ژوند کې مې چې تر ټولو ښه کار کړی همدا و.

هغه په ارامۍ سره د غره له ډډې راښکته شو او د نادر او عثمان د مړو خواته ورغی. د نادر سترګې د ګردنې په لورې خلاصې پاتې وې، لکه چې سبحان ته وايي چې مصطفی راورسيد.

سبحان هماغسې چې ولاړ و د ګردنې سرته يې وکتل نابېره يې سترګې په مصطفی ولګيدې چې له ظاهر سره يو ځای د ګردنې سرته رسيدلی و. سبحان پخپل ټول قوت نارې کړې:

– مصطفی راشه چې هر څه پای ته ورسيدل، نادر مې وواژه، راځه را ښکته شه چې کورته ولاړ شو.

مصطفی او ظاهر ولاړ وو او له هغه پورته يې لاندې کتل دوه مړي چې واوره يې پخپلو وينو لړلې وه څنګ په څنګ سره پراته وو او سبحان له خپل کره بين سره د هغوی سرته ولاړ و ظاهر مصطفی ته وکتل وېې ويل:

– نادر او عثمان هم ستا پلار ووژل. نن زموږ د ګروپ بيخ ووت، ستا له پلاره هيڅ شک نشته چې ټوپک را برابر کړي او ما هم ووژني.

سبحان چې وليدل هغه دواړه ولاړ دي، ژغ يې پرې وکړ:

– مصطفی راځه چې کورته ځو کار خلاص دی، نور نادر مادر نشته چې زموږ مخه ونيسي.

– پلاره مادرته وويل چې کورته تلای نه شم، سل دښمنان لرم.

– ولم دې، مصطفی! ولم دې. ددې پر ځای چې د ډبرو په منځ کې ووژل شې يا بل مړ کړې ښه داده چې خپل کور ته ولاړ شې مور ته دې ورشې چې تاته سترګې په لاره ده.

– پلاره کور راته هره شيبه مرګ دی. که کورته ولاړ شم بايد هره شيبه مرګ ته سترګې په لاره واوسم. هره شيبه بايد د حکومتيانو راتلو ته منتظر واوسم. هردم شهيدېږم تر دې راته دا غر ښه دی. دلته چې څلور ورځې هم ژوندی يم تر هردم شهيدي راته ښه دی.

– مصطفی ما مه نااميده کوه! ټوپک مې لا په لاس کې دی. زوی مې و، نه و. تا هم لکه نادر او عثمان وژنم.

– چې ومې وژنې ښه ده تر دې چې ما کورته بوځې. ددغه ځای مرګ مې قبول دی، خلک به وايي پلار يې وواژه، په مردۍ ووژل شو، خو کورته تګ د تسليمي په معنا دی.

د سبحان زړه او لاسونه ولړزيدل زوی د ټوپک ايښودلو او کورته تللو لپاره زړه نه ښه کاوه ټولې هيلې يې په نهيلې بدلې شوې وې. د نادر او عثمان جسدونو ته يې وکتل: مړه و نور يې حرکت نه درلود نور يې د چا د وژلو لپاره لاس نه پورته کيده نور هيڅ مور او پلار ددوی له لاسه نه بې زويه کيدل نورې لارې او کړليچونه ددوی له شره پاکې شوې وې. نه يې غوښتل زوی يې د نادر په لاره ولاړ شي. نو که کورته نه ځي مرګ ورته ښه دی. مصطفی يې درې ورځې دمخه عاق کړی و ورته ويلي يې و چې نور کوم زوی نه لري. ورته ويلي يې و چې که کورته نه ځې عاق يې! ورته ويلي يې و چې ځه نور زه ستا پلار نه يم. ورځه منتظر شه چې مرګ څه وخت درپسې راځي، ځه د ګرمو ګوليو انتظار وکړه چې يوه ورځ دې بدن سوری سوری کړي. ورځه د مرګ په انتظار ورځې وشماره! هغه وختونه غوايي وخوړل

چې څوک به د چا په قاتل پسې نه ګرځیدل، اوس دې پیدا کوي. اوس چې تر ځمکه لاندې هم یې تا پیدا کوي او له تا خپل غچ اخلي. ورځه مرګ ته ستر ګې په لار اوسه او نور ماته پلار مه وایه!

نه، تر دې چې په ګردنه کې وژل کیږې، زما په لاس دې مرګ زر ځله ښه دی. خپله دې وژنم او ځان درڅخه اسوده کوم. سبحان ټوپک راپورته کړ ستر ګې جري ته برابرې کړې. خو د هغوی پته نه وه، هرڅومره یې چې وکتل څوک یې ونه لیدل، په نهیلۍ یې غږ کړ:

– نامرده څه شوې؟

مصطفی او ظاهر ځانونه د د ګردنې د ډبرو شاته پټ کړي و سبحان ته منتظر و چې که یې د وژلو په فکر کې وي چې همداسې شاته له هغې لارې چې راغلي و وګرځي.

د درې چوپتیا یو ځل بیا د سبحان آواز ماته کړه:

– ورځه! عاق مې کړې، ورځه تر څو چې ووژل شې! ستا په مرګ به هیڅ اوښکې توېې نه کړم. زه نور زوی نه لرم.

مصطفی د ډبرې له شا غږ وکړ:

– ورځه پلاره نازنینه هم درسره بوځه! زما یوازینۍ هیله داده چې هغه خپلې کورنۍ ته ورسیږي. ورشه ګنبدې ته او زما آس زین کړه ورځه نور زما غم مه کوه!

– نور ستا غم نه کوم، نور زوی نه لرم چې غم یې وخورم.

– پلاره، دوندر هیڅ وخت بې لیوانو نه و، ددغه غره لیوان ټول بې موره او بې پلاره دي.

سبحان د مصطفی ددې خبرې په اوریدو سره په چټکو ګامونو د ګردنې په لوري منډه کړه.

مصطفی او ظاهر چې ولیدل سبحان د هغوی په خوا منډې وهي، په یوه ټوپ سره یې ځانونه د ګردنې هغې خواته واچول او په داسې حال کې چې له کړلیچه تاویدل، مصطفی بیا پرې غږ وکړ:

– ورځه پلاره! له یاده دې ونه وځي نازنینه ښار ته بوځه، کور یې په مهتاب واټ کې دی.

سبحان څو شیبې وروسته په ستړې ساه د ګردنې سرته ورسید، د درې ډبرو ته یې هرڅومره چې وکتل څوک یې ونه لیدل. مصطفی او ظاهر تري تم شوي وو.

پای